منبع الجهاد

علمي ،جهادي ،سياسي خپرونه

دحکومت دټاکنې لپاره چې هره شورا جوړيږي په هغې کې بايد دتنظيمو نو پرځاي داهليت رعايت وشي
الحاج حقاني

• دقائد په قافله کې

• کابل داقتدار دوزلوبې خونړۍ لوبغالی •

په خوست کې

دپوهنتون تاسيسدل

(Vahdat)
A. R. B. O.

• امکان انتخابات ازاد وحقيقي درافغانستان

الهي لارښوونې

الله تعالى فرمايي :

څوك چې يو مؤمن له پوهې اوادراك سره سره ووژني نودهغه سزا دوزخ وي چې په هغه كې به دتل لپاره استوګن وي ، پر هغه باندى دالله (ج) غضب اولعنت دى اوالله (ج) دهغه لپاره سخت عذاب تيارکړيدى .

(النسأ - ٩٣)

منبع الجهاد

علمي ، جهادي ، سیاسي خپرونه

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین «حقاني»

دتأسیس کال : ۱۳۶۸ هـ ش ، ۱۴۰۹هـ ق

څلورم کال ، لومړي ګڼه د۱۳۷۱ هـ ش کال وري - تله ، د۱۹۹۲ م کال سپتمبر - اکتوبر د۱۴۱۳ هـ ق ربیع الاول - ربیع الثاني

دهیئت تحریر تر نظر لاندی

په دی ګڼه کی

شمیر	عنوان	مخ

۱:- سرمقاله (۲)

۲:- امکان انتخابات ازاد وحقیقي در ... ( )

۳:- دحکومت دټاکني لپاره چي هره ... ( )

٤:- کابل داقتدار دوزلوبي خونړي ... ( )

۵:- پیدایش وتکامل پول ... ( )

٦:- په کابل کي دشولي دهلو ځلو ... ( )

۷:- اسلامي صحافت ... ( )

۸:- دقائد په قافله کي ... ( )

۹:- تکل ... ( )

۱۰:شعر اوادب ... ( )

۱۱:- لنډه کیسه ... ( )

۱۲:- په حاځیو کي دسرحدي تهانو ... ( )

۱۳:- ابدي ژوندي ...

مکاتباتي پته

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳) یونیورسټي

ټاون - پیښور

دټیلفون نمبر :(۸۲۰) میرانشاه

بانکي پته

حبیب بانک ، کنټ برانچ صدر روډ ځانګه

دحساب نمبر : ۲۰۵۵۹

پیښور - پاکستان

کمپوزر: احمدضیاء «ذهین بابري»

بسم الله الرحمن الرحيم

منبع الجهاد

يووالي دحالاتو غوښتنه

کابل اوس هم دخونړيو جگړو دانتظار شيبې تيروي هره لحظه ددې ويره ده چې ټانکونه وغورېږي ، گولۍ وورېږي ، چيغې اوځگيروى پورته شي ، هرى خوامړي پرپوځي او داورلمبې ژبغړانده شي دواړو خواوو پرماشو گوتي ايښې مورچو کې پراته دي اوديوه بل حرکات څاري که څه هم چې دمصلحو قوتونو منځى رامنځى جريان لرى خوديوى مثبتې نتيجې دانتظار په اوږديدو سره داسې ښکاري چې يوهم حاضر نه دى چې مقابل لورى دځان ترڅنگ اوپرځان برلاسى وگورى اوداهغه څه دى چې داديارلس کاله يى دخپل منځي جگړو اورژبغړانده کړي ، که دجهاد ديارلس کلن بهير ته ځير شو تل زموږ ملت داغوښتنه په چار چار تکرار کړې چې که مجاهدين په خپلو منځو کې سره يو ځاى شي دکابل دگوډاگي رژيم دنسکوريدو اوداسلامي حکومت دجوړيدو لار به خپله کړي خودملت دى غوښتني ته ترننه دعمل جامه وروانه غوستل شوه تل هريوه په جلا، جلا توگه د قدرت دلاس ته راوړو اودمقابل لورى دضعيفيدو هڅې اوفعاليتونه کړې خو کله چې دکمونيزم دړنگيدو روسيي دټوټه کيدو اوگوډاگي رژيم ديواځي پاتي کيدو غږ واوريدل شو هريوه خپلى داهڅې لا گړندى کړي اوداسى فعاليتونه يى پيل کړل چې په گوډاگى رژيم کې مطرح قوتونه دځان ترڅنگ ودروى اوله هغوى څخه دځان په گټه استفاده وکړى ددى حرکاتو په پيل کيدو سره دجرياناتو دنه طبيعي پرمختگ مسله لارسوا شوه اوددى ويره

لازیاته شوه چی سپایی داسلامی حکومت دجوړیدو په لاره کی پرتی ستونزی لاکړکیچنی شی ، استعمار دهمدی یو ځای کیدو له لاری دمجاهدینو تر منځ فاصله لازیاته کړی اودهمدی لاری مجاهدین داسی بدنام کړی چی دخلکو ترسوال لاندی راشی خوبدبختانه نن حالات داسی پرمخ را روان دی چی سپکاری داستعمار دابرنامه دعمل جامه‌واغوندی که لږ ځیر شو گورو چی جنایتکاره کمونستان په یوه بل نامه له محاکمی وژغورل شول اوزموږ مشرانو پریوه بل دنه اطمینان له وجی دهغوی ځنی جنایتکار قوتونه په غیږ کی نیولی ، هرلوری دی ته حاضر دی چی دمقابل لوری دضعیفیدو په خاطر له جنایتکارو استفاده وکړی خودی ته نه دی چمتو چی خپل وروړته په پوره اخلاص داسلامی حکومت دجوړیدو په لار کی دمرستی لاس ورکړی او جنایتکاران محاکمی ته راوباسی همدا علت دی چی نن جنایتکاره کمونستان دمحاکمی پرځای ازاد ژوند کوی اوهر مجلس کی نعری وهی چی موږ خو ویل چی دوی داقتدار لپاره جنګیږی .

که خدای مکړه حالت په اوسنی بڼه پرمخ لاړشی زموږ اتل ملت به دهیری بدی راتلونکی سره مخامخ شی نه به دپنځلس لکه شهیدانو دوینو ثمره لاس ته راشی اونه به په افغانستان کی دکراره ژوند ورځی، شپی سبا کړو که هریو فکرکوی چی دبل لوری په ضعیفیدو به یی بریالیتوب په برخی شی تیروتی دی که هر لوری ضعیفیږی په حقیقت کی دبل لوری مټ غوځیږی .

حالات اودمجاهد ملت غوښتنه خواوس هم داده چی مجاهدین باید یو بل ته دورورۍ لاسونه ورکړی ترڅوله دی لاری داستعمار توطیی خنثی کړی کنه نو داستعمار پروگرام دادی چی غواړی مجاهدین په خپلو منځو کی وجنگوی ، اوددوی تر منځ خپل منځی اختلافات دومره شدید کړي چی دمجاهدینو دبدنامی سبب شی اودقهرمانی او اتلولی ویاړیی په بل څه بدل کړی مجاهدین اوخاصتاً رهبران باید دهوښیاری ، اخلاص او صداقت مظاهره وکړی ، دخپلو شخصی گټو او خودخواهیو تیرشی په ریښتنی توگه یو بل ته لاسونه ورکړی ترڅو دملت داسلامی حکومت دجوړیدو ارمان ترسره شی .

امکان انتخابات آزاد وحقيقي در افغانستان

عبدالوكيل

تبصره سياسي

انتخابات داراي تاريخ طولاني درجوامع بشري ميباشد ازيونان باستان تاامروز اشكال متنوع انتخابات براي دولت ودولت داري به ظهور رسيده است لاكن در بسياري آنها به اين ويا آن شكل از جعل كاري ، زور وفريب كارگرفته شده، انتخابات موسوم به شيوهٔ غربي كه بعضي ها آنرا مردمي ترين وآزاد ترين شكل انتخابات ميدانند جعل كاري هاي مانند « واترگيت » درايالات متحده امريكا به مشاهده رسيده است واكثريت حكام جهان براي قانوني ساختن تسلط خويش وفريب دادن به مردم صحنه سازي هاي راتحت نام انتخابات كه درآن به اصطلاح راي مردم خواسته شده ترتيب داده وبراي حفظ قدرت شان وسيله خوب به شمار امده.

درافغانستان نيز اشكال مختلف انتخابات به مشاهده رسيده اند ودرتاريخ نوين افغانستان يعني اززمان به قدرت رسيدن ميرويس خان هوتكي به اين سو تشكيل جرگه ها عموميت يافته است دراواخر سلطنت محمدظاهرشاه نيز اعضاي ولسي جرگه وبعضي نمايندگان مشرانو جرگه ازطرف مردم انتخاب مي شدند اما به اين دومجلس نيز اكثراً اشخاص انتخاب مي شدند كه داراي قدرت مالي نسبتاً بيشتر وبه خاندان شاهي مخالفت نداشتند ودراكثريت موارد از زور،جعل وصحنه سازي ها كارگرفته شده كه درواقعيت امرمجالس مذكور به تسلط شاه درامور دولتي كدام ممانعت اساسي راايجاد نمي نمود.

درزمان قدرت محمد داؤد باوجود آنكه اكثريت مردم افغانستان به قدرت وي موافق بودند ولي لويه جرگه ايكه بخاطر انتخاب رئيس جمهور ويك سلسله امور ديگر دولتي تشكيل گرديد انتصابي بود .

تره كي وامين به جرگه هاوانتخابات قطع علاقه نمودند وحزب دموكراتيك خلق راكه پيروايديالوژي كمونستي بود حاكم بي چون وچراي مردم مسلمان افغانستان خواندند درحاليكه بعد از مداخله نظامي روسها درافغانستان كه كارمل ونجيب رابه قدرت رساندند صحنه سازي هاي را زير نام هاي لويه جرگه جرگه هاي اقوام وقبايل وساير صحنه هاي دراماتيك كه آنها رانام انتخابات دادند روي دست گرفتند وبه اين ترتيب به جرگه هاانتخابات آزاد ودموكراسي لطمهٔ شديد وارد نمودند ، درحال حاضر كه رژيم دست نشانده روس سرنگون گرديده است بازهم براي بدست

بعد از بوجود اوردن دولت واحد مرکزي نیرومند متیوان این ویا ان شکل انتخابات رابه مردم مسلمان ورنجدیده افغانستان پیشنهاد نمود ولي این نکته رانباید فراموش کرد که هرگاه شکل انتخابات بالاي مردم غیور افغانستان تحمیل گردد واکثریت مردم مسلمان افغانستان از ان پشتیباني بعمل نیاورند براي مردم مابیگانه ومردود است .

گرفتن قدرت سیاسي ازجبر وزور استفاده میشود وگاهي ازین وآن سو صداهاي انتخابات بلند مي شوند اما مطلب عمده این است که ایا درحال حاضر امکان انتخابات آزاد وواقعي ممکن است ؟

مرحلهُ کنوني نیز درافغانستان ازجمله تراژیدي ترین غم انگیز ترین وبي ثبات ترین مراحل به شمار مي اید که دراین حالت بحراني حرف زدن ازانتخابات آزاد وهمه گاني که تمام مردم مسلمان افغانستان دران به طور آزادانه اشتراك نمایند جزبهانه براي تصاحب قدرت سیاسي وفریب دادن به مردم مسلمان افغان چیزي دیگرنخواهد بود اکنون درمقابل انتخابات آزاد وحقیقي که درآن همه مردم مسلمان افغانستان اشتراك مستقیم وفعالانه نمایند موانع ودشواري هاي بي شمار وجود دارند از ان جمله میتوان پرابلم هاي ذیل رایاد اور شد:

۱- عدم موجودیت دولت مرکزي نیرومند.

۲- ادامه جنگ .

۳- عدم برگشت همه مهاجرین افغان به وطن خویش.

٤- مسلح شدن مردم افغانستان که دراین مورد بالخصوص مردمان قابل اهمیت بیشتر میباشند که قبل ازکودتاي هفت ثور ۱۳۵۷هـش درشهرها ومناطق زیست مي کردند که تحت تسلط نسبتاً بیشتر دولت سربااقتدار بودند وبه سلاح گرم چندان اشنایي نداشتند ودرحال حاضر درمناطق مربوطه خویش انارشي وبي امنیتي بي مانند رابوجود اورده است .

٥- موجودیت نیروهاي مسلح درچوکات تنظیمها .

٦- عدم اشنایي لازم مردم افغانستان به انتخابات آزاد وحقیقي .

۷- بعضي هاانتخابات رانمي پذیرند ، عده به این شکل وتعداد به آن شکل خواهان انتخابات هستند پس چه باید کرد ؟

درحال حاضر ضرور ومعقول به نظر مي رسد که بخاطر قطع جنگ وخونریزي ، وبوجود اوردن فضاً صلح امیزوامنیت درکشور، برقراري نظام اسلام ومصالح ملي افغانستان همه تنظیم هاي جهادي، قوماندانان جهادي ، علما وروحانیون ، سران اقوام وقبایل ، شخصیت هاي سیاسي ومجرب ایکه ضد استعمار روس ورژیم دست نشانده آن بودند دولت واحدمرکزي رابوجود بیاورند که مغایر اساسات دین مبین اسلام نباشد وبتواند توده هاي ملیوني مسلمان افغانستان رابه نور خویش جمع نماید ، صلح وامنیت راتامین کند وشرایط مناسب رابراي انتخابات مهیا گردد بعد از ان میتوان این ویا ان شکل انتخابات رابه مردم مسلمان ورنجدیده افغانستان پیشنهاد نمود ولي این نکته رانباید فراموش کرد که هرگاه شکل انتخابات بالاي مردم غیور افغانستان تحمیل گردد واکثریت مردم مسلمان افغانستان از ان پشتیباني بعمل نیاورند براي مردم مابیگانه ومردود است .

الحاج مولوي جلال الدين حقاني دمنبع الجهاد سره په مرکه کي :

دحکومت دټاکنی لپاره چی هره شورا جوړيږي په هغی کی باید دتنظیمونو پرځای داهلیت رعایت وشی

پوښتنه :
محترم مولوی صاحب هیله ده دجګړی ددایمی ختمیدو اودسولی دټینګښت په لار کی ستاسی په مشری دسولی دکمیسون دفعالیتونو په پیل ، بهیر اوانجام باندی رڼاواچوی؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحيم ، نحمده ونصلی علی رسوله الکریم !

تاسی ته معلومه ده چی په روان کال کی دمسعود اوحکمتیار ترمنځ دوه ځله جګړه پیښه شوه چی په دی اساس سولی ته ضرورت پیداشو ، په اوله مرحله کی چی کمونست رژیم په ړنګیدو شو اودکابل شاوخوا لوی لوی ښارونه فتحه شول او دنجیب درژیم دمشرانو څخه دالار ورکه وه چی په داسی حال کی چی دروس امپراطوری ړنګه شوه اودروسانو له خوا دکومک لاربنده شوه موږ څه وکړو ؟ هماغه ؤ چی ځینی یی دتیښتی په فکر شول اوځینو خودکشی وکړه اوځینو یی لادمخه دروسانو په دستور دمجاهدینو په ځینو تنظیمونو کی ځانونه تنظیم کړی وو ترڅو دضرورت په وخت کی ددی ارتباطاتو څخه فایده واخلی اوپه افغانستان کی پاتی شی مخکی تردی داسی اوازی وی چی ځینو دمسعود سره ارتباط پیدا کړی اوکومک ورسره کوی اوځینی یی د دحکمتیار سره تنظیم شوی دی اوداسی یی ښکاره کوله چی موږ ددولت په چوکاټ کی دتنظیمونو سره مرسته کوو اودضرورت په وخت کی دسولی اویا جګړی له لاری قدرت همدغه تنظیمونو ته تسلیموو کله چی دتنی کودتا وشوه نودغه اوازی څه ناڅه تصدیق شوی اوکله چی دکابل رژیم په ړنګیدو شو ځینو کمونستانو دمسعود سره ارتباط ونیو اوداسی یی وښوده چی موږ خودپخوانی ارتباط له مخی مسلمانان یو اواوس چی داحکومت دبل چاپه لاس کی لویږی نو موږ غواړو چی تاته یی وسپارو اودده سره یی ړنده ، ګوده معاهده هم وکړه دنجیب رژیم دنسکوریدو په وخت دډیرو شواهدو له لاری ثابته شویده ، هغه کمونستان چی پرچم په ګوند کی وو اودکارمل طرفداران اودفارسی ژبی ویونکی وو هغوی مسعود ته داسی ښکاره کړه چی موږ تاته قدرت سپارو اودحکومت په تسلیمولو کی درسره همکاری کوواویوی ډلی کمونستانو دپخوانی ارتباطاتو په اساس دحکمتیار صاحب سره ارتباطات ټینګ کړل اوداسی یی ورته وښوده چی اوس قدرت دفارسی ژبو لاس ته ورځی نو موږ غواړو چی قدرت تاسی ته وسپارو چی دوی شرایط کټ مټ دپرچمیانو په شان وو هغه وو چی دواړو کابل خواته حرکت اوتهدید پیل کړ خو مخلصو خلکو چی له خانه جنګی څخه ویریدل ورته نصیحتونه شروع کړل او ورته ویی وویل چی اوس په ښار حمله مه کوی کمونستانو چی دا ولیدل چی مجاهدین دجلال اباد ، میدان ښار

، لوگر او پکتیا څخه فارغ شول او اوس حتمی دکابل په لور حرکت کوی نو مجاهدینو ته یی پیغامونه ولیږل چی موږ قدرت درته سپارو خو تاسی یو څوك راولیږی او جگړه مه کوی ځکه جگړه کی گټه نه شته نو موږ هم په رهبرانو زور واچاوه ترڅو یوی نتیجی ته ورسیږی او قدرت دکمونستانو څخه دمجاهدینو یوی واحدی اداری ته وسپارل شی .
دبل لوری مودمسعود سره تماس ونیوه ، هغه په پروان ولایت کی چی کمونستانو ورته تسلیم کړی و موجود ؤ ، هغه داخبره ومنله چی په کابل به حمله نه کوی بیا په حکمتیار پسی وگرځیدو هغه مو پیدا نه کړ بیا مو مسعود ته پیشنهاد وکړ چی حکمتیار دمخابری له لاری قانع کړی دیوه ساعت مخابروی تماس وروسته حکمتیار قناعت ونکړ په سبا یی دکمونستانو خارجه وزیر عبدالوکیل په هلیکوپتر کی پروان ته لاړ اودمسعود سره یی ولیدل او جنرال رفیع چی دصدارت معاون او کفیل ؤ هغه لوگر ولایت ته حکمتیار ته راغی او ورته یی وویل چی بغیر دجگړی موږ قدرت پریږدو وطنجار اودده ملگرو څه مکتوبونه پکتیا ته لیږلی وو منصور صاحب' موږ ته او ځینی نورو سره ارتباطات نیولی ؤ او ویلی یی چی ځنی لوړ پوستونه زموږ لاس کی دی تاسی بی وسلی

وطنجار اودده ملگرو څه مکتوبونه پکتیا ته لیږلي وو منصور صاحب موږ ته او ځيني نورو سره ارتباطات نیولي ؤ او ویلي یي چي ځني لوړ پوستونه زموږ لاس کي دي تاسي بي وسلي مجاهدین ښارته راولیږي موږ به یي په وسلي سمبال کړو اودحکومت په نیولو کي به مرسته ورسره وکړو خو موږ رد ځواب ورکړ ځکه هغو غوښتل زموږ سره په یو ځاي کیدو ځانونه بي وزلي او زموږ غم خوار ثابت کړي اوهم داکار دخانه جنگي سبب گرځیده.

مجاهدین ښارته راولیږی موږ به یی په وسلی سمبال کړو اودحکومت په نیولو کی به مرسته ورسره وکړو خو موږ رد ځواب ورکړ ځکه هغو غوښتل زموږ سره په یو ځای کیدو ځانونه بی وزلی او زموږ غم خوار ثابت کړی اوهم داکار دخانه جنگی سبب گرځیده ولی حکمتیار صاحب چی دپخواڅخه پر کابل باندی دجگړی تیاری نیولی ؤ ، جگړه پیل کړه مخکی تردی چی دحضرت صاحب په مشری پیښور کی جوړه شوی اداره کابل ته داخل شی اودکمونستانو څخه قدرت انتقال کړی جگړه پیل شوه په دی وخت کی مسعود وویل که حکمتیار جنگ کوی نو زه هم دهری ممکنی وسیلی اودگلم جم ملیشو څخه دښار په دفاع کی گټه اخلم ځکه چی یوازی زما مجاهدین دښار څخه دفاع نه شی کولی هغه ؤ چی ددواړو تر منځ بیرحمانه جنگ واقع شو چی دښار دپاره تباهی وه بیا موږ دلوگر ، پکتیا ، پکتیکا ، اووردگو ، ولایتونو عالمان او قوماندانان چی تعداد ۵۰ تنو ته رسیده له دوی سره تماس ونیوه او داور بند غوښتنه مو وکړه بیا موږ سره دشرقی ولایتونو مجاهدین ، دقندهار او شمالی ولایتونو او هم دکابل قوماندانان او عالمان ملگری شول اودجنگ دواړو خواوو څخه مو اختیار واخیست ، همدا راز مو دقیادی شورا او جهادی شورا څخه چی مشریی مجددی صاحب و واك واخیست دوی راته ولیکل چی دسولی هیئت هره فیصله وکړی موږ به یی تطبیقوو او موږ ته به دقبول وړ وی ددی وروسته مسعود او حکمتیار دخپلو شرطونو دوړاندی کولو سره دسولی هیئت ته اختیار ورکړ بیا موږ تقریباً د ۳۰۰ قوماندانانو څخه ۳۶ تنه وټاکل ترڅو دسولی دپاره یوه مسوده جوړه کړی کله چی مسوده جوړه او ولوستل شوه ټولو قوماندانانو په اتفاق سره لاسلیك کړه بیا مو

دمسودی شرایط مسعود ته بیان کړل هغه موافقه وکړه دقیادی شورا او حکمتیار څخه مو هم موافقه ترلاسه کړه چی دا اسناد ټول موږ سره موجود دی ددی ټولو په موافقه مو یو مطبوعاتی کنفرانس جوړ کړ ترڅو خلکو ته اعلان شی ولی داعلان دمخه دمسعود یو پیغام راورسید او غوښتنه یی کړی وه چی دسولی دمسودی مواد دی خلکو ته نه اعلانیږی ، ولی وخت تیر ؤ موږ ورته وویل مطبوعاتی کنفرانس به خامخا دایریږی اوچی ورڅخه ومو پوښتل چی ددی خبری منشا څه ده نو مسعود وویل چی دشمال ملیشی دملیشو په نوم مه یادوی بلکی داسی وایی چی جګړه کوونکی قوتونه بیا موږ پری ومنله چی پر مقصد باندی موافق وی عبارات چی هرڅه وی کله چی مطبوعاتی کنفرانس جوړ شو نو مسعود په ښکاره رد نه کړ ولی موږ چی درادیو تلویزیون کار کوونکی راوغوښتل ، هغوی یی منع کړل زموږ فیصله رادیو ګانو اعلان کړه ولی دکابل رادیو تلویزیون اعلان نه کړه دمطبوعاتی کنفرانس وروسته مو دمسعود سره وکتل اوداطمینان ورکولو وروسته مو ورته وویل چی ۸۰ مه فرقه ، ۵۳ مه فرقه ، او ۷۰ مه لوا به دکابل ښار پریږدی اوددفاع وزارت نور قوتونه به ټول ځای پر ځای وی هغه ومنل ولی ددی موافقی

داعلان دمخه دمسعود یو پیغام راورسید او غوښتنه یي کړي وه چي دسولي دمسودي مواد دي خلکو ته نه اعلانیږي ، ولي وخت تیر ؤ موږ ورته وویل مطبوعاتي کنفرانس به خامخا دایریږي اوچي ورڅخه ومو پوښتل چي ددي خبري منشا څه ده نو مسعود وویل چي دشمال ملیشي دملیشو په نوم مه یادوي بلکي داسي وایي چي جګړه کوونکي قوتونه بیا موږ پري ومنله چي پر مقصد باندي موافق وي عبارات چي هرڅه وي کله چي مطبوعاتي کنفرانس جوړ شو نو مسعود په ښکاره رد نه کړ ولي موږ چي درادیو تلویزیون کار کوونکي راوغوښتل ، هغوي یي منع کړل

وروسته مسعود دحکمتیار سره وکتل چی ددی کتنی څخه یی مطلب زموږ دفیصلی دمنځه وړل اویا بی اهمیته کول وو په هر صورت ددوی ترمنځ جنرال حمید ګل ، اعجازالحق اویو عرب ناست وو ددغو دری تنو څخه موږ غوښتنه وکړه چی تاسی دافغانانو په دود او دستور نه پوهیږی تاسی ددوی تر منځ فیصله مه کوی ځکه داکار به زموږ دفیصلی ارزښت کم کړی اوبل داچی دوی به تاسی سره دصداقت او اخلاص پرځای دوکه وکړی او فیصله به مو عملی نه شی ولی زموږ په فیصله کی تضمین شته ، فشار پری راوړی شو موږ ددوی پر عنعناتو پوهیږو خو ددی ټولو خبرو سره سره دوی ددواړو خواوو تر منځ فیصله وکړه چی دفیصلی ځنی مواد زموږ دفیصلی پرضد وو ، ددی دواړو فیصلو څخه یی یوه هم تطبیق نه شوه .

دهلو ځلو وروسته حکمتیار دسولی دتطبیق په خاطر خپل کسان رامعرفی کړل ولی مسعودتاخیر وکړ اوداتاخیر وروسته یی خپل کسان رامعرفی کړل خودی کسانو عمل نه کاوه په دی جریان کی دحزب وحدت اواتحاد اسلامی تر منځ جنګ پیښ شو ددی جنګ وروسته زه دحج ادا کولو دپاره ولاړم دحج وروسته می خپلو ورونو او ملګرو ته چی دسولی دهیئت غړی وو وظیفه ورکړی وه چی دجنګ دمخنیوی زیار وکاږی ولی ددوی دهلو ځلو سره سره دوهم جنګ پیښ شو چی زه په دغه وخت کی حاضر نه وم ددی جنګ وروسته چی دننګرهار مجاهدینو دسولی کوم پروګرام پرمخ بیولی دی دهغوی ټولی فیصلی زموږ فیصلو ته ورته دی او پوره تطبیق شوی نه دی خو ددی امید شته چی ربانی صاحب او مسعود داملیشیان دښار څخه وباسی او موږ اوریدلی دی چی اکثر یی خلع سلاح کړی دی او دښارڅخه یی ایستلی دی او ډیر کم پاتی دی او امید دی چی داهم وباسی او که دا کار یی ونکړ بیا هم موږ دحکمتیار صاحب څخه

غوښتنه کوو چی جنګ ونکړی دجنګ پر ځای باید دمجاهدینو څخه یوه مقتدره شورا جوړه شی ترڅو حکومت جوړ کړی او دملحد حکومت بقایاوی هم له منځه یوسی.

پوښتنه :

محترم مولوی صاحب ستاسی په نظر دیوی مرکزی قوی اداری او نظام دپاره چی سوله او امنیت په افغانستان کی ټینګ کړای شی څه کول پکار دی ؟

ځواب : زما په خیال چی اوس کوم ۱۸ کسیز کمیسون ټاکل شوی دایو ناکام کمیسون دی دا کمیسون په ټولو ولایتو کی ټولو قوماندانانو ته دمنلو وړ نه دی که وی هم او خلك راجمع کړی ، چی کومی فیصلی وکړی دفیصلو دتطبیق قوت نه لری نو دا کمیسون باید وسیع شی او دتنظیم پرځای ولایتونه په نظر کی ونیول شی دهر ولایت څخه دوه برجسته قوماندانان یو عالم او یو قومی مشر چی دجهاد ضد نه وی واقع شوی را وغواړی چی تعداد ۱۲۰ یا ۱۳۰ تنو ته رسیږی دغه کمیسون دی تزکیه ، انتخاب او مجلس شورا وګرځی بیادی دایو فارمول او اصول جوړ کړی اوداصولو مطابق دولسوالیو څخه دوه تنه دعلاقه داریو څخه یو تن راجمع کړی چی ذکر شوی اشخاص به عالمان ، قوماندانان اویا قومی مشران وی اویا دی کمیسون ۱۲۰ تنه دخپلو ولایتونو دجهادی شورا ګانو دنفوسو په حساب نفر کابل یا دکابل شاوخوا ته راولیږی اوددی ټولو څخه دی بیا ۲۰۰ تنه انتخاب شی چی دغه ۲۰۰ تنه به دپارلمان غړی وی اوبیا دی ددغه کمیسون تر مراقبت لاندی ازاد انتخابات وشی اودولت رئیس دی منتخب شی اودپارلمان دوره دی درئیس دولت دوری سره برابره وی ترڅو په دی اساس ټول خلك دخپلو حقوقو څخه ګټه واخلی .

پوښتنه :دلویی جرګی خبره هم نن یوه جنجالی مسله ده او نن سبا هر ځای کی مطرح کیږی هیله ده په دی باره کی یوڅه رڼا واچوی ؟

ځواب : اصل خبره داده چی دلویی جرګی دنوم څخه ځینی خلك بده استفاده کوی هغه داچی غواړی خلکو ته خوږو کی زهر ورکړی که دلویی جرګی مطلب داوی چی هغه کسان ګډون وکړی چی دا ۱٤ کاله دملحد حکومت په حمایت کی پاتی شوی وی اویا دکمونست دولت په مقابل کی بی تفاوته پاتی شوی دی یا هغه کسان چی هجرت یی کړی ولی جهاد یی نه دی کړی او هغه کسان چی اروپا ته تللی دی او جهاد یی نه دی کړی بلکی دجهاد پرضد یی عمل کړی دی نودغسی لویه جرګه یوه خارجی مداخله ده اودا خلك نه غواړی په افغانستان کی اسلامی حکومت جوړ شی زما په نظر دداسی جرګی قوماندانان ، عالمان او ټول مسلمانان مخالف دی او که دلویی جرګی مطلب داوی چی دتنظیمونو رعایت په کی نه وی شوی او داهلیت رعایت شوی وی او داسی کسان په کی راشی چی مسلمانان وی او جهاد یی کړی و او دا کسان دټولو قومونو ټولو تنظیمونو او ټولو ولایتونو څخه وی نو دی ته دحل وعقد شورا اوداهل رایو شورا ویل کیږی او څوك چی دحل وعقد اصطلاح خارجی اصطلاح ګڼی منافق دی ځکه چی دغه اصطلاح دقران کریم او حدیثو اصطلاح ده نولویه جرګه که په دی معنا وی هیح اختلاف په کی نشته .

پوښتنه :

محترم مولوی صاحب موږ خبر شوی یو چی تاسی په خوست کی دیوه پوهنتون تهداب ایښی دی ددغه پوهنتون کار څومره پرمخ تللی دی او نورڅه پروګرامونه ورته لری ؟

ځواب :

کله چی خوست فتحه شو هلته یوه تش په نوم دینی مدرسه وه چی ملحد حکومت دنجونو دپاره جوړه کړی وه په دغه مدرسه کی دصاحب منصبانو لوڼی شاملی وی او ددینی زده کړی پرځای دفحشا مرکز ګرځیدلی و نو موږ دغه مدرسه دطالبانو دپاره ددرس وړ وبلله چی اوس په کی زیات طالبان په درس بوخت دی دوه دری مدرسی نوری هم تاسیس شوی دی دیوی

متوسطی په جوړولو هم کار روان
دی چی په دی متوسطه کی به
ددینی علوموترڅنګ عصری
مضامین هم تدریس کیږی او کومه
چی تاسی پوښتنه کړی پوهنتون
اویا جامعه چی ورته وایی نو دا
دسعودی عربستان له خوا
دافغانستان دبیا ودانولو په پروګرام
کی دپکتیا ولایت دپاره منظوره
شوی ده او ددی جامعی دجوړولو
اختیار ماته راکول شوی دی موږ
دښه فکر کولو وروسته ددی جامعی
جوړولو دپاره خوست کی مته چینه
انتخاب کړه چی دغه ځای دولتی
ځای دی او تقریباً ۴۰۰ جریبه
ځمکه ده ، دوه داوبو ژوری ځاګانی
لری او هم دسرك په غاړه موقعیت
لری داپوهنتون به ډیر وسیع وی په
دی کی به دشرعیاتو ، دینی
علومو ، طب انجنیری ، اجتماعی
علومو او [illegible] پوهنځی شامل به وی انشاالله
له افغانستان علاوه داسلامی نړۍ
محصلین هم زده کړه کوی ، ددی
پوهنتون لپاره به څو مارکیټونه
دوکانونه ، باغونه او دضرورت وړ
شیان جوړیږی ترڅو ورو ورو
پرخپلو پښو ودریږی ، که څه هم
چی اوس دمواد دراوړلو له وجی څه
مشکلات پیدا شوی خو امید دی
چی زر حل شی او دجوړولو کار یی
پیل شی .

پوښتنه :
محترم مولوی صاحب تاسی څه
موده په عربو کی تیره کړه
دافغانستان دروانوحالاتو په ارتباط
عرب څه عکس العمل لری او په
دی باب ددوی نظر څنګه دی ؟

ځواب : زما سفر دحج دپاره ؤ
دحج ادا کولو وروسته ما دا فکر نه
کاوه چی کابل کی به ددوهم ځل
دپاره جنګ وشی ځکه داول جنګ
څخه خلك ډیر پښیمانه وو ددی
جنګونو په واسطه دعربو اذهان ډیر
خراب شوی ؤ نو ماچی په
افغانستان کی کومه رسمی وظیفه
نه درلوده دا می بهتره وګڼله چی
دلته دخلکو اذهان روښانه کړم ددی
کار دپاره می مختلفو ځایونو ته
دوری وکړی او تبلیغات می وکړل
ترڅو عرب دافغانستان دبیا
ودانولو په کار کی مرسته وکړی
ځکه کله چی افغانان مهاجر شول
نو ددنیا خلکو یی استقبال وکړ او
مرستی یی پیل کړی او اوس چی
کله خپل وطن ته ستنیږی نو پکار
ده چی زیاته مرسته ورسره وشی
ځکه افغانستان په کنډوالو بدل
شوی زراعت په تپه ولاړ دی ،
دماینونو خطر موجود دی او هم
ژمی سوړ موسم دی نو لازمه ده
چی افغانانو سره مرسته وشی ترڅو
په خپلو پښو ودریږی اوپه
راتلونکی کی دنړۍ دنورو ناتوانو
مسلمانانو سره لازمه مرسته او
کومك وکړی خو دعربو او نړۍ
دمسلمانانو ذهنیتونو جوړولو دپاره
پکار ده چی نوردجنګونو مخنیوی
وشی او ځینی خلك لاړ شی دوری
وکړی او تبلیغات وکړی او هم
دنشراتو له مخی دهغوی ذهنونه
روښانه کړی او مجاهدین په اتفاق
سره کمونستان او ملیشیان
دحکومت څخه لیری کړی او امنیت
تامین کړی ترڅو په خارج کی
مسلمانانو او نورو دنیاوالو ته
اطمینان حاصل شی او افغانانو سره
خپلی مرستی وکړی .

دالحاج مولوی جلال الدین حقانی ترمشری

لاندی دسولی دکمیسون پریکړه لیك

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم وبعد !

چندی قبل متصل باسقوط رژیم الحادی کمونستی درکابل بنابربعضی ملحوظات خاص بین قوت های برادر مجاهد انجینرصاحب حکمتیاروبرادر مجاهد انجینرصاحب احمدشاه مسعود برخورد مسلحانه صورت گرفت که درنتیجه ان تعداد زیاد اشخاص مظلوم وبیگناه بقتل رسیده خسارات هنگفت مالی وارد ومردم به هجرت دوباره مجبور گشتند وچنین احساس شد که دامنه جنگ وسیعترگردد.

بهمین مناسبت قوماندانان ، علمای کرام ومشران اقوام ولایات مختلف مملکت چند بار جلسه نموده اخیراً به سرپرستی قوماندان عمومی پکتیا الحاج مولوی جلال الدین حقانی کمیسون ۳۱ نفری وظیفه دارگردید تااعتراضات وتقاضاهای هردوطرف رااستماع نموده اختیارات گرفته بصفت طاقت بیطرف فیصله های بعد ازتصویب رااعلان بدارند .

اکنون که ازهردو جانب صلاحیت واختیار وتعهد گرفته شده بمقصد خاتمه حالت تشویش واضطراب الیوم روز یکشنبه ۲۷ ثور سال ۱۳۷۱ درقصر چهلستون مواد ذیل به تصویب رسیده فیصله گردید:

۱:- ختم وقطع جنگ بهرمعنی ومفهومیکه باشد.

۲:- بعد ازصدورواعلان فیصله درظرف مدت یك هفته تمام قوت های متقابل ومتخاصم ازشهر کابل وکمربند اطراف شهر کابل خارج گردند.

۳:- تامین امنیت کمربند امنیتی شهرکابل وداخل شهرکابل دروقت عقب کشیدن قوت های درگیر به رهبری دولت اسلامی تحت قیادت هیت صلح توسط قوماندان های کابل وحسب ضرورت یك تعداد مجاهدین متفق علیه صورت گیرد.

وبعدا به قطعات منظم وزارت دفاع وداخله به مراحل تسلیم داده شود.

٤:- تمام سلاح ثقیله ووسایط حربی اردوی سابق که مربوط بیت المال بوده ازکمربند امنیتی کابل اخراج شده نمیتواند.

۵:- دراردو وادارات دولت اسلامی افغانستان خلقی هاوپرچمی ها وعناصر غیراسلامی توظیف شده نمیتواند.

به تطبیق مواد فیصله های فوق بنام خداوند قادر وتوانا متعهد بوده پابند میباشیم .

ومن الله التوفیق

امضاء قوماندانان



کابل داقتدار دوزلوبی

په شمال کی دائتلافي

دوستانوپه لستوني کی

شهرت تنکیال

دروسی پوځونو له ایستلو وروسته هیچاهم دافکرنه کاوه چی په کابل کی به دګوډاګی رژیم ځنکندن دومره اوږدشی واقعیت هم داؤ چی دروسی پوځونو له تیښتی سره باید رژیم ډیر ژر له منځه تللی وای ځکه روسی لښکرو ونشوای کولی دمجاهدینو دقهرمانانه مقاومت له امله په یوه لسیزه کی دمدرنو اووژونکو وسلو او وسایلو اوشیطانی دسیسو او توطئو له اړخه خپلی پښی ټینګی کړی اودافغانانو دمقاومت اوجهاد دتوپانی بهیر دځپو مخه ونیسی.

خودشوروی عسکرو له تیښتی وروسته دجهاد دبری په مخه کی دخنډ اوځنډ یو لړ داسی دسیسی دکامیابی پړاو ته ورسول شوی چی حتی دروسی پوځیانو دموجودیت په وخت کی له ناکامی سره مخامخ شوی وی.

روسانو اوګوډاګی رژیم وکولی شوای ځینی جهادی ډلی دبیلابیلو لارو اوچینلونو له خواپه داسی یوه کاذبه امیدواری کی واچوی چی ګنی دنجیب دمخ په زوال رژیم څخه به قدرت دوی لاسونو ته ورشی. ددی په څنګ کی دیوی واحدی اداری اوارګان په جوړیدو کی دمجاهدینو دمشرانو ناکامی په نړیواله سطحه دمجاهدینو موقف له نویو پوښتنو سره مخامخ کړ.

هغوهیوادونوهم چی په افغانستان کی یی داسلامی حکومت له قیام سره دلچسپی نه درلوده اوخپل منافع اوګټی یی دروسی عسکرو له وتلو سره خوندی ګڼلی داسی موقف خپل کړچی له یوی مخی دجهاد اومجاهدینو پرخلاف ؤ،له بده بخته دمجاهدینو مشرانو هم ونشوای کولی دیوه داسی حرکت اودریځ له مخی نړیوال پرستیژ خپل کړی چی دهغی له لاری وکولی شی په بین المللی سطحه خواخوږی اوپلویان پیدا کړی اویاالړترلږه دخپلو پخوانو پلویانومرسته اوملاتړ له ځان سره مل وساتی.

مونږ مخکی دهغی کاذبی امیدواری خبره کړی وه چی دهغی له لاری روسانو اوګوډاګی رژیم دبیلابیلو چینلو له لاری دمجاهدینو له ځینو ډلوسره په دوهم اودریم لاس اړیکی ټینګی کړی وی پدی کی هره ډله پدی تمه کړی شوی وه چی کولی شی ددغو ارتباطاتو له لاری په کابل کی قدرت ته ورسیږی.

پدی کی دخلق اوپرچم له ډلګیو پرته په خارجی سطحه هم ګینی لاسونه دخیل ؤ چی دلیبیا اوفلسطین دواکمنو رول پکی ډیرزیات جوت اوڅرګند و.

لیبیا له جهاد سره دخپل لس کلن

خونړی لوبغالی

جبهې دشمال سرې بربوکی

دښمنانو یې لاسونه

شدید مخالفت سره وکولی شوای له حزب اوجمعیت سره اړیکی ټینګی اوددیپلوماتیکو روابطو په سویه تماسونه ولری تردی چې دوه کاله مخکی دحزب اوجمعیت په لسګونوغړی دځومیاشتنو کورسونو اوزده کړو لپاره لیبیا ته ولیږل شول اودجمعیت له خوا دلیبیا ددیکتاتورقذافی «شین کتاب» ترجمه اوپه ګڼ شمیرپه ډیرلوړ صحافت خپور شو.

ددی په ځنګ کی درژیم له ډلګیو سره دمجاهدینو دځینو ډلو اړیکو په کابل کی دپوځی کودتاګانو امیدونه اوامکانات رامخی ته کړل اودمجاهدینو ځینی تنظیمونه اوډلی پدی امید چې دپوځ دننه دیوه عسکری اقدام اوارتباط له لاری رژیم نسکور کړی درژیم په داخل کی له بیلابیلو فرکسیونونو سره داړیکو له اړخه ښه مصروف وسائل شول اوپدی رابطه یی دمسابقی یوه ډیره ګرمه لوبه رامنځ ته اوتعقیب کړه.

له همدی ځایه وه چې دمجاهدینو مشرانو دسیاسی اقتدارلپاره دهلوځلو په میدان کی درقابتونو اوسازشونو په بڼبوګیو وروستی چانسونه اوفرصتونه له لاسه ورکول تردی چې ورځ تروړځی حالاتو دجهاد دسپیڅلو ارمانو مخالف اوخطرناک لوری نیوه خودجهادی قیادتونو ددغو ټولو بی تفاوتیو اوداقتدار دهوس دسازشونو سره سره دجګړی دډګر فاتحین پدی وتوانیدل چې په سیاسی ډګر کی ددښمن له خوا رامنځ ته شوی دسیسی شنډی اوقضیه دتحریك اوخوځښت یوه نوی پړاو ته داخله کړی.

پدی کی دخوست ویارمنی اوقهرمانانه فتحی وکولی شوای دکابل مزدور رژیم ته په پوځی ساحه کی دشرمیدلی ماتی په ځنګ کی په نړیواله سویه دمجاهدینو دبرلاسی موقف اوفاتح نقش څخه ډیره ښه نمایندګی اوترجمانی وکړی.

دالحاج مولوی جلال الدین حقانی ترمدبرانه قیادت لاندی دخوست فتحی درژیم دقوت اوپایښت ټولی مذبوحانه هلی ځلی اوپدی لارکی بین المللی سازشونه له غوڅی ناکامی سره مخامخ کړل سره لدی چې دخوست فتحی رامنځ ته کړی رکود اوبن بست مات کړاودفتحو سلسله یی ګړندی کړه خوسیاسی لیډرانو ونشوای کولی اویایی نه غوښتل چې لدغی ستری فتحی څخه لکه څنګه چې لازمه وه دجهاد داهدافو دتحقق په لارکی ګټه واخلی.

له همدی ځایه وه نه یواځې داچې دجهاد سیاسی قیادتودفتحی دغی سلسلی له دوام ، پرمختگ اوچټکتیا سره لازمه همکاری اومرسته ونکړه بلکې په سیاسی سطحه یی دیوی واحدی اداری اوارگان په جوړیدو هم توافق ونشواې کړای چی دهغی په واړ دفتحی دغه سلسله په کابل کی دگوډاګی رژیم په ژر سقوط منتج شی.

دجهاد دسیاسی قیادتونو رقابتونو داسی ویری اواندیښنی رامنځ ته کړی وی چی دسیاسی اقتدار له لپاره ددوی مداخلی نوروستی فتحی اوبشپړی بری تولی لاسته راوړنی او اهداف تالا ترغه څه چی ملت له نویو فاجعو اوبدبختیو سره مخامخ کولی شو.

له همدی ځایه و چی دهیواد نوماند اومدبر قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی دخوست له فتحی وروسته دیوه خبریال دپوښتنی په ځواب کی وویل : خوست دقوماندانانو په ابتکار، تفاهم اومشترک عمل سره فتحه شو ، دخوست دجگړی په ستراتیژۍ کی دسیاسی قیادتو دمداخلی مخه تړل شوی وه همدا علت ؤ چی خوست ډیر ژر اودګډو عملیاتو په نتیجه کی فتحه شو، دجلال آباد دجگړی دناکامی سترعلت دا ؤچی هغه عملیات دپیښور دسیاسی قیادتونو له خوا قومانده اوپه لاراچول شوی و .

نوی زیاته کړه : «دیوی متحدی اداری له جوړیدو مخکی پرکابل عملیات اودی ته ورته اقدام څکه مطلوبه نتیجه نشی ورکولی چی هلته دجهاد سیاسی لیډران داقتدار لپاره ضرور مداخله کوی اودا مداخله دیوی خطرناکی مسابقی بڼه نیسی» .

له همدی ځایه ده چی دغه اندیښنی دقوماندانانو دفعالیت په مخه کی هم خنډونه رامنځ ته کړی اودلیډرانو له خوایی دسیاسی اقتدار دیوی خطرناکی مسابقی جهت په نخښه کړیدی .

له بلی خوا درژیم له فرکیسونونو سره دمجاهدینو دځینو ډلو ارتباطاتوتقریباً دیوی ائتلافی بڼی څرګندونه کوله پدی لړ کی دشاهنواز تنی له ناکامی کودتا ورروسته دهیواد په شمال کی دمجاهدینود پیاوړی قوت مدعیانو خپل ټول امکانات له رژیم سره دمقابلی په ځای په تفاهم اوداخلی تصفیو اوتنظیمی مخالفتونو په لارکی په کاراچولی وو ، درژیم له فرکسیونواوقوتونوسره دغو ارتباطاتو په تاکتیکی اوماهرانه بڼه خپل پرمختیا یی پړاوونه وهل اودپردی ترشادرژیم اصلی اومحرک قوت (دببرک پرچم) خورا زیات فعال معلومیده .

کله چی ۱۳۷۱ لمریز کال په رادبره کیدو سره درژیم دبقااوپایښت ټولی لاری اومخی وتړل شوی اونورنو جهاد دخپل ورروستی اوبشپړبری په درشل ولاړ ؤ اونږدی وه چی په هیواد کی دملت ارادی ته داحترام پربنسټ ولاړ حکومت ټینګ شی ددښمن لاسونو ددوستانو په لستوڼی کی دملت دارمانو په مری منګولی ښخی کړی اودجهاد عظمت اودمجاهدینو له عزت سره یی دلوبو ډرامه رامخی ته کړه اوداسی یوه سانحه یی رامنځ ته کړه چی دافغانانو له تاریخ جهاد اوقربانیو سره یی ددښمنی یوه توره پانه راواړوله .اوعملاً دغو خائنانه سازشونو داسی بڼه اولوری ونیو چی یوه ډیره خطرناکه فاجعه یی وزیږوله. کله چی دهیواد په شمال کی دمجاهدینو اودوستم دملیشو دائتلاف ډرامی لومړنی پرده دصحنی پرمخ تمثیل کیدله نو دډرامی اصلی لوبغاړو په ډیرو ماهرانه اکتیونو سره ددی هڅه کوله چی دهیواد په نورو برخو کی هم دداسی ډرامو تمثیل ته وخت اوزمینه مساعده کړی اوددغه ائتلاف موډل نورو ولایتونو ته هم پراخ کړی ، اوپدی توگه دهیواد په نورو ولایتونو کی هم مخلوط اوائتلافی حکومتو ته لار اواره کړی

اوپدی توگه دخپلی خوښی له قوماندانانو سره رژیم خپل قوتونه دیوی مشترکی اداری په چوکاټ کی ځای په ځای اودهغو جهادی قوتونو مخه ونیسی چی لدغی طرحی اوائتلافی حرکتونو سره یی مخالفت کاوه له همدی ځایه وه چی په شمال کی په اصطلاح بیله جنگه دفتحو سلسله روانه وه خوجنوبی کمربندونه نور هم پیاوړی کیدل اونوی قوتونه هغی لوری ته سوق شول. دگردیز تسلیمیدل چی دمجاهدینو له خوا تیر کال ترکلکی محاصری لاندی و ډیروځنډیدل دهیواد دجنوبی محانونو عمومی قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی ددی لپاره چی دګډوډۍ اوونو تویولو مخه نیول شوی وی ددی پرځای چی دیوځی اقدام له لاری گردیز ته ننوځی هلته دیوی مطلوبی اومتحدی شورا

دجوړیدو پلان تـرلاس لانـدی ونـیـو خولدی وروسته دګردیز پوځی اوملکی ارګانونه دهمدغه متحدی اوګډی شورا له لاری اداره کړی شی خوپه ګردیز کی درژیم واکمنو پدی لار کی دځنډ خنډونه رامنځته کول او له یوی ورځی یی بلی ته داخبره ځنډوله اوداسی شرایط یی وړاندی کول چی دهغی په نتیجه کی په ګردیز کی هم لکه دهیواد په شمال کی درژیم اومجاهدینو ترمنځ یی دائتلافی حرکت څرګندوی کوله چی دی کار ته په هیڅ صورت مجاهدین چمتو نه وو. الحاج مولوی جلال الدین حقانی غوښتل چی دائتلاف په شکل نه بلکی دمجاهدینو مجموع ته قدرت وسپارلی شی چی پدی صورت کی درژیم افرادو ته دسرمال اوحیثیت هرډول تضمین ورکولی شی .

الحاج مولوی جلال الدین حقانی پدی رابطه په یوه مطبوعاتی مرکه کی وایی: دګردیز دفتحی دځنډ سبب دا ؤچی موږ دانه غوښتل دچیغی اووسله وال اقدام له لاری ښارته داخل شو اویا هم لکه چی درژیم قواوو غوښتل له نوی سره ائتلافی یامخلوطه اداره جوړه کړو بلکی موږ غوښتل چی رژیم باید په اسلامی طریقو دمجاهدینو مجموع ته قدرت وسپاری نه یوی ډلی یاتنظیم ته خوحقیقت دا ؤچی له شمال څخه په اصطلاح دفتحو سلسله دیوه تفاهم او قرارداد له امله روانه شوی وه اوپه هغو برخو کی چی دغه قرارداد ته امکانات نه لیدل کیدل هلته بی له فشاره فتحی نشوای رامنځ ته کیدلی – په ګردیز کی پوځی مسولین دی ته چمتو نه ؤ چی مجاهدینو ته په قطعی

له بده بخته همداسي وشول پرکابل دسیاسي اقتدار دهوس پهٔنشه کي حمله وشوه احمدشاه مسعود دشمال ملیشي په کابل مارش کړي اوحکمتیار درژیم دځینو ډلو په مرسته خپل قوتونه کابل ته ننه ایستل .

تـوګه واک وسپاری لـه همدی ځایه وه چی مجاهدین په نامنظم ډول دپوځی اقدام له لاری ښار ته ننوتل خومخکی لدی چی مجاهدین ښار تـه دننوتلو اقدام وکړی په ګردیز کی دګلم جم ملیشی افراد دمخکنیو تفاهماتو اوپروګرام له امله کابل ته غوښتل شوی وو ترڅو دکابل په خواپدغه استقامت دمجاهدینو مخه ونیولی شی .

الحاج مولوی جلال الدین حقانی درژیم په ځواکونو غږوکړچی دمجاهدینو ګډو شورا ګانو ته تسلیم شی نه یوه تنظیم ته ، نوی پیښور ته پخپل مخابروی پیغام کی له جهادی قیادتونو څخه هیله وکړه چی ډیر ژر په یوه واحده اداره توافق وکړی اودمولوی محمدنبی محمدی ترمشری دی دغه اداره اعلان اوپه کابل کی دواک ترلاسه کولو لپاره چمتو شی ترڅو دائتلافی جبهی په وړاندی دمجاهدینو یو قوی ځواک په پښو ودریږی .

په شمال کی درژیم دبدنامو ملیشو اوشورای نظار ترمنځ ائتلاف نوی اندیښنی اوشکونه رامنځ ته کړی و ائتلافی اومخلوط حکومت مجاهدینو اوملت لدی مخکی څو څو ځله په کلکه رد کړی و که نه نو داډول امکانات په نورو ولایتونو کی هم له مجاهدینو سره ؤ چی درژیم له ځواکونو سره دچاخبره غاړه غړی‌شی اوهغوی ته دامتیازاتو په ورکولو سره په یوه نوی حرکت لاس پوری کړی لدی پرته په مجموع کی هم له رژیم سره دداډول حرکت چانس ښه پیراوله پخوا څخه موجود ؤ . دملګرو ملتونو استازی بریالی شوی وچی دشپږمیاشتوهلوځلووروسته دغیرمتنازعه اشخاصو په رابطه دجهادی قیادتونو توافق ترلاسه کړی ددغو کسانو لست تیار شوی ؤ اودحمل په ۲۸ باید نجیب رسماً استعفی ورکړی وای او واک یی دغه هیئت ته سپارلی وای .

خوپه شمال کی دشورای نظار اوحکومتی ملیشی ترمنځ ائتلاف سره استاد ربانی دامتیاز غوښتلو دریځ ونیو چی کابل ته ددغه ائتلاف په ننوتلو یی نور دغیر متنازعه کسانو دقدرت نیولو طرحه عبث وګڼله. ویل کیږی چی سیوان په ډیره عاجزانه انداز له استاد ربانی هیله وکړه چی پخپل ملت زړه وسوځی لست نوی ته ورکړی اودی به لدغو اشخاصو سره سبا کابل ته ولاړشی اوله نجیب څخه به واک ورته تسلیم کړی خودببرک

دپرچم ړلی چی په شمال کی دائتلافی جبهی ترشا دمغز متفکربنه لرله په اقدام لاس پوری کړاو نجیب یی په یوه کودتا یی اقدام سره له اقتداره لیری کړاوپدی توګه یی دملګرو ملتونو طرحه سبوتاژ اوپوی خونړی اودردناکی فاجعی ته مخه پرانستله .دهمدغو تاوجنو اوخطرناکو حالاتو ترمخه الحاج مولوی جلال الدین حقانی په تولو جهادی ځواکونو غږ وکړ: څرنګه چی دکابل رژیم دبشپړ اوحتمی سقوط په حال کی دی ځکه خو باید پر کابل له پوځی حملی څخه ډډه وشی اوکه داسی وشی نودابه دقدرت دمسابقی بنه ولری اوښکاره خبره ده چی ډیر خطرناك عواقب اوفاجعی به رامنځ ته کړی .

له بده بخته همداسی وشول پرکابل دسیاسی اقتدار دهوس په نشه کی حمله وشوه احمدشاه مسعود دشمال ملیشی په کابل مارش کړی اوحکمتیار درژیم دګینو ړلو په مرسته خپل قوتونه کابل ته ننه ایستل .

له همدی ځایه وه چی په کابل کی دجګړی لمبی بلی شوی ملیشو ته دچورچپاول اودخلکو په عزت اوناموس دتیری اولوبو بنه زمینه مساعده شوه اوداسی بربادی اووحشت راولاړشو چی په تیرو څوارلس کلونو کی یی ساری نه وو لیدل شوی .

موږ مخکی هم ددی ټکی یادونه وکړه چی الحاج مولوی جلال الدین حقانی چی دحالاتو وخامت ته متوجه ؤ پدغو خبرو ټینګار کاوه :

۱– څرنګه چی دکابل رژیم دبشپړاوحتمی سقوط په حال کی دی ځکه خو پر کابل باید دپوځی عملیاتو څخه ډډه وشی اوکه داسی وشی دابه دقدرت دمسابقی بنه ولری اوډیرخطرناك اوفاجعه زیږوونکی عواقب به رامنځ ته کړی .

۲– دکابل رژیم باید دائتلاف په شکل نه بلکی دمجاهدینو مجموع ته قدرت وسپاری نه یوه تنظیم یا جریان ته.

۳– جهادی قیادتونه باید ډیر ژر دصادقانه تفاهم په نتیجه کی په یوه واحده اداره توافق وکړی اوپه کابل کی دقدرت دانتقال لپاره چمتوشی.

خوله بده بخته هغه څه وشول چی له هغی ویره کیده اوهغه داچی درژیم له بدنامو ملیشو سره دشورای نظار دائتلاف په نتیجه کی منځ ته راغلی نوی تحرکات ډیر چټك شول که څه هم الحاج مولوی جلال الدین حقانی له احمدشاه مسعود څخه څوځوواره دمخابری له لاری پدی رابطه توضیحات وغوښتل خو هغه په کلکه سره دائتلاف خبره تردیدوله خوپه حقیقت یوداسی خطرناك ائتلاف رامنځ ته شوی ؤ چی دهغی طرحه دببرك له خوا ترتیب او په تولو معنا ددوستم – حزب وحدت امتیازات اودببرك دپرچم بقا پکی نغښتل شوی وه اوډیرمخکی ورته درژیم اوشورا نظار له لیدنو کتنو پرته دتهران په غونډه کی دفرهنګی ترون ترپردی لاندی وروستی توافقات ترلاسه کړی شوی و.

ددوستم له ملیشی سره دائتلاف ډرامه څه نوی اویا تصادفی خبره نده بلکی داجریان دهیواد په شمال کی ددغی ملیشه یی قوتونو دایجاد اودهیواد په نورو برخو کی دوحشیانه محاربوی فعالیتونو اولدی سره دشورای نظار له وروستیو ځوکلنو پالیسو سره دنه شلیدونکو اړیکو رازونه سپړی .

دحمل په ۱۸ نیټه درژیم دبهرنیو چارو وزیر اودببرك کارمل دترور زوی عبدالوکیل په جبل السراج کی له احمد شاه مسعود سره ملاقات وکړ ، پدغه ملاقات کی عبدالرشید دوستم او جنرال مومن هم برخه لرله دکتونکو له قوله دوی پدغه ملاقات کی دشپږمیاشتنی مخکی تفاهم په مندرجاتو چی په پنجشیر کی یی درژیم له خوادفرید مزدك اودجمعیت له خوا داحمدشاه مسعود او نجیب الله لفرایی په ګډون بنه نیولی وه دیوی ائتلافی جبهی دایجاد اوقدرت نیولو په پلان وروستی توافق ته ورسیدل .

دحمل په ۲۰ دشورای نظار اورشید دوستم ځواکونو په یوه ګډه مطبوعاتی اعلامیه کی ددی ټکی څرګندونه وکړه چی نجیب باید سملاسی له قدرت څخه ګوښه شی دوستم داهم زیاته کړه چی موږ نه غواړو له کابله بیل شو خو موږ دپښتنو دقدرت نیولو مخالف یو همدا اوس موږ(حزب وحدت) اوجمعیت سره یولړ توافقاتو ته رسیدلی یوولدی نه معلومیږی چی ددوستم اونجیب اختلاف په قومی بنیادونو او داقتدار په مناصبوکی دوروستیو تغیراتو اودببرك دپرچم دفرکسیون په طرحو بناؤ نه دنظریاتی اوایدیولوژیکو ملحوظاتو له مخی .

دحمل په ۳۰ پاکستانی مطبوعاتو په کابل کی دخپلو سفارتی منابعوپه

حواله ولیکل : چې درشید دوستم او جنرال مومن په زرګونو ملیشه دهوا له لارې کابل ته لیږدول شوي دغه نقل او حرکت دحمل په ۲٦ نیټه پیل شوی و چې په کابل کې یې دمسعود دپلویانو په ګډون حساس ځایونه نیولي و .

په خبرکې داهم ویل شوي چې دغو قوتونو کابل ته درسیدوپروخت په هوایي ډګر کې دنجیب نژدې سل تنه پلویان وژلي دي ، که څه هم احمدشاه مسعود ظاهراً پرکابل دنه حملې خبره کوله خوپه حقیقت کې په کابل کې دائتلافي جبهې کې ځواکونه ځای په

که څه هم احمدشاه مسعود ظاهراً پرکابل دنه حملي خبره کوله خوپه حقیقت کي په کابل کي دائتلافي جبهي کې ځواکونه ځاي په ځاي شوي وو اوډجنرال اصف دلاور ، نبي عظیمي ، جنرال بابه خان ، فرید مزدك ، محمود بریالي اوعبدالوکیل په ګډون اجرایي شورا جوړه کړي وه اودوضعي دکنترول هڅه یي کوله.

ځای شوی وو اوډجنرال اصف دلاور ، نبي عظیمي ، جنرال بابه خان ، فرید مزدك ، محمود بریالی اوعبدالوکیل په ګډون اجرایی شورا جوړه کړې وه اودوضعې دکنترول هڅه یې کوله

دهمدغسې حالاتو لپاره کله چې روس اوامریکا په افغانستان کې دجګړې په دواړو خواوو دوسلې په بندولو موافقه وکړه له روسیې څخه دوسلې اومهماتو دوروستي قرارداد ټوله وسله ، مهمات اونورمواد په مزارکې ځای په ځای شوی و، ویل کیږي چې ددغې وسلې اومهماتو اندازه دمخکنیو ټولو قراردادونو له اندازې څخه زیاته وه اوددغسې ورځې لپاره په مزار کې ډیرې زیاتې زیرمې اوسرمایه ګذاری شوې وې .

استعمار تل داهڅه کړې چې دخپل شکست په صورت کې دولسونو لپاره داسې کړکیچونه اوکشالې په ځای پریږدي چې دښکیلاکي ځواکونو له وتلو اوشکست وروسته هم ترمودو مودو دکورنیو شخړو اواختلافاتو په اور کې وسوځي ، بقا ملي وحدت اوځمکنې بشپړتیایي له ډول ډول ګواښونو سره مخامخ پاتې شي اوپدې توګه استعمار دخپلو اوږدمهاله اهدافو دترسره کولو لپاره مخه پرانیستې وساتي.

له همدې ځایه وه چې دروسانو په دستور دهیواد په شمال کې دملیشو یوډیرخطرناك قوت ایجاد شو (خوپه نورو برخو کې بیا داډول قوتونه لکه دعصمت مسلم اونورو له منځه یوړل شول اوله څه وخت تیریدو له پسښو وغورځول شول) څوپه راتلونکې کې ددغسې قوت له لارې خپل اهداف خوندي وساتلي شي او هر وخت دغه قوت هرډول چې وغواړي استعمال کړي اوله بلې خوا دقوم اوسمتي تمایلاتو په اساس په فدرالي سیستم کې دخپلو اجنټانو لپاره یوه پایګاه اوقوت پیدا کړي شي ، اودخپلو پوځونو له ایستلو وروسته هماغه کار تري واخلي –له بلې خوا ددغو ډول قوتونو دوحشیانه عملیاتو اوظالمانه اعمالو له امله دقومي تضادونو اوورونه بل کړي اودهیواد په نورو برخو کې ددغه ډول قوتونو دوحشیانه محاربوي عملیاتو له امله قومي او لساني مخالفتونه اوجګړې رامنځ ته کړي اوپدې توګه بیله دې چې خپل پوځونه یې هلته په جګړو کې درګیر او تلفات ووینې خپل اهداف ددغو قوتونو په واسطه ترسره کړي ترڅو په پای کې داسې یو ترکیب اوائتلاف رامنځ ته کړي چې که دڅیرو په بدلولو سره خپل سیستم په ځای ونښې ساتلی اقلاً فعال اوژوندی خوبیی وشی ساتلی اولکه چې ولیدل شول دهمدغسې یوه ترکیب دایجاد له امله کله چې په کابل کې مزدور رژیم له پښو لویدونه نژدې اودمجاهدینو فاتحانه نقش لکه لمړیه ځلیدوشو یوداسې حرکت په لارو واچول شو چې له یوې خوایې دمجاهدینو پرفاتحانه نقش دشکونو، سازشونو اوضعف سیورې وغورځاوه ، اوله بلې خوایې دیوه داسې اوربلولو ته زمینه مساعده کړه چې دملت مادي اومعنوي شتمنۍ به له یوې مخې په خپلو لمبو کې نغښتې ساتي .

که مونږ دې ته پام وکړو چې ددغې معاملې له امله دکوم شی دلاس ته راوړلو په بدل کې موخه شي له لاسه ورکړي په بل عبارت دامتاع موږه کومه بیه ترلاسه کړې اوایا ددې ارځښت لرې نو ویلې شو چې دیوه په ګونډو شوي او نسکور رژیم دتالي څټو سره

داقتدار په هوس کی معامله کول یقیناً
چی دیوه مجاهد اوقهرمان ولس
دخوارلس کلن جهادی ارمان اوقربانیو
سره له یوی جفا اودښمنی پرته بل څه
نشی کېل کیدی .

په کابل کی دمجاهدینو په نوم دفتحی
سلسله ددوستم ، شورای نظار اوحزب
وحدت ترقوتونو پوری منحصره پاتی
شوه پداسی حال کی چی حزب وحدت
په کابل کی دحزبی ناحیو اوحکومتی
تاسیساتو په وسلو اووسایلو قبضه
لگوله اوهغه یی په خلاص مټ ویشلی
اوهغه سیمی یی احتوا کولی چی
دمخکنی پلان اوائتلاف په مسیر اولیکو
کی واقع اودغو قوتونو ورڅخه سړه
استفاده کولی شوای، پدی توگه ددغه
ائتلافی جبهی له اړخه رامنځ ته شویو
سازشونو او معاملو دجهاد دعظمت
اوعصمت په لمن سووځونکی اورپوری
کړ اوومو لیدل چی دمجاهدینو فاتحانه
غرور وزمول شو قیادتونه ملت ته نور
هم بی باوره کړی شول اودیوه ډیر
ضعیف موقف اوفورمول له مخی کابل
ته داخل شول داسی چی دپخوانیو
تولو سترو فتحو ویاړونه یی دوروستیو
دړدونکو جریاناتو اوسازشونو خونړی
سیند په څپو لاهو کړل. بله دردوونکی
خبرداچی په پیښور کی داستاد
سیاف له خوا یوډیره نیمگړی طرحه
جوړه کړی شو- جمعیت اوشورای
نظار درژیم له بدنامو ځواکونو سره
دائتلاف له امله دیوی خطرناکی لوبی
پرسر دامتیازاتو غوښتونکی وددفاع
وزارت اوجمهوری ریاست هغوی خپل

**کله چي په کابل کي مزدور رژيم
لـه پـښـو لـويـدوتـه نـژدي
اودمجاهدينو فاتحانه نقش لکه
لرپه ځليدوشو يوداسي حرکت په
لارو واچـول شـو چـي لـه يـوي
خوايي دمجاهدينو پرفاتحانه
نقش دشكونو، سازشونو
اوضعف سيوري وغورځاوه ، اوله
بلي خوايي ديوه داسي اوربلولو
ته زمينه مساعده کړه چي دملت
مادي اومعنوي شتمني به له يوي
مخي به خپلو لمبو کي نغښتي
ساتي .**

حق گاڼه دقدرت دانتقال په خاطر ددوو
میاشتو لپاره دمجددی انتخاب دامعنا
لرله چی دوی میاشتی به ملت په یوه
مطلقه خلا کی واقع وی اوکوم قانونی
حکومت به نلری لدی وروسته د٤
میاشتو لپاره داستاد ربانی انتخاب
هم داسی یو ضعیف فورمول ؤ چی
دهغی له امله تراوسه هم ملت هره ورځ
له نویو جنجالونو اوکړاوونو سره
مخامخ دی ځکه پداسی
کړکیچڼحالاتوکی چی له سره په هیواد
کی نظام نه شته دیوی ضعیفی
اوناکامی طرحی په اساس یواځی
دمصلحت په عنوانولو دکمزورو
حکومتونو اوارگانو جوړول خپله په
هیواد کی دقانونی خلا څخه دراپیدا
شوی بی امنی او خود سری دپراخیدو
موجب گرځی اوداجراتو په طرز کی
دوکانگی او گوډی رامنځ ته کوی .

هیواد چی دیوی خونړی او ورانوونکی
جگړی په لمبو کی سوځیده دولس عزت
ناموس اوهرڅه ددوستم دوحشی
ملیشو له خواتر پښو لاندی کیدل په
دی وخت کی یواځی اویواځی الحاج
مولوی جلال الدین حقانی بیاهم هر
یول خطرونو او تاوانونو ته په اوږه
ورکولو سره دجگړی دختمیدو اودسولی
اوامنیت دټینگیدو لپاره خپلی هلی ځلی
پیل کړی. دحزب اسلامی له مشر
محترم حکمتیار اواحمدشاه مسعود
سره یی تماسونه ټینگ او ملاقاتونه
وکړل او هغوی دواړو دوی ته واک ورکړ
چی دخپل منځگړیتوب له امله دجگړی
اورمړکړی پدی توگه دواړو ډلو ترمنځ
اوربند اعلان شو اودسولی کمسیون
دجگړی دبیخی ختمیدو په رابطه خپل
فعالیت گرندی کړ-کمسیون له دواړو
خواو څخه لیکلی تعهدات ترلاسه کړل
چی دسولی دکمسیون دپریکړو مرعات
به کوی او دمندرجاتو دنفاذ په هکله به
جدی اوصادقانه اقدام کوی .

دڅور په ۲۷ نیټه پچهلستون کی د ۲۵۰
قوماندانانو په وړاندی دغه پریکړه
اعلان او دټولو کېون کوونکو له خوا
لاسلیك شوه:

۱- لدی وروسته په ټول هیواد کی
جگړه ترهغه وخته په بشپړه توگه قطع
اوممنوع اعلانیږی ترڅو چی داسی
عوامل منځ ته نه وی راغلی چی
دعلماوو په گډه فتوی دجهاد اعلان
وشی.

۲- ددواړو متخاصمو ډلو یعنی انجنیر
حکمتیار اواحمدشاه مسعود قواوی به

دکابل له لومړی خط څخه وځی .
۳- دکابل دمجاهدینو قوتونه به دکابل دامنیت ساتنه کوی اوکه لازم وه له نورو جهادی قوتونو څخه به هم استفاده کیږی .
٤- له کابل څخه به دملیشی تول ځواکونه وځی اودرنده وسله اووسایط به له کمربند څخه نه ایستل کیږی اوپه اسلامی حکومت کی به درژیم بقایاو ته برخه نه ورکول کیږی داسی کوم عناصر چی په حکومت کی پاتی دی هغوی به له وظیفو څخه گوښه کیږی .
دالحاج مولوی جلال الدین حقانی دسوله ائیز فعالیت له امله دکابل اوسیدونکی اوټول افغانان پدی ډیر خوښ شول، په کابل کی داطمینان اوباور وړانگی په ځلیدوشوی خوله بده بخته چی دسولی دکمسیون دفیصلو له عملی کولو سره واکمنو صادقانه برخورد ونکړ حتیٰ چی هغه طرحه او مصوبه یی په مطبوعاتوکی هم اعلان نکړه اودهغی له عملی کیدو څخه یی په یوه اوبله پلمه ځانونه گوښه کول اونه یواځی داچی دسولی له کمسیون سره یی صادقانه همکاری اوپخپلو ژمنو وفا ونکړه بلکی په توطئو اومانورو یی هم لاس پوری او تهدیدونو له لاری یی دسولی دکمسیون دفیصلو دماتولو اقدام وکړ، اقتصادی فشارونو ته یی لاس وغځاوه ، دپټو اوښکاره مانورو اوگواښونو له لاری یی دسولی پروگرامونه اوقوتونه ترفشار لاندی نیول پدی توگه یی دخپلو تعهداتو اوژمنو پرخلاف دسولی دکمیسون

پدي توگه ددغه ائتلافي جبهي له اړخه رامنځ ته شويو سازشونو او معاملو دجهاد دعظمت اوعصمت په لمن سووځونکي اورپوري کړ. اوومو ليدل چي دمجاهدينو فاتحانه غرور وزمول شو قيادتونه ملت ته نور هم بي باوره کړي شول اوديوه ډير ضعيف موقف اوفورمول له مخي کابل ته داخل شول داسي چي دپخوانيو ټولو سترو فتحو وياړونه يي دوروستيو دردونکو جرياناتو اوسازشودخونړي سيند په څپو لاهو کړل

مصوبه له پامه وغورځوله اوانجنیر حکمتیار اواحمدشاه مسعود دبهرنیو شخصیتونو په وړاندی په نورو توافقاتو دستخطونه وکړل چی هغه هم لدی کبله چی دجهادی قوماندانانو له سلامشوری پرته یی په پټه توگه بنه نیولی وه کومه نتیجه ورنکړه حتی چی دجگړی اور ته یی دتیلو کار ورکړ. له همدی ځایه وه چی دسولی دکمیسون مصوبه یی ترپښو لاندی کړاودهغی پرخلاف یی په سازشونو لاس پوری کړ تردی چی دیوی ښکاره توطئی په جریان کی په الحاج مولوی جلال الدین حقانی ناوړه قصد هم وشو خو دالله تعالی فضل او کرم وُ چی توطئه رسوا شوه او الحمدلله حقانی صاحب ته کوم ځانی تاوان ونه رسید.
لواکمنو تعهدات دکاغذ پرمخ اویواځی ددی لپاره وُ چی لدی څخه سیاسی اوپوځی گټه ترلاسه اوخپل موقعیت پیاوړی کړی .
ددی پرځای چی پخوانی کمونست عناصر له حکومت څخه گوښه کړی شی اوملیشی له کابل څخه وویستل شی اصف دلاور دلوی درستیز په توگه تائید شو اودنورو پرچمیانو په لاس کی هم دیوځ حساس اولوړپوستونه پاتی شول اودوستم ملیشی ته ددفاع وزارت په چوکاټ کی دیوی فرقی په حیثیت قایل اواسلامی حکومت دیوځ جز وگڼل شو- پداسی حال کی چی نوری پوځی فرقی اوتشکیلات معطل اوافراد اومنسوبین رخصت شول یواځی ددوستم اودکیان ملیشی په ځای پاتی شوی چی ددولت اووزارت دفاع له خوا ورته دتشکیلاتو دوسعت اختیارات هم ورکړل شول حتی دملیشی په واسطه په ښار کی دمجاهدینو دخلع سلاح کولو په اقدام هم لاس پوری شو.
ښاغلی مجددی دوستم ته دسترجنرالی ترفیع ورکړه اوداسلام دسترمجاهد ! خطاب یی ورکړ.
دپیښنور دهمغه ضعیف فورمول په اساس منځ ته راغلی حکومت کی دمسعود اومجددی ترمنځ دقدرت دمسابقی لوبه رامنځ ته شوه .ښاغلی مجددی په وار وار ددی تکی څرگندونه کړی چی په کابل کی دقدرت متعدد مرکزونه جوړشوی اوشکایت یی درلود چی گڼ ټولنتی ارگانونه دجمعیت

اوشورای نظار له خوا غصب شوی داطلاعاتو اوکلتور وزارت اورادیو تلویزیون دخپل شخصی ملکیت په څیر استعمالوی اوهغه یی دخپلو شخصی اوحزبی اهدافو په لار کی استخدام کړی دی. ده څو څو واره ددفاع پر وزیر ددی پړه اچولی چی ندی توانیدلی اویانه غواړی په کابل کی امنیت ټینګ شی .

ښاغلی مجددی پخپله وروستی بیانیه کی داهم په ډاګه کړی چی دجمهوری ریاست دفترونه هم ددی لپاره ددفاع وزارت له خوا اشغال شول چی دچارو دپرمختګ مخه ونیول شی دی زیاتوی تردی چی دیوه مکتوب له لاری دټولو شرعی اوقانونی غوښتنو دترپښو لاندی کولو له اړخه یی هغه ددفاع په وزارت پوری وتړل. مجددی صاحب خپل یوه پاکستانی دوست ته داهم ویلی چی داټولی نخری پری مسعود کړی تردی چی دحکمتیار شدید مخالفت اودوستم ملاتړ اوهغه ته ترفیع داټول یی ددی لپاره کړی چی مسعود دی له استاد ربانی څخه ځان ته نژدی ګاڼه اوپه قدرت دپاتی کیدو لپاره ورته مناسب ښکاری مجددی داهم وایی چی دوستم دترفیع په رابطه دمولوی نصرالله منصور او مولوی ارسلان رحمانی تائید هم ورسره وُچی پدی مناسب جوړه شوی غونډه کی هم هغوی حاضر وو .

پدی توګه دښاغلی مجددی دوه میاشتنی واکمنی تش په نوم بڼه لرله اوپواځی دختدنیو ترفیعاتو په ورکولو اوپه شمال کی دشوی ائتلاف خطرناکو عواقبو څپوته دده په ورتیله کولو کی داسی تیره شوه چی داحمدشاه مسعود اودوستم دائتلاف په خوساړتو کی له سره ترپښو لوند اوخیشت شوی وُ.

په دی توګه په کابل کی دبی امنی جګړی او دخلکو په عزت ناموس اومال دتیری لوټماری عمال اوعوامل په ځای پاتی شول داسی چی هره ورځ اوهره لحظه دخلکو عزت ناموس ، حیثیت اومال ددوستم وحشی جنایتکارانو له خوا تر تجاوز، لوټ او تیری لاندی دی او دپاك لمنو تورو سرو عزتونه له خپلو هوسونو څخه قربانوی.

په کابل کی ددوستم ملیشی له چور او تالان پرته خپله واکمنی دستګاهم په دولتی شتمنیو داسی قبضه لګولی لکه ددوی شخصی ملکیت. واکمنه دستګاه په ډیره بی دردی دخپلو ګوندی او شخصی ګټو اوداقتدار ددوام لپاره له دولتی ملکیت اوبیت المال څخه استفاده کوی دمکرویانو ، اپارتمانونه پخپلو غړیو ویشی دهغوخلکو کورونه چی خالی دی اودجګړی اویا انتقامی سیاست له ویری یی کورونه پری ایښی دهغوی دروازی بیرته کوی اوخپلو متحدینو ته یی تسلیم کوی ددولتی ځمکو نومری په خلاص مټ په رشوت کی پخپلو سیاسی انډیوالانو تقسیموی اودولتی پوستونه خو بی دکفایت اولیاقت له اصل پرته هغو چاته په رشوت ورکوی چی لدوی سره په حکومت کی شامل دی اویاورسره دهمکاری اوسازش تفاهم ته رسیدلی دی.

په دولتی مؤسسو کی موجود ټول وسایل او وسایط دوی پخپلو منځو کی تقسیم کړی اوددولت په مهمو ارګانونو یواځی جمعیت شورای نظار رشید دوستم اوددوی متحدین قابض دی دوزارتونو ریاستونو اوولایتونوفرمانونه هم په رشوت اودسیاسی سازشونو له مخی یوه اوبل ته لکه دځمکی دخرڅلاو قباله داسی ورکوی - ددوستم ملیشه ددولت له ټولو امکاناتو څخه په خلاص مټ استفاده کوی اوټول فعالیتونه یی له دولتی بودجی څخه اکمالیږی حتیٰ ددوی دفحاشی اودعیاشی مصارف هم په اصطلاح داسلامی حکومت له خوا تادیه کیږی .

په دی توګه په کابل کی یواځی دجمعیت دشورای نظار اورشید دوستم واکمنی چلیږی چی په سمتی اوژبنیو بنیادونو یی داجراتو اوکړنو لوری ښه جوت دی .دجمعیت دشورای نظار اودوستم په ولکه کی دولتی او حکومتی اداری انحصاری شکل لری او هره ورځ له کابل څخه دقیمتی اولوکسو اشیاوو اواموالو ډکی الوتکی دمزار په لور الوځی له همدی ځایه ویلی شو چی دکابل زیاتره دولتی اوملی شتمنی اواثاثی مزار ته انتقال شوی دی .

لنډه داچی دلوټ تالان ، تجاوز اووحشت یوه داسی فضا حاکمه ده چی هیڅوك داطمینان ساه نشی اخیستلی - نه یواځی، داچی دخلکو عزت ناموس اوسراومال محفوظ ندی

اوله دي ټولو دردوونکي داچي دعمري خلافت دعوېداران دوزارتونو اوسیاستمداري په نشه کي دمّي په کاروان کي په تیندکونو تیندکوډدنیاوي مواقفو دحصول دناکام اوشرمیدلي کوښښ په قمار کي داهرڅه بایلول داسي چي نن داقتدار په نمه دملت دعزت اوناموس اودجهاد دعظمت اوتقدس پر مري وحشي جنایتکارانو اوسیاسي سوداګرو خپلي خونړي منګولي ښخي کړي دي.

اوډګړی لمبی اوډګولیو ړلی دخلکو هرڅه داور دلمبو خولی ته ورکوی بلکی دهیواد تاریخ ، اوملی اوتاریخی اسناد اومدارك اوپه مجموع کی ټول دولتی ریکارډ لوټ او تالا شویدی. دکابل دتاریخی ښارټولی قیمتی اثاثی اولرغونی اثار اوهمدارنګه لوکس مدرن اوقیمتی وسایل دهیواد شمال ته ولیږدول شول اویا خارجی هیوادونو ته وسپارل شول پدی توګه نه یواځی داچی کابل وران شو، بیګناه خلك دقدرت دهوس قربانی شول ، دخلکو په عزت اومال لوبی وشوی چور اولوټ شول بلکی په مجموع کی دهیواد تاریخ ،لرغونی اثار تاریخی اسناد اومدارك اوعلمی اوفرهنګی زیرمی هم له منځه ولاړاوپدی توګه ویلی شو چی داقتدار لپاره دملت په ټول تاریخ حیثیت اوعظمت داو ولګول شو اودجهادعظمت اودیونیم ملیون شهیدانو وینی یی په ډیره ارزانه بیه دبدنام اقتدار په پښو قربانی کړه .

لکه مخکی موچی وویل له دولتی امکاناتو څخه یواځی هغه قطعات اوځواکونه استفاده کولی شی چی دجمعیت شورای نظار رشیددوستم اونادرجعفری ترقوتونو پوری اړه ولری نور جهادی ځواکونه اوکتلی له هرډول مرستی حتیٰ خوراکی موادو څخه هم بی برخی کرځول شوی لدی پرته ددوستم دملیشی اونوروحکومتی ځواکونو له خوا ځورول کیږی بندیان کیږی موټر اوشتمنی ورڅخه اخیستل کیږی اودډول ډول فشارونو اوګواښونو سره مخامخ کیږی .

دالحاج مولوی جلال الدین حقانی جهادی ځواکونه چی دمجددی استاد ربانی احمدشاه مسعود اوپه مجموع کی دقیادی اوجهادی شورا له خوا دسولی داعادی په لار کی په متنازعه سیمو کی دامنیت ساتنه ورسپارل شوی وه بیله دی چی ددولت له خوا ورسره حتیٰ دخوراکی موادو مرسته وشی ټوله اعاشه روغنیات اونور مصارف یی دحقانی صاحب له خوا تادیه کیدل حتیٰ دسیلو دوچی ډوډی له مرستی څخه هم بی برخی کرځول شوی وو په داسی حالاتو کی چی بهرنی مرستی له یوی مخی بندی شوی دزرګونو مجاهدینو اعاشه روغنیات اونور مصارف خپله دیوه قوماندان اوتنظیم لپاره یوه شدیده اقتصادی ضربه ده – پداسی حال کی چی ددولت په ټولو مهمو ارګانونو دجمعیت شورای نظار اودوستم کنترول دی څوظاهراً په زیاترو ادارو کی هماغه دپخوانی رژیم دپرچم غړی افسران په ځای پریښودل شوی په لومړه توپیر چی جمعیت اوشورای نظار هر ریاست یالومقام ته دمشاور په نوم یو تن ورمعرفی کړی چی هغه ددغه ریاست دچارو لپاره پالیسی وټاکی اوله کارونو څخه یی مراقبت وکړی.

زیاتره وزیران چی دنورو تنظیمونوغړیتوب لری مازی تش په نوم وزیران دی خو مهم کارونه اواساسی پوستونه یاخودرژیم دپرچم ړلی دپخوانیو اعضاوو سره پاتی دی چی هغوی هم په ائتلافی شکل له جمعیت اوشورا نظار سره همکاری اودهغوی متحدین دی اویا داچی دوی خپله هغه کلیدی پوستونه پخپل کنترول کی نیولی دی ، له بانکونو څخه پیسی بیله کوم قانونی جواز څخه ایستل کیږی اختلاس په ډیره لوړه سطحه جریان لری اواختلاس اورشوت دمافیا په شکل دلوړو مقاماتو په کنترول کی خوړل کیږی .

لنډه داچی په ډیره بی دردی اوبیرحمی سره له بیت المال اودولتی شتمنیو سره چلند کیږی ددولت له امکاناتو اوبودجی سره لکه دتنظیم بیله

کوم مسوولیت سره برخورد کیږی اودولت اودولتی سیستم ته دحزبی منافعو له مخی کتل کیږی اوځنګه چی په تنظیمونو کی بیله کوم بیلانس اوقانونی مدرك پرته بودجه د تنظیم دیو دوو تنو له خوا چی ځنګه یی غوښتی وای بی مسولیته مصرف کیدله په دولت اوحکومت کی هماغه روحیه حاکمه ده اوپه هماغه شکل بلکی له هغی نه دیرظالمانه پربیت المال اودولتی شتمنی تالان ګړ دی .

پدی توګه دولتی بودجه اوشتمنی اوپه مجموع کی ټول بیت المال اودولتی دارایی دچورچپاول اوتالان سره مخامخ ده اوپه هره سطحه چی دچاوس رسیږی دریغه اوصرفه نه کیږی.

اوله دی ټولو دردوونکی داچی دعمری خلافت دعویداران دوزارتونو اوسیاستمداری په نشه کی دتمی په کاروان کی په تنیدکونو تنیدکوډ دنیاوی مواقفو دحصول دناکام اوشرمیدلی کوښښ په قمار کی داهرڅه بایلول داسی چی نن داقتدار په تمه دملت دعزت اوناموس اوجهاد دعظمت اوتقدس پر مری وحشی جنایتکارانو اوسیاسی سوداګرو خپلی خونړی منګولی خښی کړی دی.

څکه خوپه وازو سترګو دخپل مجاهد ملت دتوهین ، بی عزتی اوتباهی ننداره کوی هغه ملت چی دخپل شهامت اوقربانی په برکت یی دنیا ولړزوله اوخپل هرڅه یی دقربانی په میدان کی لوګی کړل خواوس دچا دذاتی اغراضو، بی تفاوتی اودسیاسی سودابازی په داوکی دتحقیر توهین اوسپکاوی ځپړی پرمخ خوری اودعزت اوناموس دګواښ په لمبو کی نیښه کیږی .

ددی ملت غرور روس مات نشوای کړی ، شوروی اتحاد ټوټی ټوټی شو- دوارسا پکت دړی وړی شو خودافغان مجاهد غرور مات نشو -عظمت یی سرښکته نکړ، ووژل شو، دمال سراواولاد قربانی یی ورکړه خوذلت ته یی غاړه کینښوده ، خونن یی دقربانیو ثمره دهمت اوقهرمانی سرمایه اودمال اولاداوسرپه قربانی ګټلی حیثیت اوعظمت دماتی خوړلی دښمن په پښو کی قربانیږی دهغه دښمن چی دتوری په زګریی ورسره څوارلس کاله قهرمانانه مبارزه کړی اوقربانی یی ورکړی خوداسلام عظمت یی ساتلی دی خونن له څوارلس کلنو قربانیو وروسته ،له څوارلس کلنو وياړونو اوحماسو وروسته له څوارلس کلنو فتحو وروسته دروس له شرمیدلی ماتی دوارسا له شکست ،دشوروی دامپراطوری له دړی وړی کیدو اودنجیب له زوال وروسته دګلم جم دملیشو اوپخوانیو جنایتکارانو له خوا توهین کیږی تحقیر کیږی اوپه عزت اوناموس یی بلوسه کیږی اودملیونو شهیدانو سپیڅلی ارمانونه یی په دیره بی دردی قتلیږی خولدی ټولو سره دسوچه اسلامی حکومت اومجاهدینو دحقوقو مدعیان اوپه کریملین دشنه بیرغ درپولو دشعار قهرمانان اودنهضت اوتحریك وارثان اودجهاد داستمرار اودوام دعویداران دولس پرسرله یوی خوادراکټونو اوبمباریو داورلمبو اودګولیو ږلی ته دجواز پیدا کولو هڅی کوی اوله بلی خوا ددوستم جنایتکار، ملیشی دخپل اقتدار ددوام په هوس کی دخلکو په عزت عصمت اوشتمنیو باندی پرتیری اولوټو ورمارش کوی .

کابل دیوی خونړی جګړی په لمبو کی سوځی، مطبوعات ، تلویزیون اوحکومتی دستګاه له یوی مخی له پښو لویدلی ده کابل له یوی مخی وران شوی خوداقتدار په نشه مست جنابان تری تیر ندی ، پریښودونکی ندی که دملت جنازه ایستل کیږی هم دوی یی له خپل اقتدار څخه قربانولو ته تیار دی ، که ټول ملت له یوی مخی تباه کیږی هم ددوی په سر کی به دتخت شور اونشه کراره نشی پداسی حال کی چی په نړی کی په دیره وړه اشتباه حکومتونه ماتیږی ،استعفی کوی اوپه خپله پره اواشتباه اعتراف کوی. روسانو دخپل تیری پرغلطی اعتراف وکړ خو زموږ چی هره ناروا تری وخیژی نودتوجیه هڅه یی کوی پروا نکوی چی ملت یی تباه شی اوولس یی دمرګ په سمندر لاهو .

زموږ پوخ باوردی چی ددیوه نیم ملیون مظلومو شهیدانو له سپیڅلو ارمانونو سره داړول ظلم اوجفا به ددغی فاجعی ، عاملینو ته دجزا ورکولو ورځ ضرور رادبره کړی .

عبدالوکیل

پیدایش وتکامل پول

پول عبارت ازجنس میباشد که در رابطه به ان ارزش ها وقیمت های أجناس دیگر بیان میگردد ، اما جنس عبارت ازمحصولیست که برای فروش به بازار عرضه گردد.

ارزش وقیمت یك جنس ازهمدیگر متفاوت میاشد چنانچه ارزش را کار نهفته لازم یا اوسط در جنس می نامند وتازمانیکه کار اضافی بالای ان صورت نگیرد ثابت می ماند لاکن قیمت عبارت ازتعین ارزش یك جنس در ارتباط به رفع نیازمندی میباشد وعوامل مختلف اقتصادی ، اجتماعی وسیاسی میتواند انرا به زودترین فرصت بالا ویا پائین بیاورد که در قسمت اخیر این بحث به ان اشاره خواهد شد .

پول در مرحله معین تکامل اقتصادی واجتماعی بشری بمیان امده مراحل مختلف تغیر وتکامل راپیموده ومی پاید ولی مبادله اجناس زمانی ظهور نمود که محصول اضافی بوجود امد در مراحل ابتدایی زندگی بشر که محصولات محدود وبه کمیت نسبتا کم تولیدمی گردید مبادله اجناس نیز شکل ساده راداشت یعنی جنس درمقابل جنس مبادله می شد واین مبادله مطابق به شواهد واسنادیکه وجود دارد اضافه تر ازپنج هزار سال قبل بمیان امده است .

بارشد وتکامل جوامع بشری انواع وحجم تولیدات ازدیاد یافت که در نتیجه ان مبادله اجناس نیز بیشتر شد وبه مرور زمان بین مبادله کنندگان مشکلات متنوع در ارتباط به مبادله اجناس روبه افزایش گردید برای روشن ساختن چنین مشکلات یك نمونه رایاد اور می شوم .

یك شخص گندم رابرای مبادله به بازار می اورد وبه گوسفند ضرورت میداشت درحالیکه شخص دیگر گوسفند رابرای فروش عرضه می کرد تادر بدل ان روغن بدست خویش بیاورد ولی شخص سومی روغن را می فروخت وبه گندم ضرورت داشت به این ترتیب پرابلم های مبادله کنندگان در رابطه به خرید وفروش افزایش یافت ومجبور شدند به خاطر رفع این نوع مشکلات جنس یا اجناس معین رامنحیث معادل وبیان کننده ارزش ها وقیمت های اجناس دیگر تعین نمایند تاهمه مبادله کنندگان اجناس خویش رابه جنس تعین شده مبادله نمایند وبعدا توسط این جنس که بحیث معادل یا میانجی مقرر شده است جنس مورد نظر خویش رابدست بیاورند که در نتیجه این شیوه در تبادله اجناس سهولت های زیاد بوجود امد وتعین یك یا چند جنس منحیث میانجی یا معادل مفهوم ظهور پول به شکل ابتدایی ان بود بالاخره به مرور زمان ودرمراحل مختلف بین انسان ها اجناس متنوع ازقبیل گوسفند ، گاو ، اسپ ، پوست ، مروارید ، فلزات مختلف (غیر از طلا ونقره) وغیره اجناس رامنحیث معادل قبول شده است لاکن زمانیکه به اهمیت طلا ونقره پی برده شد ودرمناطق مختلف کره زمین به مقدار

لازم تولید گردید تمام اجناس دیگر را که وظایف خویش رامنحیث معادل اجرا می کردند شکست داد و معتبر ترین معادل برای تبادله اجناس در سراسر جهان قبول گردید .

نقره خصوصا طلا که بنام فلزات نجیبه نیز یاد می شوند دارای خصوصیات مشخص وعالی ذیل میباشد .

۱- درمقابل شرایط جوی مقاومت فوق العاده زیاد را دارا میباشد.

۲- دارای قابلیت تقسیم است .

۳- مقدار کم ان نشان دهنده مقدار بیشتر ارزش است .

٤- همان طوریکه حیوانات همراه باخطر مرگ هستند طلا از چنین خطر محفوظ میباشد.

٥- امکان پائین امدن ارزش ان نسبتان کم است ومیتوان انرا بدون تشویش برای مدت طولانی ذخیره وحفظ کرد .

٦- انتقال ان نسبت به اجناس دیگر دارای سهولت ها بود .

لیکن با همه این خوبی ها به مبادله کنند گان پرابلم های رانیز بوجود اورد که عبارت بود از :

۱- برای مبادله کنندگان دشوار بود تا فیصدی انرابه طورعادی تعین نمایند یعنی در تعین فیصدی طلا مشکلات زیاد وجود داشت .

۲- طلا به بعضی فلزات ازنقطه نظر رنگ ، درجه سختی ویکعده خصوصیات دیگر مشابهت داشت .

۳- چون مقدار کم طلا نشان دهنده مقدار بیشتر ارزش بود پس تعین نمودن وزن مقدار کم ان به پرابلم های مبادله کنند گان می افزود .

بخاطر رفع این مشکلات در حدود سه هزار سال قبل شاهان و قدرتمندان در نقاط مختلف جهان طلا را با فیصدی ومقدار معین ان ضرب زدند ، به این ترتیب در مبادله اجناس سهولت های زیادی بوجود امد ومبادله کنندگان بعد از این صرف نشانه های ضرب زده شده را ملاحظه می کردند و به زودی در می یافتند که کدام سکه یا طلا ضرب زده شده در مقابل کدام مقدار جنس قابل مقایسه ومبادله است اما جوامع بشری از نقطه نظر اقتصادی وروابط اجتماعی وسیاسی رشد وتکامل می کردند ومبادله اجناس وسعت کسب می کرد که در نتیجه در حدود دوصد سال قبل نشانه های پول یعنی پول کاغذی عرض اندام نمود ودر افغانستان این نشانه پول در حدود ۱۹۲٥م نشر گردید . بوجود امدن پول کاغذی نیز دارای عوامل خاص ازخود بود که عبارت است از :

۱- در جریان مبادله مقدار معین طلا سایده می شد یعنی به مرور زمان وزن ان کم ومقدار معین طلا برباد می رفت .

۲- وزن طلا نسبت به پول کاغذی ایکه مقدار معین طلا توسط ان بیان می شد بیشتر بود ودرترانسپورت ومبادله نسبت به پول کاغذی مشکلات راایجاد میکرد .

۳- مقدار طلایکه دارای مهر ونشان (ضرب زده شدگی) بود نسبت به همان مقدار وفیصدی طلا که فاقد مهر ونشان بود ، دارای اعتبار بیشتر بود ، بالاخره در کشور های مختلف جهان مقدار معین طلا مطابق به میل ولزوم دید قدرت مندان توسط نشانه های پول (بانکنوت ها) که به پول کاغذی نیز معروف است بیان شد .

به طور نمونه در سال ۱۹٤٥ در ایالات متحده امریکا یك دالر نشان دهنده (۰.٥) گرام طلا خالص بود لاکن ممکن است نشانه های پول (پول کاغذی) برای دایم ارزش همان طلا راکه توسط ان نشان داده شده (بیان می شود) حفظ نه نماید یعنی باوجود انکه نشانه های پول به اساس پشتیوانه مقدار معین طلا به جریان انداخته می شود اما تغیرات اقتصادی وسیاسی باعث می شود که ارزش ان نسبت به ستندردیکه در ابتدا توسط ارگان های ذیصلاح دولتی برای ان تعین می گردد تغیر نماید ودر عصر حاضر همه تولیدات واقتصاد کشورها به مثابه پشتیوانه نشانه های پول (پول کاغذی) ارزیابی می گردد.

درعصر کنونی ارزش ها وقیمت های اجناس رامیتوان توسط نشانه های

دیگر (چك های بانکی ، اوراق بهادر ، اوراق سهام ...) نیز تعین نمود ، پول کاغذی به همان کمیت درجریان انداخته میشود که بتواند مبادله وتجارت اجناس را در کشور به طور نورمال به چرخش اورده بتواند هر گاه کمیت انتشار پول کاغذی از اندازه یکه لازم است بیشتر پخش گردد باعث انفلاسیون یا از دست دادن ارزش پول کاغذی می گردد (هرگاه شرایط وعوامل دیگرثابت فرض شود تولید وانتشار بیشتر پول اصلی طلا نیز درپائین امدن ارزش ان موثر میباشد) دراین صورت اشخاص متحمل زیان های اقتصادی مشوند که قبل از انتشاربیشتر نشانه های پول ، دارای همان نشانه های پول در دست خویش باشند دراین حالت دولت مانند اشخاص ، متحمل زیان نمی گردد لاکن مصارف چاپ یاساختن ان بی هوده وبرای مردم همان کشور کدام منفعت ندارد .

دربعضی موارد نشر بیشتر پول کاغذی یعنی نشر کمیت پولیکه از احتیاجات وضرورت ان بخاطر مبادله تجاوز کند برای بعضی از دولت ها که دچار بحران های اقتصادی وسیاسی شده باشند در مراحل مشخص بمثابه تنفس مصنوعی تلقی شده میتواند ، به طور مثال بعد از کودتا هفت ثور ۱۳۵۷ هـ ش درافغانستان وبه تعقیب ان اشغال افغانستان توسط عساکر روس (۱۳۵۸ هـ ش) مردم افغانستان بر ضد ان ها (روس ها ومزدوران خلقی وپرچمی ان ها) به پاخاستند زراعت ، مالداری ، تجارت وصنعت را رها نمودند وبه عوض ان شمشیر وتفنگ را در دست گرفتند وعلیه دشمنان اسلام ووطن جهاد را در سرتاسر کشور اغاز نمودند که به زودی در تولیدات کشور کاهش جبران ناپذیری رونما گردید مالیات ، گمرکات وسایر عایدات دولتی از بین رفتند وازسوی مجاهدین تلفات گوناگون اقتصادی رابه رژیم دست نشانده روس از دیاد یافت وروسها نیز نتوانستند مصارف وپرابلم های اقتصادی رژیم مزدور خویش رابه طور نورمال مرفوع سازند که در جریان این جنگ حق وباطل عایدات رژیم مزدور کابل کم وبرایدات ان از دیاد می یافت در نتیجه پول کاغذی ایکه ازطرف رژیم کابل به نشر می رسید (معاشات مامورین دولت ، مصارف اجنتوری وسایر مصارف مربوط به جنگ ...) بار دوم به همان کمیت نشر شده به دست رژیم کابل برنمی گردید یعنی دوران نورمال پول صورت نمی گرفت روی این ملحوظات روس ها ورژیم دست نشانده کابل مجبور شدند که در هر سال چند بار پول کاغذی راچاپ ونشر نمایند که به مرور زمان انفلاسیون شدت کسب کرد ودرمرحله اخیر موجودیت رژیم کابل به اندازه رسید که مردم بخاطر خرید بعضی اجناس نسبت به وزن همان جنسیکه خریداری می شددرمقابل ان پول به حجم بیشتر ووزینتر می پرداخت دراین صورت کمیت پول نسبت به احتیاجات ضروری برای مبادله تجاوز نمود لاکن نه تنها باعث سقوط ومانع کامل حرکت در ساحات اقتصادی ومالی نشد بلکه به رژیم از نقطه نظر اقتصادی ومالی منحیث تنفس مصنوعی نیز بشمار رفت اما مصارف ساختن یاچاپ کردن پول مذکور بیهوده ودر رابطه به منافع مردم وترقی کشور کدام نقش مثبت راایفا نه نمود ودر سطح زندگی مردم خصوصا انهایکه ازنقطه نظر اقتصادی وابسته به دولت دست نشانده روس بود (مامورین دولت) اثرات فوق العاده منفی رابه بار اورد در مرحله مذکور پول کاغذی رژیم کابل حالت توپ واليبال رابخود گرفت ودر صورت بدست امدن ان باید فورا از خود دور می گردید یعنی در صورتیکه پول بدست امده به زودترین فرصت به جنس تبدیل نمی گردید مانند انکه واليبالرها توپ را در دست های خویش برای چند ثانیه حفظ کرده باشد وبه اساس این عمل خویش یك نمبر را از دست داده باشد به ین ترتیب در این نوع حالات حفظ پول کاغذی به مرور هر روز ارزش خویش را از دست میدهد که به مثابه ازدست دادن کمیت معین

پول یا مقدار معین جنس تلقی می گردد وکسانیکه میخواهند ذخیره نشانه های پول داشته باشد به عوض این نوع پول کاغذی که ارزش خویش رابه طور دوامدار از دست میدهد باید طلا یا پول کاغذی خارجی معتبر ویا اجناسیکه کیفیت خود را به زودی ازدست نمی دهند ذخیره وحفظ نمایند .

در جهان کنونی به صورت عموم پول کاغذی جای پول اصلی (طلا) رادر مبادله بخصوص مبادله اجناس در داخل کشور ها را گرفته است لاکن تجارت خارجی به اساس پول کاغذی معتبر در مقابل جنس یا جنس در مقابل جنس ویا اینکه طلا در مقابل جنس صورت می گیرد ولی اینکه قیمت اجناس چرا پائین وبالا میرود مربوط به عوامل مختلف میباشد که اینك به عده این عوامل به طور مختصر اشاره میشود.

دراین صورت زمانیکه یك عامل تغیر قیمت مورد بر رسی قرار میگیرد عوامل دیگری که در تغیر قیمت ها موثر هستند ثابت فرض میشود .

۱- عرضه و تقاضا :

تغیراتیکه درعرضه وتقاضای اجناس بوجود می اید باعث بالا وپائین امدن قیمت ها میشود در صورتیکه عرضه نسبت به تقاضا یك جنس بیشتر گردد قیمت همان جنس حالت نزولی رابخود کسب می کند .

درحالت فوق ازیك سو خریدار ان صرف نیازمندی های روز مره خویش را در رابطه به جنس مذکور مرفوع میسازند وبه ذخیره ان علاقه از خود نشان نمی دهند زیرا امید وار میباشند که قیمت جنس مذکور هنوز بیشتر از پیش پائین خواهد شد ازسوی دیگر فروشند گان یا عرضه کنند گان مشاهده می نمایند که اجناس یا جنس شان به مقدار فراوان در بازار وجود دارد وهر گاه جنس دست داشته خویش را زودتربه فروش نرساند امکان از دست دادن کیفیت (عده از اجناس کیفیت خود را زودتر ازدست میدهند)، راکد ماندن وتاخیر در دوران سرمایه وی عرض اندام خواهد کرد پس برای اینکه انرا هرچه زودتر به فروش برساند باید قیمت جنس مذکور راپائین بیاورد این حالت بازار را همه فروشند گان اجناس احساس می کنند وبرای نجات ازخطرات فوق الذکر قیمت های اجناس خویش را تنزل میدهند که در مجموع تمام فروشند گان متحمل زیان ها ویا بدست اوردن منفعت نسبتاً کمتر می شوند ، همچنان اگر به صورت عموم عرضه اجناس بلند گردد ، ومتناسب به ان تقاضا نیز از دیاد یابد دراین حالت کمیت معین پولیکه در جریان است به همه اجناس عرضه شده مطابق به کمیت قبلی کفایت نمی کند وباعث پائین امدن قیمت ها می شود.

به طور مثال هرگاه مقدار وحجم عمومی اجناس یا عرضه دو برابر گردد یعنی صد فیصد بالا برود وکمیت پول ثابت فرض شود دراین حالت هر جنسیکه قبلا یك واحد پول را جذب می کرد اکنون نصف واحد پول را جذی می کند با ین معنی که عرضه یا مقدار وحجم اجناس صد فیصد بال رفته است اماقیمت ها پنجاه فیصد پائین میگردند ، لاکن هر گاه تقاضا نسبت به عرضه بیشتر گردد در این حالت ازیك سو فروشندگان ملاحظه می کنند که جنس یا اجناس انها دارای خریداران بیشتر میباشند ومقدار جنس یا اجناس مورد نظر در بازار کمتر است وانرا به قیمت بلند تر نیز به فروش رسانده می توانند وازسوی دیگر خریداران یا تقاضا کنند گان نیزقلت جنس مورد نظر را احساس می کنند وسعی به عمل می اورند تا انرا هرچه زودتر وبه مقدار بیشتر خریداری نمایند که در نتیجه این نوع خرید وفروش بعد ازسپری شدن زمان معین کمبودی جنس مذکور شدت اختیار می کند ودر تقاضا ان نیز افزایش بعمل می اید وقیمت جنس مذکور حالت صعودی رابخود کسب می کند .

هرگاه عرضه اجناس به صورت عموم پنجاه فیصد پائین گردد وکمیت پول ثابت فرض شود در این حالت هر واحد جنسیکه قبلا به یك واحد پول خریداری میشد اکنون بایدبه دو واحد پول خریداری گردد یعنی قیمت ها صد فیصد بالا می روند .

۲ - کمیت پول :

اگر کمیت پول از اندازه ایکه بتواند مبادله وتجارت یك کشور رابه دوران اندازد ، بیشتر یا کمتر گردد تغیر

قیمت ها رخ میدهد برای روشن شدن بیشتر مطلب فوق بعضی جوانب انرا تماس می گیرم .

هرگاه دریك كشور صد ملیارد واحد پول در جریان باشد و یكدانه گوگرد به یك واحد پول خرید وفروش گردد اگردراین صورت یك صد ملیارد واحد پول دیگر نیز بالای یك صد ملیارد پول قبلی علاوه وانتشار شود ومقدار اجناس به حالت ثابت فرض گردد در چنین حالت چون مجموع پول انتشار شده به دو صد ملیارد واحد پول میرسد پس یكدانه گوگرد باید به دو واحد پول خرید وفروش گردد.

درحالات فوق الذكر كمیت پول صد فیصد بلند رفت وقیمت ها نیز متناسب به ان صد فیصد بالا می رود اما هرگاه صد ملیارد واحد پول در جریان باشد وكمیت ان به پنجاه ملیارد تنزل نماید در صورتیكه اجناس حالت ثابت را داشته باشد قیمت ها نیز پنجاه فیصد تنزل خواهد كرد .

٣ – رقا بت :

گاهی سرمایه داران بزرگ بخاطر ورشكست یا ازبین بردن سرمایه سرمایه داران كوچك قیمت یك یا چند جنس راپائین می اورند دراین نوع حالات اگر سرمایه داران كوچك قیمت اجناس خویش را پائین می اورند توانایی به دوران انداختن سرمایه را بخاطر از دست میدهند كه دارای سرمایه های نسبتا كمتر میباشند اما در صورتیكه قیمت انرا بحالت قبلی خویش حفظ می كنند به فروش نمی رسند در نتیجه سرمایه های انها به مرور زمان از دوران نورمال می افتند وورشكست می شوند لاكن سرمایه داران بزرگ بعد از شكست سرمایه داران كوچك قیمت همان اجناس را بلند می برند وصاحبان منفعت های بیشترمی شوند به طور نمونه میتوان ورشكست سرمایه دار ملی افغانستان شاكر توسط كمپرادوران (دلال) افغانی وسرمایه داران جاپانی را نام برد. شاكر یكی از سرمایه داران ملی افغانستان بود كه در زمان سلطنت محمد ظاهر كارخانه چاینك وپیاله سازی را اعمار نمود اما سرمایه داران جاپانی به همكاری كمپرا دوران افغانی سیل چاینك وپیاله ساخت جاپانی رابه افغانستان سرازیر نمود وقیمت انها رابرای شكست رقیب خویش(شاكر)پائین اورد چون چاینك و پیاله جاپانی نسبت به چاینك وپیاله شاكر ارزان ، شیك و با دوام بود ومردم به خریدن ان شروع كرند اما چینی باب شاكر از فروش بازماند ودر بازار انبار شد به مرور زمان سرمایه شاكر از دوران بازماند و كارخانه شان سقوط وور شكست گردید .

زمانیكه بعد از شكست شاكر سرمایه داران جاپانی وكمپرادوران افغانی مطمئن شدند كه دیگر سرمایه دار ملی افغانستان بار دوم توانایی به كار انداختن كارخانه خویش را ندارد ، به زودی قیمت چاینك وپیاله خویش را بالا برد.به این شكل رقابت میتواند در تغیر قیمت ها موثر باشد .

قابل یاد اوری است كه تغیر قیمت به اساس دلخواه هیچ كس صورت نمی گیرد بلكه تحت قوانین خاص اقتصادی بالا وپائین میرود همان طور كه مشاهده گردید سرمایه داران جاپانی وكمپرا دوران افغانی رمز پیروزی اقتصادی خویش را درك وانرا در عمل تطبیق نمودند ودیده شد كه در ابتدا زیان های معین را متحمل شدند اما این زیانهای تاكتیكی بود وتوانستند ازاین طریق به اهداف استراتیژیك خویش كه عبارت از ورشكست كارخانه شاكر وبلند بردن قیمت اجناس خویش بود نایل ایند .

٤ – حا صل نمو د ن شهرت اجناس :

سرمایه داران برای حاصل نمودن شهرت اجناس خویش در ابتدا اجناس با كیفیت وشیك را تولید وبه قیمت پائین عرضه می كنند زمانیكه خریداران به خوبی های ان ها پی بردند از شهرت خاص برخوردار میگردند وقتیكه سرمایه داران درك نمودند كه اجناس شان شهرت واعتبار لازم رابخود كسب نموده است فوراً یا اینكه قیمت آنها را مستقیماً بالا می برند ویا اینكه قیمت اجناس خویش را ثابت نگاه میدارند لاكن انرا به كیفیت پائین تولید می كنند كه در هر دو صورت قیمت آن نسبت به سابق بلند می باشد .

٥ - سبسایدی :
عده از دولتین گاهی یك یا چند جنس رابه بازار عرضه می کنند که نسبت به قیمتیکه برای دولت تمام شده است کمتر به فروش می رسانند ویا اینکه به قیمت تمامشد یعنی بدون به دست اوردن منفعت برای فروش عرضه میدارند در صورتیکه اجناس مذکور به کمیت لازم به بازار عرضه گردد به طور عموم در همان نوع اجناس واجناس مشابه انها پائین شدن قیمت ها محسوس میشود .

٦ - انحصار :
در بازار های آزادیکه انحصار وجود نداشته باشد ، رقابت بین فروشند گان باعث پائین امدن قیمت هامی شود لاکن هرگاه اجناس معین تحت انحصار اورده شود در این صورت انحصار گران قیمت اجناس خویش را بلند می برند.

٧ - ارزیا بی آینده :
هرگاه فروشند گان احساس نمایند یك یا چند جنس که انرا به فروش می رسانند نظر به عوامل شناخته شده در آینده قلت خواهد یافت دراین صورت قبل از انکه در اجناس مذکور عملاً کدام تغیر بوجود بیاید. قیمت انها را بلند می برند طور نمونه اگر گندم فروشان احساس نمایند که مقدار حاصلات گندم که بعد از چند ماه جمع اوری می گردد نسبتاً کمتر خواهد بود در این حالت با وجود انکه عرضه وتقاضا ، کمیت پول وسایر عوامل ایکه در تغیر قیمت ها موثر هستند نیز ثابت باشند بازهم گندم فروشان قیمت گندم خویش را بلند می برند .
به این ترتیب هرگاه فروشنده گان احساس نمایند که درآینده نظربه عوامل شناخته شده کمیت اجناسیکه آنرابه فروش می رسانند ازدیاد خواهد یافت ویا تقاضای انها کمتر خواهد شد دراین صورت نیز قبل از اینکه حالت فوق عملاً روی کارگرددفروشنده گان قیمت اجناس مذکوررا پائین می اورند.

٨ - مارك جعلی :
درحالت فوق اجناس به کیفیت پائین تولید می گردد یعنی دارای ارزش نسبتاً پائین میباشند لاکن بخاطر بدست اوردن منفعت بیشتر بالای آنها مارك اجناس را درج ونصب می کنند که نسبتاً معتبر با کیفیت وشهرت یافته باشند دراین صورت اجناس مذکور رابه قیمت اجناس معتبر وشهرت یافته به فروش می رسانند که در واقعیت قیمت انرا به طور جعلی ونامحسوس نسبت به زمان وحالت قبلی (زمانیکه اجناس مورد نظر فاقد مارك جعلی بودند) بلند میبرند .

٩ - مداخله بانك های مرکزی در معاملات تبادله پول :
گاهی پول کاغذی یك کشور نظر به عوامل مختلف اقتصادی وسیاسی قیمت قبلی خود را از دست میدهد به این معنی که قیمت اجناس در مقابل همان پول بلند می شود در این نوع شرایط بانك مرکزی که کنترول پول همان کشور را عهده دار میباشد مقدار معین پول کاغذی مربوط خویش را توسط پول کاغذی معتبر خارجی یا طلا خریداری می نماید که در نتیجه کمیت پول مذکور در بازار تبادله پول کمتر می شود وقیمت (بعضی ها انرا ارزش میخواند)
از دست رفته پول کاغذی کشور شان به حالت نور مال برمی گردد.
پولیکه توسط بانك مرکزی خریداری می شود انرا برای مدت معین حفظ می کند اما بعد از انکه قیمت پول شان به حالت نور مال رسید بار دیگر به نشر ان اقدام می نماید .

١٠- بلند رفتن قیمت بیشتر پول کاغذی :
هرگاه قیمت پول کاغذی یك کشور نسبتاً بیشتر بلند گردد خریدن اجناس خارجی برای مردم ان کشور ارزانتر ومفید میباشد وبه مرور زمان اجناس کشوریکه قیمت پول شان بسیار بلند رفته است از فروش نور مال بازمی مانند در صورتیکه این حالت دوام پیدا کند باعث ورشکستگی کمپنی ها ، کارخانه ها وفابریکات می شود که به تعقیب ان بحران اقتصادی بوجود می اید وقیمت پول شان نسبتاً بیشتر پائین میشود که در نتیجه باعث بلند رفتن قیمت اجناس در ان کشور می گردد.
به این ترتیب عوامل مذکور در تغیر قیمت ها موثر هستند وپول نیز مانند سایر نهاد های جامعه بشری تغیر وتکامل نموده ودر پیشرفت اقتصادی واجتماعی ازنقش خاص برخوردار میباشد .

*** په کابل کې دسولې دهلو ځلو ریښتنې او مفصل رپوټ :**

دالحاج مولوي جلال الدین حقاني ترمشرۍ:

دسولې دکمیسون دپریکړو دعملې کیدو په مخه کې

دخنډ اوځنډ عمال اوعوامل

فضل باري وردك

د۱۳۷۱ لمریز کال په دبره کیدو دکابل مزدور رژیم دخپلې متزلزلې بقا وروستې شپې ورځې تیرولې ، گردیز دتیرکال له منې راهیسې ترسختې محاصرې لاندې ؤ اودرژیم قوتونه په وروستې کمربند کې دننه ایسار شوي ؤ – طبیعي وه چې دیخنې په تیریدو او دموسم په ښه کیدو دیوې وروستې حملې په جریان کې گردیز دمجاهدینو له خوافتحه کیدونکې ؤ. دگردیز په فتحه کیدو درژیم بشپړ زوال حتمې ؤ ځکه دجنوب په استقامت درژیم لومړنې ځاله اوپایگاه خوست وه دوهم گردیز اودریم کابل .

دگردیز له فتحه کیدو سره بیا دمجاهدینو اوکابل تر منځ کوم حایل نه پاتې کیده اونور نو دکابل په لور په جنوبي استقامت دمجاهدینو دپرمختګ لاره پرانیستې وه اودجهادي غورځنګو دتوپانې بهیر لورې بیا هیچا هم دهرډول قوت داستعمال سره سره نشوای بندولی. له بلې خواشوروي اتحاد ټوټې شوي ؤ اودکمونیزم جنازه لامخکې له نړۍ څخه ایستل شوې وه اورژیم په رڼه میدان یواځې پاتې ښکاریده. رژیم چې دخپل محتوم شکست اوبشپړ زوال تیاره راتلونکې لیده نودملگرو ملتونو دسولې پروسه یې دځان لپاره ډیره ښه وسیله اوابرومندانه په شاتګ گانه اوغوښتل یې چې لدې لارې ځانته دختو پوزه جوړه او لدې کړکیچ څخه پښې وباسي اوقدرت دبیطرفو شخصیتونو په نامه یوې ډلې ته پریږدي خودملگرو ملتونو دطرحې عملي کیدو ډیر زیات وخت ونیو اوحرکت یې دیر بطې اوله ګڼو مشکلاتو سره مخامخ ؤ .

دملگرو ملتونو دسیاسي حل پروسې وروستیو هلو ځلو نژدې شپږ میاشتې وخت ونیو پدې کې کافي وخت په بیطرفو شخصیتونوباندې دتوافق ناندریو ونیو چې جهادي مشرانو دهغوی پرسر ډیرزیات وخت او فرصت ضایع کړ ، په پای کې داسې وخت هم راغې چې جهادي مشرانو دبیطرفو شخصیتونو لستونه جوړ او ملگرو ملتونو ته وسپارل .

پدې وخت کې پاکستان هم دقضیې له سیاسي حل سره ډیره زیاته دلچسپي ښکاره کوله دوی غوښتل دقضیې له حل وروسته ډیر ژر له منځنې اسیا سره تجارتي اړیکې ټینگې کړي اوپدې لار کې له ایران څخه یوقدم وړاندې شي ، له همدې ځایه یې دیوه وفاقي وزیر سرداراصف علي په مشرۍ منځنې اسیاته لوړ رتبه هیئت ولیږه او دتجارتي قرار– دادونو دلاسلیکولو زمینه یې برابره کړه نور نو پاکستان ډیر جدي ؤ چې قضیه له سیاسي لارې حل شي ځکه خو دملگرو ملتونوله خوا دسیاسي حل دپروسې دکامیابۍ چانس زیات شو اوپدې رابطه یې له هر اړخه نوې امیدونه پیدا کړل .

استاد رباني چې تیر کال دده په مشرۍ روسیې ته دمجاهدینو هیئت تللې ؤ بیله دې چې کوم دکتنې وړ برې ترلاسه کړي خالي لاس پاکستان ته راغلې ؤ دغه سفر دمجاهدینودځینو مشرانو او جهادي شخصیتونو دسخت عکس العمل اومخالفت سره مخامخ شو اوپه خبرو کې

دمجاهدینو دموقف ضعف دغو مخالفتونواو عکس العملونو ته نوره هم پراختیا ورکړه . اوداسی یو تشویش یی رامنځ ته کړ چی دیوی خطرناکی لوبی اوسازش څرک تری لګیدلو .
نجیب دروسانو له خوا دمرستی دقطع کیدو ویری په سر اخیستی و، روسیه له داخلی جنجالونو اوشدیدو اقتصادی ستونزو سره مخامخ وه اونه یی شوای کولی چی پداسی حالاتو کی دنجیب له رژیم سره خپلو مرستو ته دوام ورکړی .
له همدی ځایه وه چی دنجیب رژیم دسقوط شپی ورځی بیخی لنډی ښکاریدی .
دملګرو ملتونو استازی بینن سیوان مطمئن ؤ چی دسیاسی حل پروسه به اوس ضرور دکامیابی سرمنزل ته رسیږی .
دمجاهدینو مشران هم تر سخت فشار لاندی وو چی یاخو دملګرو ملتونو طرحه ومنی اویا خپله یوه داسی طرحه اوفورمول وړاندی کړی چی ټولو اړخونو ته دقبول اوتوافق وړوی .
داپریل له ۱۸ نیټی مخکی جهادی مشرانو دبیطرفه کسانو په لست توافق کړی ؤ داپریل په ۱۸ نیټه سیوان کابل ته د تلو پروګرام درلود اوټاکل شوی وه چی پدی نیټه نجیب باید استعفی ورکړی وای اوقدرت یی بیطرفه کمیسیون ته سپارلی وای .
خولدی دری ورځی مخکی په شمال کی دشورای نظار او دوستم دملیشی ترمنځ دائتلاف خبر راغی چی لدی سره داستاد ربانی موقف بدل شو هغه ټینګار کاوه چی اوس باید پدا ډول طرحو وخت ضایع نکړو، موضوع حل ده او نجیب دسیوان د طرحی له عملی کیدو پرته له منځه تللی دی. احمد شاه مسعود هم همدا هیله کوله چی دیوی اداری په جوړیدو توافق وکړی اودسیوان طرحه له پامه وغورځوی که څه هم هغه لدی مخکی دملګرو ملتونو له هغی طرحی خپل ملاتړ څرګند کړی ؤ خو اوس عملا دهغی په مخالفت کی ولاړ ؤ داسی معلومیده لکه چی مخکنی تائید یی مازی تاکتیکی اودملګرو ملتونو داغفال لپاره ؤ .
که څه هم سیوان په وروستیو شیبو کی هم هڅه وکړه چی استاد ربانی دی ته تشویق اومتقاعد کړی چی دبی طرفه کسانو هیئت چی دمجاهدینو له خوا پری توافق شوی ؤ له ځان سره کابل ته بوځی اوسملاستی دنجیب له استعفی سره هغوی ته واک وسپارل شی خو دشمال دانکشافاتو له مخی

● چهلستون دیوه ملي زعامت یوقوي او ملي مرکز ګرځیدلي ؤ- دلته یو داسي درویش مجاهد په یوه ریښتني او بي الایشه انداز کي دولس دردونو ته دد‌رمل اودستونزو دحل په لټون بوخت ؤ چي دهغوي دهردرد ځریکه اودهر غم اومصیبت احساس یي په پراخه اورنه تندي کې له ورایه معلومیده .

داستاد ربانی موقف داطرحه له یوی مخی نفی کړه اوداسی حالات یی رامنځ ته کړل چی نور دی طرحی ته دڅه ګنجایش ځای نه ؤ پاتی .
په شمال کی منځ ته راغلی ائتلاف لالدی مخکی دخپل پرمختګ اوراتلونکی بری څو پړاوونه ددپلوماسی په رنګینه جامه کی ښه په مهارت سره شاته کړی وو.
په تهران کی استاد ربانی دفرهنګی اوکلتوری ترون ترپردی لاندی له ایرانی واکمنو اودتاجکستان له کمونست جمهور رئیس سره یولړ توافقاتو ته رسیدلی ؤ لدی مخکی په طایف او روسیه کی یی له روسی واکمنو سره دمذاکراتو داوږدی سابقی له مخی په ښه چانس اوموقعیت کی ځای نیولی ؤ له لیبیا سره ګرمو اړیکو ورته دازمینه نوره هم مساعده کړی وه ، دقومی ، سمتی اوژبنیو تمایلاتو احساس ددغه ډول طرحی اوائتلاف رامنځته کولو اوپرمختګ ته لاله مخکی مواد اوشرایط برابر کړی ؤ پدی توګه دشمال انکشافاتو په غیر مترقبه توګه په سوله ایزه توګه دهر حرکت په وړاندی دخنډ دیوالونه ودرول اوټولی هڅی اوکوښښونه یی سبوتاژ کړل .
ویل کیږی چی نجیب دسیوان دطرحی دوروستیو مرحلو ته په انتظار کی ؤ چی دهغی له مخی قدرت پریږدی تردی چی په ډیلی کی یی دځان اوځینو نژدی انډیوالانو لپاره دکورونو اواوسیدو بندبست هم کړی ؤ خودنجیب مشکل داو چی دهغه هر عمل اواقدام آنی اوفوری بڼه لرله له همدی ځایه وه چی دی دبیرک دډلی له خوا داسی محاصره شوی ؤ چی نور دهر ډول اقدام له عملی کیدو څخه ناتوانه شوی ؤ .
نجیب په وروستیو وختونو کی هڅه کوله چی قدرت یو جریان یایوی ډلی اوګروپ ته دپریښودو په ځای داسی یو متحدی اومتفقی اداری ته وسپاری چی لږترلږه دده په نیکنامی اوژوند په تضمین تمام اوله هیواد څخه دوتلو چانس ورته برابر وی

خودبیرك پلگی داخځه کوله چی قدرت کابل ته نژدی دشورای نظار اودوستم گډ ائتلاف ته وسپارل شی اویا داسی طرحه پلی کړی شی چی دغو پلو ته پکی دخورا زیات امتیاز اوتقوق تضمین شوی وی نجیب پدی وخت کی بیخی گوښه او بی صلاحیته شوی ؤ یواځی دخاد مشراودهغه مرستیال لده ځخه پلوی کوله چی هغه هم ووژل شول له همدی ځایه وه چی نجیب له اقتداره لیری اوله هیواد ځخه په تښتیدو تورن شو اودشورای نظار اودوستم ائتلافی جبهی ته دامتیاز اوتفوق دلاس ته راوړلو مخه پرانیستل شوه

داوخت دبیرك دپرچم پلی ته دتحرك ښه مخه پرانیستل شوی وه اوپه شمال کی ددوستم ملیشو، دکیان ځواکونو دحزب وحدت

● دسولي دکمیسون هغه جامع مصوبه چي دټولو جهادي اوملي ځواکونو تائید ورسره ؤ نه یواځې داچې حکومت دراديوتلويزيون اومطبوعاتو له لاري اعلان نکړه بلکې حکمتیار اومسعود دبهرنیو شخصیتونو په وړاندي دخپل ملاقات په ترڅ کې دیوي بلي موافقي دلاسلیکولو له لاري دهغي پرخلاف عمل وکړ

افرادو دشورای نظار سره په یوه گډه ائتلافی جبهه کی د سیاسی اقتدار لپاره خپله طرحه په ډیره بیړه دصحنی مخی ته وړاندی کړه اویوه داسی فاجعه یی رامنځته کړه چی دروسی پرغلگرو اوتیرو ځوارلسو کلونو دبربادیو اووحشتونو ماجرایی له خلکو هیره کړه.

دغه ټکی ددوستم په مشری دجنبش ملی اسلامی دمرامنامی په خپرونه کی چی «اسنادو فیصله های نخستین مجمع عمومی مؤسسان جنبش ملی واسلامی افغانستان» ترعنوان لاندی د۱۳۷۱ لمریز کال دسرطان په میاشت کی دکابل په دولتی مطبعه خپره شوی په ۵ مخ کی لیکل شوی : «جنبش ملی واسلامی که برای تامین صلح وقطع جنگ وبرادرکشی به وجود امد ویا همبستگی وائتلاف باشورا نظار وحزب وحدت درتعین حکومت نقش تعین کننده ایفا نموده» .

دوستم دگوند دمرامنامی الفاظ دجملو اوعباراتو ترکیب اواصطلاحات داپه ډاگه کوی چی ددغه مرامنامی ټکی اوالفاظ دبیرك له دماغ اوقلم ځخه راوتلی اوداسی ښکاری لکه چی هغه همدا اوس له کابل رادیو ځخه په خپله ستغه حنجره بیانیه ورکوی .

په شمال کی له منځ ته راغلی ائتلاف سره ددوستم دبدنامو ملیشو له خواپر کابل یرغل اوله حزب اسلامی سره جگړی داسی اوربل کړچی دخلکو په عزت ناموس اوشتمنی یی له یوی مخی اوربوری کړ.

نجیب چی یو وخت یی ددوستم ملیشو ته دنجات دفرښتو خطاب کړی ؤ اوهغه دخپل اقتدار په خاطر ددوی دټولو جنایاتو اووحشتونو ننگه اوملاتړ کاوه اودهیواد په گڼو سیمو لکه میدان ، ننگرهار ، خوست ، گردیز ، کندهار اونورو کی یی دمجاهدینو پر ضد له روسی عسکرو زیات په وحشت اوبربریت سره جنگولی وو اوس دروسانو دپخوانیو پروگرامونو په جهت کی په ده سترگی رابرندی کړی وی– اخرچی روس تره کی پر امین اوامین په ببرك وژلی اوببرك پر نجیب بدلولی شی نو نجیب به ځنگه ددوستم اودهغی دمتحدینو په لاس له صحنی نشی لیری کولی اوښکاره خبره ده چی ددغه ائتلاف دنورو اړخونو اوعناصرو سرنوشت هم لدی پرته بل څه نشی اټکل کیدی .

لکه ځنگه چی ویره کیده دجگړی اورپه کابل سوځوونکی لمبی بلی کړی دوحشت او دهشت لړزونکی فاجعی یی رامنځ ته کړی اوداخطریی قوی کړچی دجگړی دغه سوځوونکی اورهری سیمی ، هرښارهرکلی اوکوځی ته ورسیږی.

اقتدار په متعددو مرکزونو تقسیم شو دپوځی فرقو درنی وسلی دخلکو لاسونو ته ولویدی اودکابل ښاربوژونکو اودرنو وسلو تر تهدید او اورلاندی ونیول شو.

دکابل هره کوځه ، هر کور او هر پارتمان درندو وسلو ونیو هرډولتی اداره دخونړی جگړی سنگر اودبیلابیلو قوتونو په کنترول کی پاتی شو او هره لحظه دیوی خونړی جگړی امکانات پخپل ټول قوت اماده لیدل کیدل.

پدغه حساس او ټاکوونکی وخت کی چی هری لحظی یی تباه کوونکی او ډیرخطرناك عواقب له ځان سره لرل اودهیواد ارضی تمامیت اوملی وحدت یی له ستر گواښ سره مخ کړی ؤ

الحاج مولوی جلال الدین حقانی لدغو گواښونو اوخطرونو څخه دجهاد داهدافو اودهیواد اوولس دژغورنی پخاطر په خپلوخیرغوښتونکو اقداماتو لاس پوری کړ.

الحاج مولوی جلال الدین حقانی له انجنیر حکمتیار سره پخپل ملاقات کی پدی ټینگار درلود:که څه هم په کابل کی دمجددی صاحب دحکومت اومسلطی وضعی په هکله ملاحظات اواعتراضات موجود دی خودا باید دخبرو اومذاکرو له لاری حل شوی وای اولدی کبله چی ملحد رژیم دسقوط په حال کی ځکه خونور دجنگ لپاره هدف نشوای گرځیدلی .

پدی توگه په همدغه لومړی ملاقات کی الحاج حقانی له محترم حکمتیار څخه واك اواختیار ترلاسه کړاودټزبندی وعده یی ورڅخه واخیسته اوپه لیکلی توگه یی حقانی صاحب ته دسولی اوجنگ دبندیدو اختیار ورکړ چی پدی رابطه هره فیصله وکړی دی به یی په بشپړه توگه رعایت کوی اوداهم ضروری وگڼل شوه چی له کابل څخه به ددوستم دملیشی قوتونه وځی ، او په حکومت کی به کمونستو عناصرو ته ځای نه ورکول کیږی .

لدی وروسته حقانی صاحب پل علم ته راستون شو اودمخابری له لاری یی له احمد شاه مسعود سره رابطه ونیوه اودمنځگړیتوب اوټزبندی په هکله یی له هغه څخه غوښتنه اودخپلو سوله ائیزه کوښښونو یادونه وکړه. احمد شاه مسعود هم لدی اقدام سره خپل توافق وښود او حقانی صاحب ته یی دځان له طرفه بشپړ واك اواختیار ورکړاو وعده یی وکړه چی دسولی په رابطه به ددوی داقداماتو درناوی کوی اودهغی مندرجات به عملی کوی .

لدی وروسته حقانی صاحب دهیواد دپنځو ولایتونو شورا چی په هغی کی دپکتیا ، پکتیکا ، لوگر ، وردگو اوغزنی دمجاهدینو استازو اوقوماندانانو برخه لرله دثور په ١٢ نیټه دایره کړه اودسولی په رابطه یی خپل پروگرام هغوی ته اعلان اوټول جریان یی هغوی ته توضیح کړ- فیصله داسی وشوه چی دحقانی صاحب ترمشری لاندی به دهر ولایت څخه څو تنه علماء مخور او قوماندان کابل ته ځی او له اړوند خواو سره به دسولی داعادی اوکړکیچونو په رابطه خبری کوی .

دثور په ١٤ نیټه محترم حقانی صاحب له ګڼو قوماندانانو او مخورو سره ترسلامشورو وروسته دسولی دپروسی دجدی تعقیب په خاطر دریشخور په لور حرکت وکړ چی په لارکی یی دمجاهدینواوخلکو له خوا ډیر دروند اوتود هرکلی وشو.

دثور په ١٥ نیټه یی له استاد سیاف سره دحالاتو په رابطه اوږدی خبری وکړی:دوی هیله لرله چی دجهادی قوماندانانو دراغونډولو له اړخه دوه قوتونه جوړ کړی لومړی دحق ویلو قوت اودوهم دنظم قوت چی بیا به له همدی لاری له مجددی اواحمدشاه مسعود سره دحکومت دسیستم اواجراتو اوترکیب په هکله جدی خبرې وکړی ترڅوجگړه بیخی ختمه اوامنیت ټینگ شی ، دگلم جم ملیشی له کابل څخه ویستل شی له حکومتی ارگانو څخه کمونستانو لیری کړی اوکه داسی ونه شول بیا به قوماندان خپل تصمیم نیسی. هماغه ؤ چی دثور په ١٦ نیټه یی دپنځو ولایتونو قوماندانان په ریشخور کی راغونډ کړل له یو لړ تودو بحثونو وروسته دټولو په اتفاق یو ٣٠ کسیز هیئت وټاکل شو چی دحقانی صاحب پیغام ، پروگرام او غوښتنی جهادی شورا او دهغی مشرته توضیح او وړاندی کړی.

هیئت دجهادی شورای مشر ته دحقانی صاحب پیغام، دسولی په رابطه طرحه ،غوښتنی اعتراضونه اوانتقادونه توضیح اوتشریح کړل چی دمجددی له خوایی ښه استقبال وشو اودهغی په رابطه یی تعمیل اوهمکاری وعده ورکړه .

لدی وروسته حقانی صاحب دثور په ١٧ نیټه ددی لپاره چی دسولی پروسه له نژدی څخه تعقیب کړی له ریشخور څخه چهلستون ته تشریف یو وړ- چهلستون ته دحقانی صاحب په تشریف راوړلو په منطقه کی داطمینان اوامید لمر وړانگی خپری کړی، کومی کړی چی دجنگ له ویری اودوستم ملیشی لوحشت له امله خپل کورونه پری ایښی ؤ بیرته خپلو کورونو ته وگرځیدی ښار اودوکانونه چی له څو ورځو راهیسی تړل شوی وو بیرته پرانیستل شول اودسیمی مخور اوسپین ږیری دخپلو خلکو په نمایندگی دحقانی صاحب حضور ته راتلل اوددوی دخیر غوښتنی دهلو ځلو دقدردانی په خاطر یی دخپل درناوی اوامتنان مراتب څرگندول:پدی توگه دهری طبقی خلکو اونمایندگانو له حقانی صاحب سره دخپلو لیدنوپه ترڅ کی دامتنان له څرگندولو سره هغوی ته دسولی داعادی په لار کی دهر ډول همکاری وعده ورکوله. پدی توگه ډیر ژر یو داسی قوت په پښو ودرید چی دخپلی ملی صبغی له مخی یی دټول ولس دارمانو ترجمانی کوله اوله یوه ملی اوقوی پرستیژاو محبوبیت څخه برخمن ؤ له همدی ځایه وه چی دکابل ښاردمخورو اوسپین ږیرو اوهمدارنگه دسیاسی، علمی شخصیتونو اوروشنفکرانو بهیرونه دچهلستون په لور رامات

شول پدې توګه الحاج مولوي جلال الدين حقاني په کابل کې ديو ملي سنګر دجوړيدو له لارې ديوه داسې ملي قوت دتشکيل بنسټ کيښود چې دکابل اوسيدونکو اوټول افغان ولس څوارلس کاله هغې ته انتظار درلود .

دڅور په ۱۸ نيټه دسولې دپروسې دتحقيق په خاطر حقاني صاحب وتوانيد چې متخاصم قوتونه له سيمې څخه شاه ته کړي اوپه متنازعه سيمو کې خپل قوتونه ځای په ځای کړل پدې توګه داحمدشاه مسعود اوډله دمتحدينو اوحکمتيار دقواووترمنځ حقاني صاحب خپل مجاهدين دپوستوپه شکل ځای په ځای کړل .

لدې سره يوشل کسيز هيئت له مجددي اومسعود سره د ملاقات لپاره غوره کړی شو چې له هغوی سره دجنګ په بيخي ختميدو اوهمدارنګه دملت لپاره دواقعي اسلامي حکومت اوددغه حکومت له ارګانونو اوادارو څخه دپخواني ګوډاګي رژيم دسرسختو پلويانو لاس لنډ کړي اوپه داسې يوه سيمه کې دشورا لپاره مناسب ځای ومومي چې دمليشه ځواکونو اودپخواني مزدور رژيم دغړو له حاکميت اوموجوديت څخه خوندي وي .

حقاني صاحب تراوسه دحکومت له مسؤلينو سره ځکه له مخامخ ملاقات څخه ډډه کوله چې يو خو ددوستم بدنامه مليشه په کابل کې موجود وي اودخلکو په ازار اذيت اوچورچپاول اخته وي اوبله داچې ددفاع وزارت مربوط ارګانو کې لادرژيم دپرچم غړي افسران په ځای پاتې اوښه فعال وو.

دڅور په ۲۱ نيټه داحمدشاه مسعود له خوايو هيئت دښاغلي قانوني په مشرۍ له حقاني صاحب سره ملاقات وکړاودمسعود يوپيغام يې ورته وړاندې کړ. حقاني صاحب يوځل بيا دغه هيئت ته دخپلو اعتراضاتو يادونه وکړه په تيره په پوځ کې يې درژيم دپخوانيو سترو افسرانو تقرر ته ګوته ونيوه اودايې دملت دهيلاو دجهاد له ارمانونو سره ستره جفا وبلله خو قانوني په ډير مهارت سره حقاني صاحب ته ددې اطمينان ورکولو هڅه کوله چې ددې کارمخه به نيول کيږي حتی چې په رسمي توګه به داصف دلاور دتقرر دخبر ترديد کيږي. هيئت دمسعود هغه غوښتنه تکرار کړه چې له حقاني صاحب سره يې دملاقات هيله اوډيپلمستيا بلنه ورکړې وه چې دحقاني صاحب لخوادډوی له ډيره ټينګار وروسته ومنل شوه.

احمدشاه مسعود په خپلو مقدماتي خبرو کې وروسته له دې چې دسولې په رابطه يې دالحاج مولوي جلال الدين حقاني دکوښښونو ستاينه اومننه وکړه زياته کړه :

ترکومه چې زما په ياد دی هرکله چې په مقاومت کې داختلاف اوردجهاد په ارمانونو لمبې بلې کړې يواځنی شخصيت چې ددغه اور دمړ کولو لپاره راوړاندې شوی هغه محترم حقاني صاحب دی. حقاني صاحب زموږداسې مشر دی چې په ډيرو سختو اوحساسو مرحلو کې يې دمقاومت بيړۍ داختلافاتو اوخپل منځي کشالو دسمندر له توپاني څپوڅخه سلامته ايستلې ده اوس چې زموږ ولس له يوه بل مصيبت او امتحان سره مخامخ ؤ بياهم ددوی اسلامي درايت اومحبوبت شخصيت و چې دفتنې دا اورېې مړکړ .

احمدشاه مسعود زياته کړه : دفتحو ددغه لړۍ پيلامه دخوست له وياړمنې فتحې څخه تسلسل پيداکړی ځکه همدا دخوست فتحه وه چې دفتحو دروازه يې پرانيستله اوله هغې وروسته دفتحو يوه نه ختميدونکې سلسله پيل شوه چې دادی تروروستۍ فتحې راورسيده .

احمدشاه مسعود ظاهراً دحقاني صاحب له ټولو غوښتنو اواعتراضاتو سره خپل توافق څرګند اوکوښښ يې کاوه چې دنيمګړتياو پړه پرمجددي واچوي .

لدې وروسته احمدشاه مسعود اوحقاني صاحب په ځانګړې ډول خبرې وکړې داسې معلوميده چې دحقاني صاحب دغوښتنو له توافق پرته هغه ته بله لارنه وې پاتې .

پدې وخت کې دحقاني صاحب زغروال ځواکونو اود ۲۰۰۰ تنو په شاوخواکې مجاهدين ريشخور اوچهاراسياب ته راورسيدل چې دسولې اوامنيت په ټينګښت اودفاع کې برخه واخلي اوکه سوله اوامنيت دچاله خواله ګواښ سره مخامخ کيږي دوی به دسولې له لاسته راوړنو دفاع کوي.

په چهلستون کې دکابل او دهيواد بيلابيلو سيمو دقوماندانانو، قومي مشرانو ، مخورو او روشنفکرانو ډلې ډلې دحقاني صاحب ملاقات ته راتلل دوی دسولې په راوستو کې دحقاني صاحب دنقش اوصادقانه کوښښونو څخه دملاتړ په څنګ کې دهرډول همکارۍ اومرستې دړاډ څرګندونه کوله .

داسې معلوميده چې چهلستون دکابل دمظلومو اودردمنو خلکو داطمينان يواځينی مرجع اوددردونو ددرمل اوارمانونو دتحقق په يوه پياوړې ملي مرکز بدل شوی وي هرچابه خپل درد دخپل مشکل ، خپله ربړه اوخپل عرض چهلستون ته

رارساوه اودحقاني صاحب په ليدو ، خبرو اوموقف به يې دسكون اوارام احساس كاوه اوله يو عالم هيلو ، اميدونو او اطمينان سره به بيرته ستنيده .

چهلستون ديوه ملي زعامت يوقوي او ملي مركز ګرځيدلى ؤ دلته يو داسي درويش مجاهد په يوه رښتني او بې الايشه انداز كي دولس دردونو ته ددرمل اودستونزو دحل په لټون بوخت ؤ چي دهغوى دهردرد شريكه اودهر غم اومصيبت احساس يې په پراخه اوږه تندى كي له ورايه معلوميده .

دڅور په ۲۱ نيټه دحقاني صاحب په مشرى په چهلستون كي دګڼو قوماندانانو اومخورو يوه درنه غونډه جوړه شوه اوپدې اړه چي دسولې كميټه څه ډول دربرې دبشپړاوبيخپوره حل په جهت كي په چټك اومؤثر اقدام لاس پورى كولى شي خبرى وشوى پدغه غونډه كي چي دحزب اسلامي دسولې دهيئت غړي مولوي جانباز سرفراز او عبدالقدير كرياب هم برخه لرله داتحاد اسلامي مرستيال انجنير احمدشاه احمدزى هم شامل ؤ .

له احمدشاه مسعود ، حكمتيار ، استاد رباني اومجددي څخه يوځل بيا تعهدات واخيستل شول چي دسولې دكمسيون پريكړى به په جدي اوصادقانه توګه مني اوعملي كوي .

فيصله داسي وشوه چي جنګ به له يوى مخې ممنوع اعلانيږي اودجنګ دبيخي ختميدو اعلان به كيږي ځكه چي په مؤقتي اوربند دجنګ احتمالات اوامكانات له منځه نشي تللى په كار داده چي موږدجګړې دبيخي ختميدو په پلان كاروكړو اوكه داسي وخت راغي چي دټولو جيدو علماوو په فتوى جهاد ته ضرورت ؤ هلته به په مجموعي توګه دجهاد لپاره ګډ اقدام بيا نيسي .

همدا ؤ چي دسولې ۳۱ كسيزه كمسيون يو ۱۸ كسيزه هيئت ته وظيفه وركړه چي دسولې دمعاهدى متن ترتيب اودسولې كميټي ته يې وړاندې كړي، دسولې كميټه به له غور وروسته نوموړى مسوده دوروستي منظورى لپاره دقوماندانانو، علماوو اومخورو ۲۵۰ كسيزه جرګي ته وړاندې كيږي اوله هغې وروسته به ټولي خواوي دهغې دمندرجاتو بشپړ مراعات كوي

دڅور په ۲۸ نيټه دسولې دمعاهدى له تسويد وروسته له ټولو غاړو يوځل بيا تحريري سندونه ترلاسه كړى شول چي ټولي خواوي به دمعاهدى دموادو اومندرجاتو بشپړمراعات كوي اودهغې له عملي كيدو څخه به سرغړونه نكوي .

دڅور په ۲۵ نيټه الحاج مولوي جلال الدين حقاني دجمعي دلمانځه لپاره دپلخشتي جامع جومات ته ولاړ دجمعي لمانځه په خطبه كي الحاج مولوي جلال الدين حقاني دجهاد دتاريخي اوحساسو شيبو په رابطه خبرى وكړې اودحق اوباطل دځوارلس كلني جګړې بيلابيل ابعاديې توضيح اودجهاد د نتايجو ، اغيزو اودسولې دپروسې په اړه يې تشريحات وركړل دجمعي له لمانځه وروسته لمونځ كوونكو دزړونده شعارونو په بدرګه دخپل احترام مراتب څرګندول اودټولو داهيله وه چي له حقاني صاحب سره مصافحه وكړي تردې چي له جومات څخه تر دروازى پورى دحقاني صاحب تلو نژدې يو ساعت وخت ونيو. په همدې ورځ دايران سفير دحقاني صاحب دملاقات لپاره چهلستون ته راغي حقاني صاحب ايراني سفير ته څرګنده كړه چي ايران بايد يواځې له مشخصوسيمو اوډلو سره اړيكي ونه ساتي بلكي دافغانستان دملت په سطحه خپله پاليسي عياره كړي .

دڅور په ۲۶ نيټه حقاني صاحب دسولې دمصوبې دمندرجاتو دتحقق په خاطر له انجنير احمدشاه مسعود اوانجينر حكمتيار سره ملاقاتونه وكړل اولدوى دواړو څخه يې پدى رابطه يوځل بياليكلي تعهدات ترلاسه كړل .

دڅور په ۲۷ نيټه دچهلستون په باغ كي ددريو سوو قوماندانانو، مخورو اوعلماوو په ګډون دسولې مصوبه اوترون چي په پنځو مادو مشتمل ؤ اعلان كړى شو:

۱- دجګړې بيخي ختميدل ترهغې چي دجهاد په اړه دهيواد دجيدو علماوو ګډه فتواى نه وي صادره شوي .

۲- ددغې فيصلې له اعلان وروسته به ديوى هفتي په اوږدو كي ټول متخاصم اومتقابل قوتونه له كابل اودكابل له كمربندو څخه وځي .

۳- دمتخاصمو خواوو دقوتونو دايستلو په وخت كي به دكابل دامنيتي كمربند دامنيت ټينګښت اوهمدارنګه دښار امنيت داسلامي دولت تر رهبرى لاندې دسولې دقيادت ترمشرى لاندى دكابل دقوماندا نانو اوكه ضرورت ؤ ديو شمير متفق عليه مجاهدينو له خوا نيول كيږي چي وروسته به ددفاع اوداخله وزارتونو په چوكاټ كي امنيتي ځواكونه فعاليږي .

٤- دپخواني پوځ ټوله درنده وسله اوحربي وسايط چي تربيت المال پورى اړه لري هغه به له امنيتي كمربند څخه نه ايستل كيږي.

٥- دافغانستان داسلامی دولت په اردو اودولتی ادارو اوارگانو کی خلقیانو پرچمیانو اونور غیر اسلامی عناصرو ته وظیفه نشی ورکول کیدی .

همدارنگه الحاج مولوی جلال الدین حقانی له بی ، بی ، سی راديو سره په مرکه کی پدی رابطه وویل :

په کابل کی ددوستم دملیشی موجودیت اودحزب دافرادو موضع گیری دسولی لپاره تهدید اودخلکو لپاره دتشویش باعث دی دوی زیاته کړه له کابل څخه دملیشی ایستل یواځی دحکمتیار غوښتنه نده بلکی دادوخت اوحالاتو غوښتنه هم ده حتی احمدشاه مسعود اوټول جهادی قوماندانان دملیشو دایستلو غوښتنه کړی. طبعی ده کله چی جگړه ختمه اوسوله ټینگه شی نورنو په کابل کی دملیشو پاتی کیدل هیڅ ډول جواز نلری اوپه هیڅ توگه نشی توجیه کیدی» دغور خبره داده چی واکمنو دسولی په رابطه دمحترم حقانی صاحب له وړاندیزونو څخه ددی لپاره سرنشوای غړوای چی هغه دجهاد داهدافو دتحقق اوداسلام داصولو په رڼا کی دملت اووطن دګټو په محور څرخیدی له همدی ځایه وه چی پدی رابطه یی له ظاهری توافق اورضایت پرته بله لاره نشوای پیدا کولی خوپه حقیقت کی دوی له ائتلافی جبهی سره دخپلو تعهداتو اومشترك پلان له مخی اوداقتدار دهوس په نشه کی هیڅکله هم خپلو توافقاتو اوژمنوته مخلص اومتعهد نشوای پاتی کیدی بلکی دپردی ترشایی داهڅه کوله چی دبیلابیلو ضربو، فشارونو مانورو اوتهدیدونو له مخی دسولی پروسه سبوتاژکړی له همدی ځایه وه کله چی دحقانی صاحب دهلو ځلو په نتیجه کی دحکمتیار اومسعود ترمنځ دمخامخ ملاقات اوناستی زمینه برابره کړی شوه داملاقات دحقانی صاحب له ګډون اوقبلی خبرتیا پرته دپاکستان داستخباراتو دپخوانی مشر جنرال حمیدگل دپاکستان دمرحوم جمهور رئیس دزوی اووفاقی وزیر اعجازالحق اویوه عرب شهزاده په ګډون چی ټول بهرنی تبعه وو ترسره شو .

پدی توگه مسعود اوحکمتیاردسولی دکمیسون هغه جامع مصوبه ترپښولاندی کړه اوپدغه لیدنه کتنه کی یی بله موافقه لاسلیك اواعلان کړه حتی دحقانی صاحب په مشری یی دسولی دکمیسون مصوبه چی دټولو قوماندانانو او جهادی علمی شخصیتونو تائید ورسره وو دمطبوعاتوله خواخپره اواعلان هم نکړه

دسولی دکوښښونو دسبوتاژ مذبوحانه هلی ځلی داسی پړاو ته ورسیدلی چی دحزب وحدت اواستاد سیاف دډلو ترمنځ دسولی داعادی په جریان کی په حقانی صاحب اوددوی په ملگرو مسلحانه برید وشو.

دجوزا په ١٢ نیټه کله چی محترم حقانی صاحب دحزب وحدت اواتحاد ترمنځ دسولی دخبرو په جریان کی له ثانوی تخنیك بیرته راستون شو په هغوی وسله وال برید وشو، دموثقو شواهدو له مخی داحمله یوه پلانیزه اوسنجول شوی حمله وه خو دالله تعالی رحم او کرم ؤ چی حقانی صاحب ته کوم ځانی تاوان ونه رسید اوپه معجزانه توگه له دغی حملی څخه روغ پاتی شو .

پدی توگه دالحاج مولوی جلال الدین حقانی دمدبرانه پالیسی اوموقف له مخی دسوی معاهده اوترون دټولو حقوقی اومدنی اړخونوپه پام کی نیولو سره تصویب اواعلان شوه خوله بده بخته چی دحقانی صاحب ترمشری لاندی دسولی دکمسیون هڅو اوهلو ځلو چی د ټولو جهادی اوملی قوتونواوټول ملت تائید اوملاتړ ورسره و دذاتی اقتدار دهوس اومخکنیو ائتلافی تعهداتو دپس منظر له مخی واکمنو خپل ژمنی اووعدی شاته وغورځولی اولکه چی ولیدل شول دجگړی اور، دغلا لوټ اوتالان دردوونکی اولړزونکی واقعی اودخلکو دعزت مال اوناموس سره دتیری فاجعو په کابل کی همداسی دوام وموند پداسی بڼه چی دیوی لحظی لپاره هم نه دچامال محفوظ دی نه عزت اونه هم ناموس اوابرو .

داقتدار هوس اودپردی ترشاه پرچم دشیطانی فرکسیون مذبوحانه هلی ځلی اودببرك کارمل توطئو او سازشونو اوددوستم دملیشو وحشتونو اوددی په څنگ کی دواکمنو بی تفاوتی اودجهاد اوولس پر سر معاملی داسی خونړی اولړزونکی فاجعی رامنځ ته کړی چی دافغانانو دجهاد عظمت اودشهیدانو دپاکو وینو له تقدس سره یی دستری جفا اوتاریخی خیانت باب رامخی ته کړ.

خو زموږ ملت دخپل جهاد په اصالت اودشهیدانو دقربانیو په تقدس اودحق په بری بشپړباورګړی اوپدی باوه یو چی ان شاء - الله دجهاد، وطن اوولس پرضد به هر ډول داخلی او خارجی دسیسی له غوڅی اوشرمیدلی ناکامی سره مخامخ کیږی او پدغه تاریخی مرحله کی به دالهی قانون له مخی خبیث له طیب څخه جلا کیږی.

دوهمه برخه :

اسلامي صحافت

[ژورناليزم]

صحافت اواسلام:

کله چی انسان صحافت داسلام له نظره څیړی تر تولو دمخه داپوښتنه پیدا کیږی چی صحافت دانسانی ژوند یو حتمی ضرورت دی او په تولنی کی ډیر عمده نقش لری نو بیا څنګه کیدای شی چی اسلام دی په دی برخه کی ضروری او اصولی هدایات نه وی ورکړی اوهغه دی پخپل اختیار پریښودلی وی په داسی حال کی چی تولو انسانانو باندی زیری کوی چی :

« الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتی ورضیت لکم الاسلام دینا » (المهاهده –۳)

ژباړه :

« نن مادتاسو لپاره ستاسی دین مکمل کړاودتاسو لپاره می داسلام دین غوره وباله »

اوددین ترتکمیلیدو وروسته غوښتنه کوی چی :

« یاایهاالذین امنوا دخلو فی السلم کافة ص ولا تتبعو خطوات الشیطن ط انه‌لکم عدومبین (البقره – ۲۰۸)

ژباړه :

ای دایمان ښښتنانو ! تاسو په کامله توګه اسلام ومنی او دشیطان پیروی مه کوی چی هغه په ښکاره ستاسی دښمن دی »

ددی غوښتنی سره سره داڅنګه کیدای شی چی موږدی اسلام چی دژوند په تولو برخو کی زمونږ لارښود دی ومانو اوصحافت دی پخپل سر وی ښایی دغرب دتثلیث دملحدانه نظری په اساس جوړی شوی تولنی کی داکار ممکن وی خو دتوحید په اساس جوړی شوی تولنی کی فرد اوریاست یاتولنه دیو اخلاقو پابند وی (اطیعوالله واطیعوالرسول) دااامر دتولو لپاره عام دی دژوند دهری شعبی اواداری لپاره دهدایت سرچینه یوه ده او هغه دی اسلام ، چی دهغه له مخی به تول عمل کوی ، دلته نه څوک مطلقه ازادی لری اونه دقران کریم اونبوی سنت له حدودو څخه دسرغړونی اوتیری پوښتنه پیدا کیږی د« په کامله توګه اسلام منلو » خبری منشا دادی:

چی دکومی استثناپرته تول ژوند داسلام په اساس عیار کړی اوباید ټول ذهنیت تاسو فکر ، نظر برخورد ، راکړه ورکړه هڅی او عملونه تول داسلام تابع وی ».

په داسی صورت کی دیوه مسلمان صحافی (ژورنالست) وظیفه ده چی هغه باید یواځی په خپل شخصی ژوند کی داسلام پر احکامو عمل ونکړی بلکی باید په خپلی دندی کی هم ددی خبری خیال وساتی اوخپل قلم دالله (ج) درضا او خوشحالولو په خاطر وچلوی .

دژوند دنورو برخو په څیر دصحافت په برخه کی داسلام څخه دپیروی دژوند پوښتنه پیدا کیږی چی کوم ژورنالست چی خپلی دندی دیوه مسلمان ژورنالست په حیث سرته رسوی هغه پر کومو اصولو عمل وکړی ، کومی خبری خپلی وګرځوی اودکومو ډډه وکړی قرانکریم اونبوی سنت په دی برخه

کی موږ ته څه لارښوونه کوی .
دی پوښتنی ته دځواب پیدا کولو په خاطر کله چی موږ دقرانکریم اواحادیثو پانی اړوپه هغوی کی موږ ته صحافت یوه مکمله اخلاقی ضابطه تر نظر راځی چی پر هغوی دعمل کولو په صورت کی یقیناً چی صحافت دانسانیت درستګاری ، سلامتیا ، خوشحالی اوپرمختګ یوه مهمه او ګټوره ذریعه ثابتیږی.
دصحافت ددی اسلامی اخلاقی ضابطی څخه دخبریدو په خاطر ضروری دی چی په سر کی دامعلومه کړو چی داسلام له مخی دصحافت مقصد څه دی ؟
ځکه چی دمقصد ترمعلومولو وروسته دکردار او عمل کولو لاره ټاکل کیږی او معلومیږی

دصحافت مقصد:

دغرب دصحافت دڅانګی پوهانو چی دصحافت کوم مقصدونه بیان کړی د هغوی ځنی دادی :
... دصحافت مقصد دادی چی خلك له تازه خبرونو خبر کړی دننی عصر پیښی تشریح کړی اوراتلونکی روښانه کړی ترڅو دخلکو دهڅو لار خلاصه شی ، صحافت دخلکو دکړو وړو ترجمان اوعکاس هم دی اودخلکو دلارښوونی دنده پرمخ بیایی ، دخلکو خدمت یی لومړنی فریضه ده په دی خاطر صحافت دټولنی دیوی مهمی اداری حیثیت لری
(دصحافت فن - ډاکتر عبدالسلام خورشید)
دپنجاب پوهنتون دصحافت دڅانګی مشر ډاکتر مسکین علی حجازی په لنډه توګه دامقصد داسی بیانوی :
« ... دصحافت اوصحافی (ژورنالست) بنسټیز مقصد خلکو ته دمعلوماتو پیدا کول ، هغوی ته روزونه ورکول ، هغوی ته لار ښوونه ، او هغوی ته تفریح پیدا کول دی ... »
دصحافت دامقصد که څه هم چی پر خپل ځای سم دی خو لکه څنګه چی هر هیواد ته دتعلیمی نصاب دټاکلو په وخت داپوښتنه پیدا کیږی چی دی هیواد ته څه په کار دی ترڅو دهغوی په اساس دښوونی اوروزنی نصاب جوړ کړای شی په همدی توګه دصحافت په برخه کی هم داپوښتنه پیدا کیږی چی موږ څه ډول ټولنه جوړول غواړو ؟ ځکه داحقیقت دی چی کوم کار ، ژوند او ټولنی ته چی اشتراکی روسیه ضرورت لری ، دسرمایه داری دمخکښی امریکا لپاره هغسی ، فکر ژوند اوټولنه موزونه نه ده په همدی توګه داسلامی ټولنی دژوند اواشتراکی ټولنی دژوند ترمنځ فرق شته چی دهغی له نظره غورځول داسلامی ټولنی دله منځه وړلو پرته بله معنی نلری په دی توګه معلومه شوه چی دنویو خبرونو اومعلوماتو دپیداکولو څخه دخاصی ټولنی جوړول اولارښوونه ممکنه نه ده بلکی ددی په خاطر ضروری دی چی دخلکو لپاره چی کوم خبرونه او معلومات پیدا کول غواړو هغه دهیواد اوټولنی دنظری اواخلاقو سره یو شان اوهغوی ته دقوت ورکولو په خاطر وی دهغوی دضعیفولو په خاطر نه وی دبیلګی په توګه اسلامی ټولنه په اخوت ، عدل او مساوات سره ټینګه وی اوس که داسلامی ټولنی اخبارونه اونور تبلیغاتی وسایل داسی اطلاعات اوخبرونه خپاره کوی چی دهغی له وجی دارشتی کمزوری کیږی ، طبقاتی اختلافاتو ته لمن ووهی ، اودټولنیز مساوات پرځای اقتصادی مساواتو نظری ته تبلیغ وکړی چی دهغی له وجی دعزت اولوړتیا دمعیار تقوی اوپرهیز ګاری پرځای دولت اومادی شتمنی زیاته شی دی داسی خبرونو اواطلاعاتو له مخی چی کومه ټولنه جوړیږی هغه داسلامی ټولنی دترجمان صحافت تګ لاره هیڅ وخت نه ده .
داسلام له نظره دصحافت بنسټیزه مقصد دادی چی دنویو خبرونو اوپیښو دتشریح ، توجیی اوتعبیر له لاری دخلکو ژوند داسی جوړ او رهبری کړی چی دهغی له مخی دخیراوصداقت بنسټونه ټینګ اودباطل بنسټونه ضعیف شی .

دقرانکریم اواحادیثو له مخی دصحافت اونورو تبلیغاتی وسایلو مسولیت دادی چی هغه دی دالله (ج) درضا دلاس ته راوړلو اوداخرت دنجات اوبریالیتوب په خاطر خلك دنیکی خواته راوبلی، دنیکی ملاتړ وکړی دنصیحت اوصبر لارښوونه وکړی دظالمو مشرانو په وړاندی دحق اوانصاف خبره وکړی اوپه هیڅ صورت دهغوی دبدیو تائید اودهغوی دروغ تصدیق نکړی ترڈی چی که په دی جهاد اواصلاحی کوښښ کی یی ځان هم قربان شی ځکه چی په دی لاره کی وژل کیدونکي شهید دی، په دی برخه کی دالله (ج) احکام اودهغه دپیغمبر (ص) احادیث گورو.:

کنتم خیر امة اخرجت للناس تامرون بالمعروف وتنهون عن المنکر وتومنون بالله ط (ال عمران ۱۱۰)

ژباړه:

اوپه نړی کی ترټولو ښه ډله امت تاسو یاستی چی دانسانانو دهدایت او اصلاح لپاره ډگر ته راوتی یاستی تاسو دنیکی ښوونه کوی له بدیو خلکځ منع کوی اوپر الله (ج) ایمان لری...»

ولتکن منکم امة یدعون الی الخیرو یامرون بالمعروف وینهون عن المنکر ط واولئك هم المفلحون (ال عمران ۱۰۴)

ژباړه:

... تاسو کی داسی خلك هم شته چی خلك دنیکی خواته رابولی، دنیکی امر کوی اودبدو کارونو خلك منع کوی کوم خلك چی داکار کوی هغه به رستگار وی.

ولا تکتموالشهادة ط ومن یکتمها فانه اثم قلبه ط والله بما تعلمون علیم البقره ۲۸۳

ژباړه:

... اوشهادت مه پټوی اوڅوك چی دشهادت خبره پټوی دهغه زړه په گناه کی ډوب دی اوالله (ج) ستاسو له اعمالویی خبرنه دی....

من یشفع شفاعة حسنة یکن له نصیب منها ومن یشفع شفاعة سیئة یکن له کفل منها ط النسا ۸۵

ژباړه:

څوك چی دنیکی خواته خلك رابولی هغه ته به حتماً برخه پکی ورسیږی اوڅوك چی خلك دبدی خواته رابولی هغه ته به هم خپله برخه ورسیږی

وتواصوا بالحق وتواصوا بالصبر (العصر - ۳)

ژباړه:

اویوه بل ته دحق نصیحت اودصبر ښودنه کوی....»

دپیغمبر (ص) وینا ده

افضل الجهاد کلمة عدل عند سلطان جائر (ابوداود کتاب الملاحم باب ۱۷)

ژباړه:

ترټولو غوره جهاد دظالم حکمران په وړاندی دحق خبره کول دی....»

سیکون علیکم امة یملکون ارزاقکم یحدثونکم فیکذبون ویعملون فیئیون العمل لایرضون منکم حتی تحسنوا قبحیهم وتصدقو اکذبهم فاعطوهم الحق مارضوابه فاذاتجاوزو افمن فتل علی ذلك فهو شهید»

(کنزالعمال ج ٦ ص ۲۹۷)

ژباړه:

ډیر زر به پر تاسو داسی خلك مقرر شی چی دهغه په لاس کی به ستاسو روزی وی چی خبری درسره کوی دروغ به وایی اوچی کار کوی بد کارونه به کوی او هغه به ترهغی له تاسو راضی نه وی ترڅو چی تاسو دهغه دبدیو ستاینه ونکړی اودروغو باندی دتائید مهر ونه لگوی نوتاسو دهغه په وړاندی دحق خبره وکړی ترڅو چی هغه داخبره ومنی اوکه له دی یی سرغړونه وکړه څوك چی په دی لاره کی وژل کیږی هغه شهید دی...»

دصحافت (ژورنالیزم) دینی ضرورت:

صحافت داسلامی ټولنی دجوړولو اواصلاح کولو دندی سربیره دیوی بلی لاری هم دټولنی یو بنستیز ضرورت پوره کوی اوهغه داسلامی حکومت داعملی ضرورت دی چی

داسلامي هيواد ټول ښاريان دپيښو او راتلونكو څخه خبر وي ترڅو هغوی دقرانكريم سره سم خپل اولی الامر ته ښی مشوری ورکړی ، ځوك چی دپيښی شوی پيښی اهميت اوراتلونكی باندی نه وی پوه ، ځوك چی دپيښی شوی پيښی عواملو باندی نه وی پوه هغه به څنگه په دی برخه کی گټور گام پورته کړی اوڅنگه به چاته گټوره مشوره ورکړی اواسلام خوهسی هم مشوره اخيستل اوکول لازم بللی دال عمران په ۱۵۹ ايت کی پخپله پيغمبر (ص) ته امر شوی چی : وشاور هم فی الامر

ددين په کار کی دهغوی هم مشوره اخله) دشوری سورة په ۳۸ ايت کی دايمان دڅښتنانو دښو صفتونو په يادولو سره راځی :

وامر هم شوری بينهم (هغوی خپلی چاری په مشوری سره پرمخ بيايی)

دشوری ددی اهميت پر بنا داسلام دخلافت نظام شوری نظام هم بللی شی .

دقرانكريم ددی وينا له مخی چی چاری په شوری پرمخ بيايی مطلب يواځی مشوره اخيستل نه دی بلکی مشوره ورکول هم دی دچارو مسوله كسان که دمشوری په اخيستلو مکلف شوی ، مشوری ورکوونکو خلکو باندی حتمی دی چی په پوره اخلاص اوصداقت دی مشوره ورکړی اوکه داسی ونکړی او غلطهمشوره ورکړی نو نه داچی دشوری بينهم مقصد به پوره نشی بلکی په دی کار سره به الله (ج) ته ځواب ورکوونکی هم شی .

دشوری بينهم يوه غوښتنه داهم ده چی کومی معاملی کی چی زيات کسان شريك دی بايد ټول مشوری کی شريك کړای شی که دزياتوالی له وجی دټولو مشوره اخيستل ممکن نه دی دهغوی معتمد اشخاص دی مشوری کی شريك کړای شی ټول په معاملی کی شريك حق لری چی خپل نظر وړاندی کړی اوبايد دټولو حالاتو پيښو او مسايلو څخه دهغوی دخبر ساتلو اهتمام وکړای شی صحافت له ټولو زيات داضرورت په ښه توگه سرته رسوی.

په څه ډول چی غلطه مشوره غلطه اوغير مسولانه حرکت دی په همدی توگه دحقيقت څخه لری او ناروا اوبی ځايه اطلاعات اومسايل چی دهغه له وجی دفساد خپريدو ويره وی خپرول هم سم کار نه دی دحالاتو پيښو او حقايقو خبر ذهن اوفکر ته دروښنايی مثال لری اوکوم خبرونه چی فکر ته درڼايی پر ځای تياره ورکوی دهغوی عامول هم ښه کار نه دی صحافت دادواړه کارونه کوی او کولی شی خوښه اواسلامی صحافت هغه دی چی فکر ته رڼايی ورکړی ، له رڼايی څخه محرومو خلکو ته رڼايی ورکول داسی غټ کار دی چی الله (ج) په خپله هم کړی په قرانكريم کی دالله (ج) وينا ده .

الله ولی الذين امنو يخرجهم من الظلمت الی النور ط والذين كفروا اوليهم الطاغوت يخرجونهم من النورالی الظلمت ط اولئك اصحب النار هم فيها خالدون (البقره ۲۵۷)

ژباړه :

اوکوم خلك چی ايمان راوړی دهغوی مرستندوی الله (ج) دی اوهغوی له ترورږمو رڼايی ته راوباسل کيږی اوكوم خلك چی دكفر لار غوره کړی دهغوی مرستندوی طاغوت دی او هغوی له رڼايی څخه دترورږمی خواته تلونکی خلك دی دا اورته تلونکی خلك دی چيرته چی دوی به تل پکی وی ..... »

دترورږمو څخه رڼايی خواته دبيولو اوهدايت لاری ښودلو دنده پيغمبر (ص) ته هم سپارل شوی

الر كتب انزلنه اليك لتخرج الناس من الظلمت الی النور باذن الی صراط العزيز الحميد (ابراهيم - ۱)

ژباړه :
ا - ل - ر ای محمد (ص) دایو کتاب دی چی ماد تاسو خواته نازل کړترڅو ته خلك له تر وږمو درڼایی خواته بوځی دهغوی درب په مرسته دهغوی دخدای (ج) په غوره کړی لار چی ډیر مهربان دی ... »

یواځی الله (ج) اوپیغمبر (ص) نه پخپله قرانکریم له تر وږمو ښخه درڼایی خواته بیونکی کتاب دی

« قدجاٌکم من الله نورو کتاب مبین یهدی به الله می اتبع رضوانه سبل السلم ویخرجهم من الظلمت الی النور باذنه ویهدیهم الی صراط مستقیم (المائده - ١٥ - ١٦)

ژباړه :
دتاسو خواته دالله (ج)له لوری رڼایی درغلی اویو داسی کتاب چی دهغه په واسطه الله (ج) هغو خلکو ته چی دده درضاغوښتونکی دی دسلامتی لارښیی اوپه خپله مرسته هغوی له تروږمو راوباسی اودرڼایی خـواته یی بیایی اودسمی لاری خواته هغوی رهبری کوی ... »

له دی معلومیږی چی مومن صحافی (ژورنالست) هغه دی چی دالله (ج) اوپیغمبر(ص) پرسنت عمل کوی خلکو ته دحالاتو ښه اوحقیقی خبرونه مهیا کوی اوپه دی توگه تروږمو ښخه درڼایی خواته دهغوی دتللو دنده سرته رسوی .

په قرانکریم کی رڼایی ته خبرهم ویل شوی ، پیژندل شوی صحافی (ژورنالست) محمد صلاح الدین په اسلامی ټولنی کی دتبلیغی ذرایعودنقش دموضوع په اړوند خپلی یوی مقالی کی پردی حقیقت داسی رڼا اچوی :

« ... رڼایی په حقیقت کی دخبردوهم نوم دی الله (ج) چی نبیانو کرامو په ذریعی موږښه ډول له تروږمو راوباسی اورڼایی ته رسولی هغه دالله (ج) وجود دهغه وحدانیت ، دهغه ټول صفات ، په اخرت کی هغه ته وراندی کیدل اوبیا دجزا اوسزا په ډول دجنت اودوزخ په اړوند خبر دی چی موږ یی پری خبر کړی یوو اوددی تصدیق شوی خبرښخه دمحرومی په صورت کی موږپه تروږمو کی یوو دصحیح خبردرسولو له وجی دالله (ج) درسول (ص) یو نوم صادق مخبر هم دی خبر رڼایی دی اوبی خبری تیاره او تروږمی اوداهم ذهن ته وسپاری چی رڼایی دجرایمو پر ضد دمبارزی مهم او ښه ذریعه دی ، تروږمی اوتیاره دمجرم بنستیز ضرورت ، دهغه ترټولو دامید ځای اودهغه تر ټولو کلك ساتونکی دی ، هر مجرم که هغه رشوت اخیستونکی وی که خائن اوغل وی ، شرابی یا زناکار وی ، که قاچاق بر ، تخریب کار ، دهیواد دښمن یا دپردیو جاسوس وی ددی ټولو گډ ضرورت پټ کار اوتیاره دی خبراورڼایی دهغوی مرگ دی .... »

درڼایی عام کول ظاهراً ډیر اسان کار دی کیدای شی داسی وی خوپه حقیقت کی دادشهادت په لاره گام اخیستل دی ، طاغوت چی کاریی درڼایی ښخه دتروږمو اوتیاری خواته دخلکو بول دي ، هغه په هیڅ توگه درڼایی خپرونکی نه خوښوی ددی حالاتو غوښتنه داده چی اخبارونه اوصحافی (ژورنالست) دخپلی دندی سرته رسولو په دوران کی نیکی ته نیکی ووایی او هغه لا تقویه کړی بدکار ته بد ووایی اودهغه دله منځه وړلو لپاره خپل ټول وسایل په کار واچوی اوپه دی برخه کی دوی ته ازادی ورکړشی ددی مطلوبی ازادی پرته صحافت (ژورنالیزم) خپل فرض په ښه توگه نشی ادا کولی ، کله چی پری ساسنوراوبندیز وی هغه چی دخلکو نظرکومی خواته بول غواړی هغه په ناقص دی اوپه دی توگه دصحافت اصلی مقصد له منځه ځی اوخپله دنده په ښه توگه نشی سرته رسولی .

تنګیال

څلور ورځی:

دقافله په قافله کی

زه لدی مخکی هم څو ځوځله پدغه لارتللی راغلی یم -هغه وخت هم چی په هواکی به دالوتکو غوبل اودبمونو باران ؤ - اوپرځمکه به دګولیو ږلی لکه دبټ دننه داسی دندو کارجوړکړی ؤدتوپونو غړمبي به ځمکه لړزوله اوداورونو سوځوونکولمبوبه شنه ځنګلونه اوپراخه دښتی پخپل کومی کی نغښتیؤ.

هغه وخت چی پل په پل به دمرګ هیولا خپلی سترګی برندی راایستلی وی -هغه وخت چی بری اوسرلوړی یواځی دمرګ وه اوپه هرکانی ،هرکمر، هره ږبره، هرخوږ اوهره پربنه کی دمرګ نوم اوعنوان انځورشویؤ.

داسی څوځوځله پدغه لارموږ تللی راغلی یو.

هغه وخت هم څوځو واره موږ په دی لارتللی یو چی خوست نه ؤ فتحه اوداسیمه دجګړی اوډیرو سختواوخونړیوجګړوساحهاوډګرؤ

هؤ !

دغه لاری په خپل مسیر کی دتاریخی معرکو اوسترو فتحوبونه خقمیدونکی تسلسل له ځان سره لری اوهرموړیی دقربانیو اوقهرمانیو ،ویاړونو اوسرلوړیو دیوتلپاتی اوابدی یادګارپه توګه دتاریخ په سپیده داغ کی له کهکشان سره دسترګو جنګولو هڅه کوی.

دغه لار په خپلو کړلیچونو کی دوه حقیقتونه اودوه واقعیتونه دخپل سرمنزل په مسیر کی خوندی کړی او هغه :

دافغان مجاهد دفتحو - قهرمانیو او قربانیو تلپاتی حماسی اوددښمن دشرمیدلی شکست اورسوایی بیشمیره کیسی او حادثی .

زه هغه وخت هم په یوه نسبتاً لویه قافله کی پدغه لارتللی وم چی دخوست دفتحی حماسه نوی دتاریخ پر تندی لکه دسبا ستوری داسی په ځلیدو وه.

زموږ دهغه سفر قافله دڅورنالستانو هغه لومړنی قافله وه چی دلومړی ځل لپاره یی له فتحه شوی خوست نه لیدنه کوله.

زموږدسفرهغه وړومبی قافله هم له میرانشاه څخه په همدغه لاربړی ته ورسیده خوپه لومړه توپیر چی هغه وخت دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی په بړی کی پخپل هغه سنګر کی تشریف درلود چی داڅو کاله یی پرخوست دجګړی او عملیاتو قوماندهورکوله اودوروستی فتحی دعمومی قوماندی دمرکز په توګه یی له همدغه نقطی څخه دجګړی اوعملیاتو څارنه کوله.

هغه هم څه عجیبه ورځ وه -دخوست فتحی دجهاد په اړه په نړیواله سویه یوداسی تحرك رامنځ ته کړی ؤ چی یونه منونکی واقعیت یی دمنلو له حقیقت سره نغد دخلکو مخی ته ایښی ؤ.

هغه وخت چی له هری خوادجهاد پرضد دتوطئو اوناوړه تبلیغاتو

توپانونه ښه په زورکی چلیدل دشهیدانو نوینو په تیلو بله یوه ددغو توپانونوترسخت گوابس لاندی وه. روسی لښکری له هیوادهوتلی وی اودنجیب رژیم په ځای پاتی ؤ– دجلال اباد جگړه دبشپړبری له سرمنزل څخه یېره بیرته پاتی وه اوهرطرف دیوه مطلق رکود اوبن بست توری لړی خپری وی .

خودماسیو اونهیلو پدغه ترورمیو کی دخوست فتحه لکه دسبا سترگه دتوطیئو ددغو لوخړو اوتیارو لمن ورتوله کړه داسی چی په ټول هیواد کی دفتحیونه یوبیدونکی لمر راوخوت.

له هغی وروسته هم څو څوځله پدغه لاررزموږ دسفر قافلی تللی راغلی دی اوداسی دالاره دجهاد دیوه ژوندی اوگویا تاریخ په توگه اوس هم دهغو سختو او خونړیو جگړو حادثی اوحماسی له ځان سره خوندی ساتلی دی .

اوس هم هغه مورچی اوسنگرونه دلته دجگړی اومقاومت د نه هیریدونکو خاطرو اویادگارونو په توگه لیدونکی دماضی لیری گوټونو اوکونجونوته بیایی اوورپه یادوی چی دلته به ددښمن څومره ککری رغړیدلی وی ، څومره بمونه به اوریدلی وی اوڅومره گولی به چلیدلی وی. اوس هم سړی ته ښه معلومیږی چی ددغی لاری په اوږدو کی به ددښمن بمباریو څه قیامت راکوز کړی ؤ.

اوس هم سړی هك حیران شی چی پدغه رڼه میدان به مجاهدین څه ډول ددښمن دگولیو اوبمونو په باران کی مخ په وړاندی تللی وی–اوس هم چی سړی دلته ځیر شی نو ددښمن اومجاهدینومورچی دومره نږدی ورته ښکاره شی لکه دلاس په لاس جگړی صحنه. خومجاهدینو دوینو او اورپه سمندر کی دگولیو په ږلی اودبمونو په باران کی دفتحی مخه پرانستلی وه .

زه بیابیا هم پدغه لارتللی راغلی یم خوپه هرځل تلو کی می بیلابیل کیفیتونه احساس کړیدی خوداځل یوبیل کیفیت اواحساس زموږ دخیال په ټالونو کی په زنگیدو ؤ داځل موږ دخپل قائد په قافله کی روان ؤ اوپداسی حالاتو اوشرایطو کی روان ؤ چی نه یواځی خوست اوپکتیا ازاده شوی وه بلکی نه دبمونو اوتوپونو اواز اوریدل کیده اونه دجگړو اووینو تصوردچاپه ذهن کی گرځیده. داځل موږدفتحی دکاروان له سالار سره روان وو–له هغه فاتح سالار سره چی دالار یی په تیرو څوارلسو کلونو کی دبی دریغه قربانیو اوقهرمانانه جهاد په برکت دبشپړی فتحی اوآزادی سرمنزل ته سولی وه، هغه لارچی قدم قدم یی دقائد اودهغه دمجاهدو ملگرودقربانیو اوقهرمانیو دپیل بهیر اودوام دحماسو شاهده ده.

له غلام خان وروسته خوست ته غزیدلی لاردغرونو له امتداد سره دیوه ښگلن خوږپرتېر تیره شوی اوله همدی ځایه دموټرو لاس بدلیږی اودکین لاس پرځای ښی لاس نیول کیږی.دلته سړی لومړی داسی فکر کوی چی نور نودموټر دوړاندی تلو امکان نشته ددنگو څوکو پرتمین غرونه دلیدونکی ذهن او تصور دڅه وخت لپاره ښه مشغول ساتی دخوږپه منځ کی په کږو وږولارو داوبو بهیر اودواړو خواوو ته دغرونو اوږدی اودنگی غاړی هرځل داخبره دسړی په خیال کی بیابیا گرځوی چی ددغو غرونو او اوبو په پیچومواوکږلیچونوکی دلاری تیریدل ناشونی کاردی خوله لږ وړاندی تگ سره معلومیږی چی دهمدغو غرونو په منځ کی همدا روانی ویالی په لارو بدلی شوی دي.دلاری په اوږدو کی کله یودنگ اوسترغرمخی ته راشی اوکله هم دخوږ په منځ کی داوبو بهانده ویالی. له بړی څخه ترخوسته دفتحی دالار اودقربانی دامزل په لسو کلونو کی وهل شوی اوپه ډیر سترقیمت دامزل ترمنزله رسیدلی دی،داسی چی لویشت لویشت یی دککریو په بیه اودقربانیو په برکت امتداد موندلی دی. دغه لاری دخوست په فاتحانه جگړو اوان دټول هیواد په فتوحاتو کی ډیرسترنقش لوبولی پرهمدغه لارنه یواځی پکتیاته بلکی دټول هیواد سنگرونو ته اکمالات اودمجاهدینوقوتونه رسیدلی دی اواوس یی مؤسسی دتوسیع په کارلگیا دی خوداټولی

لاری اوخطونه چی اوس پری مؤسسی کارکوی دحقانی صاحب له خوا غزیدلی اواچول شوی دی. دالار دخوست دفاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دهدایت له مخی دجهاد په اوږدو کی دقدم په قدم پرمختګ اوفتحو له امتداد اوبهیر سره جوخته مخ په وړاندی غزیدلی اوهرسنګر اومورچل ته یی لارپیداکړیده.

موږاوس پرهمدغه لارهغی آزادی سیمی ته روان وو چی دهغی دآزادی لپاره مجاهدینو ډیره ستره قربانی ورکړی، ددغه لاری په اوږدو کی دایمانی پرتم اوفاتحانه پرمختګ ویارمن یادګارونه اوددښمن دوحشتناکموجودیت اوشرمیدلی ماتی نخښی اوس هم ډیرپټ رازونه اویادونه سپړی اوله ډیرځهیرو اوتیرو خاطرو اوکیسو څخه پرده پورته کوی.

دبری تانه چی ددښمن ډیره قوی قرارګاه وه اوبیا دمجاهدینو دزغروالو ځواکونوغونډ پکی پروت ؤ دغره په یوه لوړه څوکه کی دخوست دفتحی دعملیاتو دقوماندی مرکز هم ؤ چی حقانی صاحب له ټولو محاذونوسره ارتباط درلود اودعملیاتو قومانده یی ورکوله. دغه ځای دخوست دفتحی په ورځو کی عجیبه منظره درلوده. دنیول شویو زرګونو ملیشو اوپوځیانو کتارونه وو چی داغوندی اولمنی یی په سراخیستی وی - دخبرنګارانو ، فلمبردارانو اودخوست له فتحه شوی ښارڅخه د سلګونو لیدونکو شور زوږ اوتحرك یو نوی اوعجیبه کیفیت درلود.

خواوس دلته هغه شور او زوږ څه چی چوپه چوپتیا ده. لدی وړاندی دشمل خوړسره دمجاهدینو وروستی مورچی لیدل کیږی اودسلمان فارسیؓ دغونډ اخری قرارګاه هم خالی پرته ده لدی وړاندی بیا درژیم دقرارګاوو اوپوستو کنټرولی مخی ته راځی چی دحق اوباطل دیوی خونړی معرکی دیوه تاریخی یادګارښه یی غوره کړی ده.

دشمل په خوړدیوه سترپل دجوړولو کارپه بیړه سره روان دي-حکومتونه پدغه خوړباندی دپل په جوړولو کی پاتی راغلی ؤ خودادجهاد برکت دي چی دخوست له فتحی وروسته پری دیوه پاخه پل دجوړولو کارشروع شوی دي.

له شمل سره جوخت دمجاهدینو اوخوست داوسیدونکو ګڼ شمیر دفاتح هرکلی ته راوتلی ؤ هغوی خوشاله ؤ چی دخوست فاتح هغه ښار ته ورځی چی دده ترقوماندی لاندی فتحه اوازاد شوی،هغه سیمه چی دغو خلکو دکمونستی جبراو استبداد له امله تری هجرت کړی ؤ اواوس بیرته سرلوړی پخپل کور کلی بسیا شوی دی.

آزاد خوست ښه اباد معلومیده ، خلك خپلو کورونو ته راګرځیدلی وو بازارونه اومارکیټونه ښه ډك وو اودژوندنیوارتیاوو دټولو ارخونو دتأمین لپاره پکی ښه پوخ اوپراخ کارشوی اوپرمخ روان ؤ موږماسپښین په مټه چینه کی دمجاهدینو مرکز ته ورسیدو، له لمانځه اوډوډی وروسته دخوست مخور اوسپین ږیری دحقانی صاحب دملاقات اوښه راغلاست لپاره راغلل .دحاجی شهسوار خان په مشری دخوست دسپین ږیرو او مخوره لومړنی ډله له غرمی وروسته په دوه نیمو بجو راورسیده.

حاجی شهسوارخان حقانی صاحب ته له ښه راغلاست وروسته وویل :

موږپه ډیربد وخت کی له خوسته وتلی او کډی موکړی وې په ډیرو سختو شرایطو کی موخپل کوراوکلی پری ایښی ؤ خواوس دخدای فضل دی په ډیرښه وخت اوښو شرایطو کی خپل کور اوکلی ته راغلو داټول دمحترم حقانی صاحب دجهاد اوقربانیو برکت دي دادحقانی صاحب دتدبیر اوجهاد برکت ؤ چی موږبیرته په خپل کلی کوربسیا شو. دابسیاکیدل ډیری ستری قربانی اوتکلیفونو وروسته لاس ته راغلی دی باید چی موږپدغه افتخار اودالله تعالی پدغه سترنعمت شکروباسو اوخپل عمل سم کړو.

حاجی شهسوارخان دکمونستانو دظلمونو اوفجایعو یادونه وکړه اوپدی رابطه یی خپل سرګذشت اوخاطری بیان کړی .

حقانی صاحب دوی ته په خطاب

کې ووېل: دافغانستان په جهاد کې
دغه ملت ټول مسلمان افراد برخه
لري. له خوست څخه دهجرت لړۍ
دحاجي شهسوارخان، حاجي
عبدالقيوم خان اوداسې نورو
مشرانو له خواپيل شوې ده كله چې
دوى خپل شته اوجايدادونه
پرېښودل اوهجرت يې وكړنو ولس
ته هم داهمت اوجرئت پيداشو چې
كه دوى دغومره ډيره شتمني
اوجايداد دالله تعالى په لاركې
پريښودلى شي نودوى يې څنگه
نشي پريښودلى هماغه وُچې
هجرتونه شروع شول اومقاومت ښه
اوج ونيو.

دمازيگر له لمانځه وروسته حقاني
صاحب له خپلو قوماندانانو سره
خبرې پيل كړې چې دماښام دلمانځه
له وقفې وروسته ان تر ماسختن
پورې روانې وې. دميزان په ٣ نيټه
دسهار په نهه نيمو بجو په خوست
كې له قوماندانانو سره دملاقات
پروگرام ؤ خوهلته په خوست كې
دخارجي مؤسسو مسوولين هم
راغلي ؤ چې له حقاني صاحب سره
دخپلو مشكلاتو، غوښتنو او
دكاردپروگرام په رابطه مشوره
اوهدايت واخلي. دپاكلو مؤسسي
مسئول چې دسړكونو اودشمل دپل
جوړولو كاركوي حقاني صاحب ته
ووېل چې له غلام خان
راديخوا دغونډيو په لمن كې
زموږدسړك جوړولودنقشې په مخه
كې دگړبزو خلك مشكلات پيدا كوي
وايي چې سړك په خوړكې تيرشوى
ؤ بايد په هماغه خوړكې وغزېږي
اوياموږته داسې فرمايشات راكوي
چې په تخنيكي لحاظ دمنلو وړ نه
وي.

حقاني صاحب ووېل: پدې لاركې
دافغانستان دټولو مسلمانانو حق
دى داپوائځى ديوه قوم اوولايت حق
اولار نده بلكې پدې كې دافغانستان
دهرگوټ خلك حق لري. الله تعالى
دعمومي اوعام المنفعه لارې دغزولو
لپاره حتى دجومات انهدام هم
رواگرځولى نوبيا څنگه دلارې
دغزيدو په مخه كې چې ټول ملت
پرې اسوده كيږي مشكلات اوخنډونه
اچول كيږي. حقاني صاحب
قوماندانانو ته هدايت وركړچې
دگړبزو دقوم مشران راغونډ كړي
اوداورته وښيي چې هسې پخپل
ځان اواولاد ظلم ونكړي ددغې لارې
له امله دوى ته هم ډيره گټه رسيږي
كه نه موږ كولى شو چې په بله سيمه
كې سړك تيركړو اودليژى اوانځركى
په لنډ لارسړك وغزوو.

حقاني صاحب دمؤسسي مسؤلينو
ته ووېل ديوه تن دتخريب او منفي
رويې له امله ټول ولس محروم پاتې
كيږي داسې كسانوته بايد موقع
ورنه كړل شي چې دټول ولس څخه
دښيگڼې اوخيردكارونو په مخه كې
خنډونه ايجاد كړي. لدې وروسته
حقاني صاحب له قوماندانانو سره
دواحدې ادارې په رابطه مفصلې
خبرې وكړې ويې ووېل: موږ په
گرديزكې دټولو تنظيمونو
قوماندانانو ته ووېل چې ټوله وسله
بايد چې په يوه مركز كې غونډه كړو
چې دچوراوچپاول مخه ونيول شي
اودولتي وسايل ضايع نشي په
همدې اړه موږدټولو تنظيمونو
قوماندانان راغونډ كړل اوداموورته
په ډاگه كړه چې پدې شرايطو
اوحالاتو كې هيڅ شي نشي غنيمت
كيدى داټول دبيت المال او گرد ملت
حق دى اوپه هيڅ صورت دغنيمت
ترحكم لاندې نه راځي ځكه خو موږ
لدوى څخه ليكلي تعهدات واخيستل
چې دولتي ځايونه چې هرچانيولي
دابايد وران نكړي خپل يې ونه گڼي
اوټول وسايل اووسلې مشتركې
ادارې ته وسپارې خوله بده بخته
چې لدغه تعهداتو څخه سرغړونې
وشوې اوتاسې وليده چې په گرديز
كې ډيردولتي وسايل ضايع شول.

حقاني صاحب ووېل: دډيرو
مؤسسو داهيله وه چې لكه په خوست
كې په گرديز كې هم عمراني كارونه
پيل كړي خوچې وليدل گرديز خپله
مجاهدين ورانوي ځكه خويې هلته
عمراني كارونه عبث وگڼل.

په خوست كې كه څه هم امنيت ښه
دى اوډيرو مؤسسوښه
كټوږپروگرامونه ترلاس لاندې نيولي
خودواحدې ادارې دنشتوالي له امله
كله كله يوڅوك پيداشي اودغو
مؤسسو ته مشكلات پيداكوي.

حقاني صاحب ووېل: زموږلاس تش
دى، كومكونه قطع دى، موږځه

نشوکولی خومؤسسی کارکولی شی
ځکه امکانات لری خوکه مؤسسی
دچاله خواتهدید کیږی طبیعی ده
چی هغوی خپل عمرانی پروگرامونه
نشی عملی کولی.

ځکه خوزه وایم چی ددی جدی مخه
ونیول شی چی څوك مؤسسی تهدید
کړی اویایی په خپل زړه اوفرمایش
کارکولو ته مجبوری کړی .

حقانی صاحب وویل : زه پدی
خبرو کی نه دنیاوی غرض لرم نه
سیاسی اونه هم مشرتوب غواړم
خودیوی قوی اداری دجوړیدو خبره
ځکه کوم چی که اداره نه وی
نوداسی کارونه کیږی اوشول چی
نه یواځی دپکتیاولسونو بلکی ټول
افغانستان ته یی تاوان ورساوه.

حقانی صاحب وویل : زه پدی خبرو کی نه دنیاوی غرض لرم نه سیاسی اونه هم مشرتوب غواړم خودیوی قوی اداری دجوړیدو خبره ځکه کوم چی که اداره نه وی نوداسی کارونه کیږی اوشول چی نه یواځی دپکتیاولسونو بلکی ټول افغانستان ته یی تاوان ورساوه.

همدا علت ؤ چی په موږعام خیربند
شو اوهغو کسانو چی
داکاروکړاوچوریی وکړهغه هم تاسی
وینی چی په بده ورځ او هماغسی
خوار اوزار دی .

دقوماندانانو په نمایندگی دنجات
ملی جبهی قوماندان ضابط صاحب
گل قاسم وویل : داربتیا ده له
حقانی صاحب سره موږ ټولو په
گردیز کی داتعهد کړی ؤ خوموږ
لیدل چی ټولو مات کړ.

ده وویل نواحدی اداری دنه فعالیدو
یو علت دادی چی لدغی اداری سره
تنظیمونو هیڅ کومك ونه کړ ،
یواځی حقانی صاحب له موږسره
کومك کړی دی.

نوموړی قوماندان وویل : په خوست
کی دظاهرشاه په ٤٠ کلنه پاچاهی
کی پوهنتون جوړنشو، داود خان
دلته دپوهنتون جوړولو پروگرام نه
درلود اوس دخدای حقانی صاحب
ته خیر ورکړی چی ددوی په
کوښښونو دپوهنتون بنسټ ایښودل
کیږی اوگڼی نوری علمی مؤسسی
یی هم فعالی کړیدی .

نوموړی حقانی صاحب ته ډاډ
ورکړ چی قوماندانان ستاسی
دهدایاتو اولارښوونو عملی کولو ته
اماده دی اوان شاالله چی پدی لار
کی له هیڅ ډول خدمت څخه
سرغړونه نه کوی.

لدی وروسته یوځل بیا حقانی
صاحب قوماندانانو ته په خطاب
کی وویل : زه یوه خبره تاسی ته په
ډاگه کوم او هغه داچی موږباید
دقومونو اوتنظیمونو په عنوانولو
سره بیل نشو، اصلاً مجاهدین
اوقوم یودی اوهغوی چی کمونستان
دی اویایی له کمونستی رژیم سره
فعاله اودزړه له اخلاصه کارکړی
هغوی معلوم دی هغوی نه له
مجاهدینو څخه گڼل کیدی شی اونه
له قوم څخه – موږباید دمجاهدینو
په نوم دمجاهدینو تراداری لاندی
راټول شو.

ځکه همدغه قومونه دی چی په
تنظیموکی دی اوهمدغه تنظیمونه
دی چی له قومونو څخه جوړشوی
ځکه خو باید دقوم اوتنظیم په نوم
اختلاف ونکړو .

حقانی صاحب زیاته کړه موږ باید
دتشکیل له مخی یوه فعاله اداره ولرو
چی په کابل کی دیوه مرکزی قوی
اونماینده اسلامی حکومت ترفعالیدو
پوری په مؤقتی توگه په سیمه کی
فعالیت وکړی .

حقانی صاحب وویل : په کابل کی
موجوده حکومت په رشوتونو چلیږی
اودپیسو منصبونو اورتبو په ورکولو
سره غواړی دغه سیستم په ولایاتو
کی هم خپورکړی. هلته وزارت ،
ریاست ، موټر اودکومکونو ویش
داهرڅه په رشوت کی ورکول کیږی.

ماته هم داسی پیشکشونه شویدی
خوماپه ډاگه کړی چی ترڅو حکومت
له ائتلافی شکل څخه نه وی وتلی زه
یکی برخه نه اخلم. مانورو ته هم
داویلی چی که په حکومت کی
وزارتونه اومنصبونه واخلی طبعا
طرف معلومیږی. اصلی خبره داده
چی تراوسه حکومت هیڅ پروگرام
نلری چی څه کوی اوڅه غواړی

اواصلا پـه ادارو او وزارتـونـو کـی دکارهیڅ زمینه نشته – حکومت له چهاراسباب اوکارته نو دیخوا هیڅ اجرائیوی ، قدرت حتی موجودیت نلری.
حقانی صاحب په خپلو خبروکی وویل : زه داداری مشری نه غواړم خو دسالمی اداری ترشابه ولاړ وم موږبه هیڅکله هم دقوم اوتنظیم په نوم کوم تحریك ونه چلوو.
حقانی صاحب زیاته کړه : موږچی له روسانو اوددوی له ګوډاګیانوسره جنګ اومقابله کوله داددی لپاره چی دمسلمانانو دین ، نـامـوس اومال خوندی شی .
خودغه شیان درشوت په حکومت کی نشی تامین کیدی ځکه هلته موږ وینو چی دچاهیڅ هم ندی مصئون. زموږ ټول کارونه باید دسلا مشوری له مخی وی اودملت لـه منل شـویو حکومتونو سره به همکاری کوو په ولایتـونوکـی بـه هـم دمجـاهـدینـو حکومتونه جوړیږي داسي نه چي دکـابـل ائـتـلافـي اداره بـه یـې راصادروی اودرشوت له مخې والیان اوحاکمان تاکل کیږي .
حقانی صاحب وویل مانه غوښتل چی مجـاهـدین خـرڅ کـړم اودوی وینی اوقربانی دائتلافی اداري له اهـدافـوځـخه ځـارکـړم اوپکـتیا دمجاهدینو حیثیت اوعزت له وزارت اوولایـتـه قـربـان کـړم اومـوټـړی اوپیـسی ترلاسـه کـړم خوکـه خدای مکړه داکارمی کړی وای باید مخه

حقاني صاحب وويل :موږ بايد دقومونو اوتنظيمونو په عنوانولو سره بيل نشو-اصلاً مجاهدين اوقوم يودي – او هغه چي کمونستان دي هغوي نه له مجاهدينو څخه ګڼل کيدي شي نه له قوم څخه.

می نیول شوی وای په مجـاهـدینـو کـی بـایـد داجرئت اوقـوت وی چـی دداسـی کارونو مخه ونیسی اوپری نږدی چـی ددوی جـهـادی عـظـمـت اوعـزت څـوك لـه څـوکـی ، پـیـسـو اومنصب څخه قربان کړی.
حقانی صاحب وویل : ماپه ګردیز کی هم مجاهدینو ته وویل چی یوه مشترکه اداره به جوړه کړو او ټولی وسلی اووسایل به ددغی مشترکی اداری په کنترول کی وی چی ضایع اوتلف نشی خودحزب ځینو وروڼو دانه منله ویل یی چی موږیدی وسلو له ګلم جمو سره جنګیږو ماورته وویل چی که تاسی په رښتیا له ګلم جمو سره جنګ کوی اوداقتدار اوسیاسی اغراضو خبره نه وی نو زه به خپله ټوله وسله درکړم خواوس داوسله اووسایل مه تقسیموی .
حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل : ماله ټولو مجاهدینو څخه هیله کړی وه څرنګه چی دکابل رژیم دبشپړاوحتمی سقوط په حال کی دی ځکه خوباید پرکابل له یوځی حملی بده وشی اوکه داسی وشی نودابه دقدرت دمسابقی بنه ولری

اوښکاره ده چی دپروخیم اوخطرناك عواقب به رامنځ ته کړی خوله بده بـخـتـه هـمـداسـی وشـول اوپـیـری خونړی جګړی یی رامنځته کړی مابیا هم دسولی لپاره هلی ځلی پیل کړی اوله دواړو خواوو څخه می کتبی تـعـهدات واخیـسـتل چـی دسولـی دکمسیون پریکړی به په بشپړه توګه عملی کوی خودوی په پټه توګه نور څـه روان کـړي وو مـاددوی تـرمـنځ جوړه وکړه او حکمتیارصاحب ته می وویل چی مسعود غواړی له تاسره پټ نـورتـوافـقـات لاسـلیـك کـړی اومخکنی جوړه ترپښو لاندی کړی خو هغوی دواړو دبهرنیو اشخاصو په موجودیت کی نور توافقات امضا کړل اوهمغه یی په راډیو اوتلویزیون کی اعلان کړه داسی چی له یوی خوایی دمجاهـدینـو پرضد نـاروا تبلیغاتو ته مخه خلاصه کړه اوله بلی خوایی مخکنی جوړه چی عملی جنبه اواړخونه یی لرل ترپښو لاندی کړه پداسی حال کی چی مخکنی جوړه یی حتی اعلان هم نکړه لدی معلومیږی چی دوی هغه جوړی ته مخلص نه وو خوددوی جوړی هم

حقاني صاحب وويل مانه غوښتل چې مجاهدين خرڅ کړم اودوی
ويني اوقرباني دائتلافي اداري له اهدافو څخه ځارکړم اوپکتيا
دمجاهدينو حيثيت اوعزت له وزارته اوولايته قربان کړم اوموږ ي
اوپيسې ترلاسه کړم څوکه خداي مکړه داکارمي کړی وای بايد مخه
مې نيول شوي وای په مجاهدينو کې بايد داجرئت اوقوت وي چې
دداسې کارونو مخه ونيسي اوپرې نږدي چې ددوی جهادي عظمت
اوعزت څوک له څوکۍ پيسو اومنصب څخه قربان کړي.

دوام و نکړاولکه چې ومو ليدل له پخوا زياتي جګړي وشوی اودېرې وينې توی شوی .

دخوست دمخورو اومشرانو داهيله وه چې محترم حقاني صاحب دوی ته وخت ورکړي چې دخپلو مسايلو اوبرو په رابطه ورسره خبری وکړي اودوی دپرابلمونو اومشکلاتو دحل لار ورته وښايي.پدی کې يوه ډيره جنجالي ربړه دصبريو قوم ددوو ډلو ترمنځ دځمکې پرسرددعوی ربړه وه چې نژدی وه دجګړي ډيرې خونړی لمبې يې بلې کړی وای. دوی درندی وسلې ديوه بل په مقابل کې درولي وی،سنګرونه يې جوړکړي وُ اوهره لحظه ددی امکان و چې يوه ډيره سخته اوخونړي جګړه ونښلي حقاني صاحب دخپلو ګڼو مصروفياتو سره سره صبريو ته ولاړ- دنوری خيلو اوبت خاني دکليو له مشرانو سره يې خبری وکړی. دميزان د ٤ نيټې دمازديګر له لمانځه وروسته يې هغوی ته عالمانه وينا وکړه چې دادی دهغې متن موږ دلته درنو لوستونکو ته وړاندی کوو:

حقاني صاحب له حمد اوثنا وروسته وويل:

عزتمندو ورونو! مسلمان قوم دخداي په وحدانيت په رسولانو اوکتابونو اوپه قيامت اوپه حساب اوکتاب اوپه تقديرچې خير اوشر دالله (ج) له طرفه دی ايمان لری الله تعالی فرمايي چې زه ددغو کسانو ولی اومتصرف يم اودوی زما دوستان دی دادالله تعالی ډله اولښکر دی دغه مسلمانان چې په زړه کې عقيده اوپه ژبه اقرار لری اواسلام دپنځه بناوو چې دايمان مصدق اوعلامات دی منونکی دی دادالله تعالی بندګان دی الله تعالی يی مولا دی اورسول کريم (ص) دالله تعالی له طرفه راليږل شوی پيشوادی چې دوی ته دالله تعالی درضايت لاره ښيي. محمد (ص) په حجة الوداع کې چې دايې لومړی اووروستی حج و مسلمانانو ته ددين دتکميل ډيراحکام بيان کړل دده دوفات شپې نږدی وی اوداسې وصيت اونصيحت يې خپل امت ته وکړلکه چې دچانه ډيرنژدی دوست دتل لپاره دخداي پاماني په وخت داسی نصيحت اووصيت کوی .

عزتمندو ورونو :

يوامت ددعوت دی چې کافر اومسلمان دواړه پکې شامل دی بل امت مسلمه دی چې پيغمبر (ص) يې شفاعت کولی شي خودکافر لپاره پيغمبر دشفاعت حق نه لری ځکه کافردالله تعالی له طرفه درحمت دحاصلولواهليت نلری.

رسول (ص) مسلمانانو ته وفرمايل چې زماله وفاته وروسته تاسی کافران نشی داپدی معنا- چې تاسی به بت ته سجدی نه کوی شرک به نه پيدا کوی خوداسی احتمال شته چې ځنې به راولاړ يږي ديوبل څټ به وهي اويو بل به وژنی. دلته پيغمبر (ص) دمسلمان له مرګ نه تعبير په کفرسره کړی يعنی که په خپل منځي جنګو کې يوبل وژنی تاسی کافرکيږي پدی حديث مبارک کې رسول (ص) له هغې څخه په کفر سره تعبيرکړی. عاقل بالغ چې مسلمان وی اوبل مسلمان ورور مرکړي داقتل عمد دی اوپه قرانکريم کی راغلی چې دابه هميشه په دوزخ کی وی.داکه په ظاهرمحمول شی نوحديثونه داوايی چې مسلمان ترابده په جهنم کی نه پاتی کيږي هغه دګنادجزاله ګاللو چې په دنيا کی په توبه خلاص نه شو په شفاعت هم خلاص نشو نودی به په

دوزخ کی خپله جزاتیروی دامؤقت اوردی چی یو ذره هم ایمان ولری هغه به تل ترتله په دوزخ کی نه پاتی کیږی .

خودقتل عمد دقاتل لپاره همیشنی دوزخ دی. کتابونه ددی وجه دابښیی چی څوک مسلمان مړکوی پدوی کی شیطان ننوځی، دی دشیطان تابع شی او هغه قتل روا وګڼی چی په حقیقت کی روانه وی پداسی حال کی چی حق ثابت نه وی اودی یی ځانته حق بولی نوده حرام حلال کڼلی. دمسلمان مرګ هیڅ روا ندی ځکه چی نه مرتد دی نه قطاع الطریق دی نه زناکار دی. دی چی دامړکوی په حقیقت کی حکم دمرګ اودمرګ دروا والی پری کوی نوده په حرامو دحلالو حکم کړی چی له همدی امله دکافر په حساب کی راځی .

قتل خوګناه کبیره ده خوپه دښمنیو کی که چاپه قتل چی ګناه کبیره ده افتخار وکړ نوافتخار به ګناه کبیره کفر دی .

بل داچی دمسلمان په مرګ چی څوک خوشاله شی پداسی حال کی چی الله تعالی فرمایی چی په ګناه باید سړی پښیمانه اوشرمنده شی خودچاپه مرګ کی چی په دعوه کی مړشی اووایی چی زړه می اوپه پری وخښنی نودمسلمان په مرګ خوشالی

قتل ګناه کبیره ده خوپه دښمنیو کی که چاپه قتل چی ګناه کبیره ده افتخار وکړ نوافتخار به ګناه کبیره کفر دی .

او هغه روا والی اوافتخار کفر دی ځکه په جهنم کی دابدالا بد لپاره اچول کیږی .

خوچی په دعوه کی څوک ووژنی اوپر هغه افتخار کوی اوخوشاله کیږی هغه دتوبی توفیق نه مومی زړه یی تورشی هغه ته بیا نه دالله تعالی مغفرت شته اونه دپیغمبر(ص) شفاعت .

ځکه خو پیغمبر(ص) وایی چی تاسی کافران نشی چی دیوبل څټونه ووهی او همدایی په کفر سره تعبیر کړی دي.

عزتمندو! په ځمکو دعوی کول چی هغه هم خرابی ځمکئ وی پداسی حال کی چی هغه یی دنیکونو په وخت کی هم نه وی خوړلی که څه هم چراګاه اوشفع یی وی اوس چی پری جګړی کوو یو بل پری وژنو پدی بدی اومرګ به دالله تعالی محاسبه روانه وی خوموږ به پخپل ژوند لدی نه فایده نه وی اخیستی هغه که روا فایده وی که ناروا .

دمسلمانانو په منځ کی تفرقه ، وژنی داټول دشیطان عمل دی.په افغانستان کی دروسانو مخکی هم حکمی استعمار ؤ په دره کی کارتوسی جوړیږی خوپه افغانستان کی نشوی جوړیدی -ایا ددی استعداد په چاکی نه ؤ خو حکومتونه روس داسی تشکیل کړی وو چی دی کار ته یی اقدام نه شوی کولی .

دوی دپوځ تربیه پخپل لاس کی نیولي وه ویل یی چی موږ درته پوځ تیاروو داضرورت مو موږ رفع کوو ځکه خویی دلته خپل افغانی روسان تربیه کړل، وسله روسی وه او تریننګ به هم روسانو ورکاوه ځکه وسله دوی ورکړی وه اوتربیه به هم دوی ورکوله. دوی غوښتل چی ترکلوشو، تر سیلو، هوایی میدان اوهرڅه پوری دوی ته احتیاج وو.

عزتمندو : دشین ډنډ اومزار میدانونه دسالنګ سړک اوداهرڅه روس دیوه پروګرام لپاره جوړکړی ؤ چی لدی ټولو څخه دخپلو استعماری اهدافو په لار کی کارواخلی.

بیاخلقیانو پرچمیانو حکومت ونیو روس راغی جهاد شروع شو او ۱۴ کاله موږدمرګ ژوبلی هجرت او جهاد

سره مخامخ وو.

اوس چې تاسې دخدای په فضل بیرته کورونو ته راغلي دخیمې اوکمپ له مشکلاتو خلاص شوي په پردې ځمکه کې په سوال پراته وي حتی دمړي لپاره مو هم په هدیره کې ځای نه درلود چې تاسې ددې ټولو شاهدان یې اودتفصیل ضرورت نشته، روس دهمدغو قربانیو له برکته ماتي وخوړه دروسیې امپراطوری دړې وړې شوه دروس تهدید چې په خلیج ، ترکیه ایران اوټوله نړۍ باندې وو هغه ختم شو، روس ان تریمن ، لیبیا ، عراق سوریې اوډیرو ځایو پورې خپلې استعماري لومې غوړولې وې. اتحاد شوروي چې ۱۶ جمهوریتونه یکي وو ړنګ شو اوکمونیزم له دنیا څخه دتل لپاره ورك شو. دروس تهدید اوخطر له یوې مخې له منځه ولاړ داټوله ویره اوډار ورك شو اوس له روسانو سره له مجاهدینو څخه ډار او ویره پیدا شوي اوس دمجاهدینو په کمپونوکي دتاجکستان مسلمانان روزل کیږي او هلته داسلام په لار کې مبارزه اوانقلاب برپاکوي، موږ چې الله چې لدغه استعمار نه خلاص کړو الله تعالی دانه خوښوي چې موږ یو بل تو توپك ونیسو اوددغه ستر نعمت ناشکري وکړو تاسې باید شکر وباسې که کفران ددغه نعمت وکوي او گناته وگرځی الله تعالی به عذاب دربانډې نازل کړي .

عزتمندو! تاسې وگورئ چې له جهاد نه مخکې په ټول خوست کې ۱۰۰ طالبان نه پیدا کیدل خواوس دخدای فضل دی دطالبانو شمیر له ۳۰۰۰ نه هم زیات دی، موږ دکفر مقابله نه کوله دفحشا اوفساد مخه مو نه نیوله نو له داسې عذاب سره مخامخ شوو ، دادالله تعالی قانون دی چې بې لارې قومونه له عذاب او امتحان سره مخامخ کوي، دکابل په خلکو همداسې عذاب نازل دی دوی له هجرت او جهاد څخه لیرې پاتې شول حتی ځانونه یې له موږ تاسې نه پټ کړل او مال اوځوکې دخدای له امر نه دوی ته گراني وې ځکه دهغه له امله یې هجرت او جهاد نه کاوه موږ چې هجرت کاوه ددنیا ټولو مسلمانانو زموږ استقبال وکړ خو دوی حتی پاکستان هم نه پریښودی، دوی یواځې له جنگه اوله توپونو سرونه راایستل، دکفر له لاسه یې هجرت ندی کړی داصرف عذاب دی، فتنه ده چې دوی یې قرباني کیږي اولداسې تکلیفونو سره مخامخ دي چې موږ الله تعالی ترې لیرې ساتلي یو .

عزتمندو! په موږ باندې الله تعالی ډیر ستر رحم کرم او احسان کړی موږ ازاد یو دا آزادی الله تعالی راکړې اوس دا ازادي پدې مه بدلوئ چې یو دبل وینو ته کینې یوبل ته توپك ونیسې اوپخپلو کې سره ووژنی.

عزتمندو! اوسله ایستل پر مسلمان داسې جزا لري چې که هغه مړکړي دیت پرې نشته. تاسې یوبل ته خندقونه ایستلي سنگرونه مونیولي باید ددغو فتنومخه ونیسې- سپین- ږیري باید کښران په بلاوانه ږوي تاسې نوی له هجرت نه راغلي یاست له تاسې نه باید اخلاق زده شي مسلمان دمسلمان په مقابل کې متواضع وي، حتی له خپل حق نه تیریدونکي وي مسلمان یواځې دکافر په مقابل کې سخت وي .

عزتمندو! موږ ته ستاسې ددعوې تفصیل ندی معلوم منتهي که اوس تاسې او هغوی پدې ځمکه دعوه ونکړي جنگ نه پیښیږي توپك پخپله نږ نه کوي تاسې که دعوه قرار وي قرار ولي یې شي داستاسې په اختیار کې دی.

عزتمندو! ماډیر عاجل اوضروري کارونه لرل اوهیڅ وخت مې نه درلود خو دپښتنو په منځ کې چې یو ځل وینه توی شي دابیا ډیره وخیمه نتیجه لري موږ هم ددې لپاره چې

دمسلمانانو دمخالفت تفرقی اوجنگونو دمخنیوی لپاره می په خپل توله وس کوښښ کړی دمصالحی لپاره راغلی یو موږ پدی نیت چی دامسلمانان دی دعالم خبری ته غوږ نیسی زموږ سوال به ومنی موږ پرون هم څو قوماندانان اوعلما راالیږلی وو دوی تکلیف وکړ تاسی مشران به ددغی مسلی په باره کی مصلحت وکړی اوموږ ته به واك راکوی موږ به خدای ته مخ کړو دشرعی فیصلی خبره به وکړو چی شریعت پدی کی څه وایی تاسی دخپل اخرت په خاطر داکار وکړی الله تعالی به دومره هستی درکړی اوډیر رحم به درباندی وکړی– یوه فتنه به تاسی بنده کړی الله تعالی به له تاسی سل فتنی بندی کړی .

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

حقانی صاحب او ورسره دجرګی غړو چی مخورو قوماندانانو اوعلماوو پکی برخه لرله له دواړو خواوو څخه داتعهد او تضمین واخیست چی ددعوی په هکله به دعلماوو ترپریکړی هیڅ یوه خواهم تعرض نه کوی له سنګرونو څخه به خپل افراد وباسی اودرندی وسلی به لیری کوی همدارنګه دافیصله هم وشوه چی لدی وروسته هیڅوك نشی کولی په خپل منځی شخړو کی درندی وسلی استعمال اویا هم یو دبل پرخلاف ودروی .

په جرګه کی دبحث اوخبرو جریان زما لپاره ډیر په زړه پوری او حیرانوونکی ؤ دشپی تریوی بجی پوری خبری روانی وی دلته دجرګو خپل کودونه او کانهی دی اوداسی اصطلاحات استعمالیږی چی سړی فکر کوی جرګی او مرکی ځانته جلاقاموس لری .

کله به خبری دومره اوږدی او تاوجنی شوی چی زه به یی هم بی حوصلی او احساساتی کړم که څه هم زه یواځی دناظر په توګه هلته په یوه ګوټ کی ناست وم اودیوی خبری لپاره می هم په هغه مجلس کی څه ګنجایش نه لیده خو کله ناکله به په زړه کی دحقانی صاحب حوصلی هم په تنګ کړم څو ځله می په زړه کی تیره شوه چی حقانی صاحب ته ورشم ووایم چی دومره وخت موچی دلته تیر یا ضایع کړداپدی نه ارځی ، زه دی ته هك حیران وم چی حقانی صاحب دخپلو ډیرو مهمو مصروفیاتو له مخی بیا هم څنګه دی مسلی ته دومره ارځښت اووخت ورکوی اوپداسی سړه سینه او زغم سره دموضوع دحل هڅه کوی .

ماتراوسه دحقانی صاحب له خوا یوی موضوع ته دومره وخت ورکول اوداسی اهتمام نه ؤ لیدلی.

حقانی صاحب له څوورځو ستومانه ؤ – دوی شپی یی له خپلو قوماندانانو سره خبری لرلی– له ولسی مشرانو سره یی ملاقاتونه وو خولدی تولو سره یی پدغه جنجالی جرګه کی هم په ډیر زغم اوحوصله برخورد کاوه. موږ به بی حوصلی او زړونه به موتنګ شول خو حقانی صاحب به په داسی سړه سینه خبری اونصیحت کاوه چی نه احساساتی کیده اونه یی په لهجه کی څه فرق لیدل کیده .

سبا همداسی حال دبت خانی دمشرانو هم ؤ خو هلته هم دحقانی صاحب حوصله اوزغم حیرانوونکی ؤ پدی توګه وتوانیده هغه سخت سري ، سخت زړی اودیو بل وینوته تږی اړخونه دی ته اماده کړی چی دشردنه پیښیلو تضمین او تعهد ورکړی پدی توګه دجګړی اوفتنی اورمرکړي شو.

تکل

وصیت

غم او درد یې پر زړه کلا اباده کړې ، پر اورو یې ورته داسې درونډ پیټي ایښې چې سبوریدي نشي ، پر لیمو کې یې اوښکې وړاندې ورووسته کیږي . درد یې شونډې اسویلي ته سره بیرته کړې ، ارمانونو ته یې کفن وراغوستل شوي نور له هغه سره په ابدي ژوند کې دوصال پرته څه ارمان نه لري ، دزیاتو چیغو له لاسه یې مرې ناستې دي ، د درد داظهار لپاره دکریکو لار هم پرې بنده شوې ، هرڅه ورته دغم ترانه غږوي ، ټولو ته دغم اوښانو گونډې وهلي ، هرې خوا سلګې دي چې دنورو سلګې وګورې دځان په وهلو او دویښتوپه شکولو پیل وکړې هیڅوک یې له اورو دغم دپیټي دراکوزولو توان نلرې ، څو شیبې یې یو انجکشن بې خوده وغورځوې خو هلته یې بیا زوی څمکه اواسمان ژړوي:

... مور مې مړه شوه ... زما مور باندې موښه وکړل ؟! سلګې خپل ځاې کریکو ته پریږدي ، نور نو کړیکې د ماتم ډنډوري غږوي ، دښځو له منځ نه یوه بوډۍ راپورته شي : ... راشه زویه ! ... زما غیږې ته راشه ... دزیاتي ژړابه دې زړه چاودشي !! خوده دمور سرته گونډې وهلي اوپه چیغو ، چیغو اوورو چچکو موریه سدکول غواړي ، بوډۍ ماشوم غیږ کې واخلي اوبلې کوټې ته یې ننه باسي ، دمور پر مخ اوپښنو یې اوبه وروشیندې هغه ورو ، ورو ځان وخوروي ، نیغه کیني ، ټولو ته ځیر ، ځیر وگوري : ... اوس خو هغه زما مخې ته ناست ؤ ...

خوب کې یې هغه مخې ته گونډې وهلي دي .

... کوټې کې رڼا یې خوره شي ، غوبونه یې وتخنیږي ... « گوره ! اخر مو دبیلتانه څپیره پر مخ ولګیده ... خو پام کوه دوصال لاری موپرمخ خلاصې دي ... نن خوراته ژاړه کریکې کوه په غښو ، غښو راته وګوره چې سبابه مې دیاد پرته څه نه وي ...

خو ګوره ! ... پر صبور جان به لاس نه پورته کوې ... هغه زما په لاره پل ږدو ته وهڅوه همدا زما اوستا دبیاوصال لار ده ، پرې زه خوستومانه نشي ...

بیاپه ژړا شي او چیغې کړي :

... هله صبور جان ... هله صبور جان ...

بوډۍ یې صبور مخې ته کینوي ، غیږه ورته خلاصه کړي ، سینې پورې یې جوخت کړي :

... شکر چې ته یې راته پریښې یې

... دمور په ګریوان کې دزوی اومور اوښکې سره یو ځای شي ، بیا په ټوله کوټه کې کریکې سره غبرګې شي ، بوډۍ بیا ورته رامخې ته شي ، غواړي زوی یې له غیږې راواخلي ، خو هغه سینې پورې لاجوخت کړي :

... مه کوه دی مې دغم ملګری دی...

بوډۍ ورته په قهر شي :

په ژړا دې مړ کړ ... ورکوټې ماشوم دی

بیا په چیغو شي :

... مه کوه غرض پرې ونکړې ...

پریږده چې ژاړي ...

یتیم چې ژاړي پروانکړي

پلار یې شهید دی سترګې چاته واړوینه



دجیل ناره

غفارالدين صديقي

مسلمان یم ، مسلمان یم ، مسلمان یم

داسلام پـه نـامه پـروت یم په زندان

دالـلـه اکـبـر نـاری سوری وهمه

چی خبـرشی زماله حاله ټول جهان

دجهاد په نـامـــه سرقـربـانومه

شـهـادت زمـا ارزو دی اوارمـان

دامی هوډ دی له خپل هوډه به وانوړم

که می سرپه توره غوڅ شی له خپل ځان

محمد(ص)زموږ رهبر دی ترینه ځارشم

هم قـانـون زمـوږ دلاری پاك قران

ددښمن پر ضد جهاد کړم لویه خدایه

ته قوت راکړی چی ورك کړم ملحدان

«صدیقی» تـل سپینی وایه په غزل کی

نور توکل دی په خدای وکړه هر زمان

اقتدار

چي بي قيده بي جلبه زور دچا لاس ته ورشي

عقل کوچ وکړي له سره رحم زړه نه رابهـر شي

مجاهد دازادي چــي اقــتدارتــه ورسيږي

بياهمــاغه سړي گوره ازادي ته لوي خطرشي

دقدرت هضمــول گران دي دادهرسړي کارندي

خيال بي بل فکربي بل شي چي يي لاس په نوروبرشي

تحمل دانتــقاد خوضعــيفــان نشــي کولي

ډير قوي سړي په کار دي چي داپيټي يي په سرشي

چــي اصلي څـيره دچابـښـيي هـرچـاتـه

اقـتــدار دي اقــتــدار دي اقــســتــدار

الفت صاحب

اتحاد

دنفاق اوردي بل شوي دافغان په کلي کور

باد له هرپلوه راغي چي ټول ملك ته يي کړو خور

دافغان دسربه ورکړه دښمنانو گټه وکړه

نور خوشه کړي چي ازاد شول روس هم پربښود ختك لور

دنړي ازادو ملکونه دي اوس ژوند په اطمينان کړي

افغانان که قرباني شول امن ځاي ونيودشور

فرق دپوه اوناپوه دادي چي دگټي موقع راشي

پوه فايده کړي تري اوچته ناپوه پاتي شي تش تور

دغه حال دټول افغان دي بي مثاله قرباني شي

چي دگټي وخت بي راشي بل واکمن يي شي دکور

مشران خپلوکي اخته دي نور حالت نه گټه اخلي

که يووالي خپل اعلان کړي دښمن پروت به وي نسکور

زه په ډيره پسته ژبه ومشرانو ته داسوال کړم

روغي جوړي لارکړي غوره کلي نه کبري په زور

حوصله صبر تري تللي « مومند» ژوند باندي پکودي

نورکتي نشي په غټو غمځپلي ژوند دوروړ

غلام صديق مومند

هم مي زړه په لمبو سوزي هم ګوګل په لمبو سوزي
چي کشمیر په لمبو سوزي چي کابل په لمبو سوزي
دایمـان دوطن څـم مي فلسطین چي لمبه کیږي
دپښتون زړګي وطن مي پل په پل په لمبو سوزي

دافغان وحدت په حال مي زړه ریږي مدام
بله نقشه دسیاست په دورنما کي وینم
داتفـاق نـاري وهي دنفـاق اوربلوي
دوستي کي پټه دښمني زهر دواکي وینم

لوبه

ټوکه یي ونه ګڼي دژوند اومرګي لوبه ده
بله لاره نلرو یامرګ دي یاموسوبه ده
یابه شین خالو دسره ښامار له داړوبچ کړمه
یامي په سرو وینو دانړي ټوله خړوبه ده

افغان ندی

عبدالقاهر عابد

چی غیرت په چاکی نه وی افغان ندی
چی پراسلام عمل نکړی افغان ندی
چی هوس لپاره خپل وطن ته شاکړی
که سل ځله وایي افغان یم افغان ندی
افغان هغه دی چی خپل واك یی دځان وی
چی دځان واك یی دبل وی افغان ندی
افغان تل دخپل وطن سرلوړی غواړی
چی وطن پلوری په بل نوافغان ندی
اسارت نه مرګ په سل ځله خوښ بولی
اسارت باندی چی خوښ وی افغان ندی
افغان هغه دی چی نرمری په میدان مری
چی دبل کور کی بی ننګ مری افغان ندی
دافغان حیا اوناموس همیش مستور وی
چی حیا ایل کړی دبل ته افغان ندی
زه عابد به همیشه دحق وینا کړم
چی حق ویلو نه عاجز وی افغان ندی

دافغانستان دجهاد په اړه ديوه پاکستاني ليکوال دليکل شوي افساني ژباړه

دباداشاه ګر ليکونه

لنډه کيسه

ژباړن : عوض الدين صديقي

دافغانستان په داخل اوبهر کی هغه دبادشاه ګر په نوم پيژندل کيده ، په دی نوم يو غونډ هم ياديده چی ده يی مسوليت درلود ، هغه په همدی نامه کابل ته راغی اودښار په علمی ، ادبـی ، سـيـاسـی ، پـوځـی او ژورنالستيکی حلقو کی مشهور شو ، چی هره مسله به وه که ده پسی به يی اړه درلوده او کنه اخر فيصله به ده کوله ،دهغه اصلی نوم شولوخوف ؤ چی په دی نامه ډيرو کمو خلکو پيژنده سور بخن رنګ ، دانه دانه ويښته او ځګه ځوانی يی وه ښه بارعبه سړی و ځينو خلکو به جنرال شولوخوف باله. يوه ورځ دی پخپل شاهانه دفتر کی ناست ؤ ښه ايرانی غالی غوړيدلی وه ميز او چوکی منظمی ايښودل شوی

وی پر ديوال دافغانستان نقشه وه پر شيشی دنن ورځی ليکونه ايښودل شوی و چی شولوخوف بايد ليدلی وی ، په کوټی کی چوپتيا وه يواځی دساعت غږ اوريدل کيده اوبس .

شولوخوف لومړی ليك خلاص کړ په هغه کی ۱۲ دپوست کارډ په بڼه عکسونه و ټول عکسونه يی منظم کيښودل اودهغوی خواته يی وليدل دادکوم کلی عکسونه و چی دخاورو سره خاوری کړای شوی ؤ، ټول کورونه ړنګ ؤ ديوالونه ، دروازی ، کړکی او دکور نور سامان سره داسی ګډوډ شوی ؤ .

چی پيژندل يی ګران ؤ ، له کورونو دوړی پورته کيدی ، په کلی کی سوزيدل شوی پټی هم ليدل کيده ، ځنی غواګانی مړی شوی وی او ځينی دتيښتی په حال کی ښکاريدی انسانان هم يوی بلی خواته پراته و دپرون روغ کلی نن ړنګ بنګ دده

مخی ته پروت و که داعکسونه په اخبار کی خپاره شی دهری لوری به دی غم ځپلی ښارته مرستی راماتی شی ، پر انسان تل لطيفی جذبی غلبه کوی بادشاګر ټول عکسونه وليدل ، دودکا دوه غوړپه يی وکړل جوخت يی ورپسی سګرت ولګاوه او خوشحاله شو :

... اخر مو دچريکانو مرکزونه دخاورو سره خاوری کړل... دوی به ترڅو زموږ مقابله کوی ...»

بيايی دخوشحالی نه ډك حالت کی بل ليك پرانيست لومړی ليك له داخل څخه چاورته راليږلی ؤ خوداله ماسکو څخه دده کوم ملګری راليږلی ؤ چی دده دپلارنی کور ساتنه يی کوله هغه دکور دخرابی په باب ليکلی ؤ چی دپرله پسی واوری له امله دکور چت اوديوالونو درز پيدا کړی ، ما ورته يو انجينر راغوښتی ؤ خو هغه دکور تر ليدلو وروسته وويل چی دکور جوړيدل ناممکن دی خوله سره جوړيدی شی او هغه هم دنوی نقشی له مخی کور اوس په پخوانی بڼه ښه نه راځی ددی وجه دادی چی دتاجکستان ، ازبکستان ، باشيکر ، داغستان او ترکمنستان څخه چی کوم لرګی دکور دښايست په خاطر راغوښتل کيږی اوپر هغوی دکور زينت برابريږی هغه تريوه وخته پوری ښه وی خو وروسته وراسته کيږی بيايی ورته ليکلی ؤ ما

فیصله کړی چی کور همداسی پریږدم اوس ته ووایه چی څه وکړم؟
بادشاه ګر به تل دمجاهدینو دځایونو په رنګولو خوشحالیده خو اوس یی چی خپل کور رنګ شوی ؤ سخت خپه شو ، دخپګان دلری کولو په خاطریی دوه‌دکا ګیلاس پر سر واړاوه ، خپګان ختم نشو لږ کم شو خوبیا یی هم حالت ښه نه و دریم لیك یی خلاص کړ دادده دیوه ملګری تورن لیك ؤ چی بادشاه ګر یوی خاصی وظیفی ته استولی ؤ داډیر اوږدلیك و اوپه ډیر عجز لیکل شوی و چی لنډیز یی دادی : «۱۸ کلن ښایسته نورین »اوس زموږ له واکه وتلی کومه چی بادشاه ګر دافغانستان او منځنی اسیا ام کلثوم جوړول غوښتل تورن لیکلی ؤ : «مابه تل دنورین اودهغی له وارثینو سره لیدل هغه به می تشویقوله دهغی له غږمی څو کسټونه هم ډك کړل ، دهغه ښایسته غږ ته می دعقیدت پیروزینی وړاندی کړی ، دولت ، شهرت او عزت ټول ددی مریان ګرځیدلی ؤهغه دخپل فن له وجی ملکه ګرځیدلی وه ماهغی ته دروسیی له تګ اودلوړ زده کړو څخه وویل خو نورین ډیر رجعت خوښونکی وه هغی روسیی ته له خدمت څخه ډډه وکړه ، هغه ذهناً دچریکانو ملګری وه ، خبره دی ته ورسیده چی وسلی ته یی لاس واچاوه

هغی زموږ دری تنه ووژل اونورین هم دهغوی په لاسونو وویشتل شوه معلومه نشوه چی دچاګولی دهغی وجود څیری کړ ، هغه ټپی شوه او اوس په روغتون کی تر علاج لاندی ده.
ددی لیك ترلوستلو وروسته بادشاه ګر سخت خپه شو ، زړه یی په درزا شو هغه له نورین څخه داهیله نه درلوده ، ده فکر کاوه چی دابه دروسیی پیغلو په شان دده کورته راځی اودابه دروسیی ماما پری جوړیږی غټی غټی ، ښځی به پری ویاړی خو افسوس چی داهیله یی سرته ونه رسیده اولاس یی خالی شو.
دنورین دټپی کیدو سره سره ورته اوس دیوی روسیی کورنی دښمنی په میراث پاتی شوه اوداډیر داندیښنی وړ میراث دی بادشاه ګر داسی محسوسوله لکه چی دستنی پر سر دریدلی ، په همدی حالت کی ده څلورم لیك پرانیست ، دادده داوښنی لیك ؤ چی له ختیځ جرمنی څخه راغلی ؤ هغه لیکلی ؤ چی تیره میاشت مو پر واوره یخمالك وهل چی تاینا ولویده ، پښه یی واوښته اوپنځه اونی په روغتون کی بستر وه اوس ښه دی خو بل ځای ته روان یوو ځکه هغه شکمنه دی چی دلته افغانی مشران راغلی او وسله اخلی دا ډاریږی چی

ویی نه ښتوی خوته اندیښنه مه کوه بادشاه ګر په اندیښنی کی ډوب شو او دوه‌دکا ټول بوتل یی پر سر واړاوه .
نورین او تاینا ولی داسی شوی؟ هغه خپلو لورانو په فکر کی شو ، دهغوی حالات یی له سترګو تیراوه له ځانه یی وپوښتل نورین ولی داسی وکړل ؟ ایا دشهرت ، عزت او دولت څخه لوړ څه شته چی انسان دی ځان پسی ووژنی هغه پخپل پوښتنو ته ځواب ورکاوه هیڅ شی هم نشته ، نوبیانورین ولی داسی وکړل ؟ نورین یی مخی ته ودریده په فکر کی یی ډوب شو خیال کی غږ پری وکړ : شولوخوفه ! ته دروغ وایی دکومو لوړو مقامونو چی ته انکار کوی په هغو ښه پوهیږی یواځی له ویلو ډاریږی اخر ته ولی دقرانکریم احترام نه کوی ؟ چو ماتوته ولی شهیدانوی؟
که ته پردی نه پوهیږی نوبیا وحشی یی شولوخوف چی په خیال کی داخبری واوریدی وارخطا شو په همدی وارخطایی کی یی اته نور لیکونه ولوستل ټول لیکونه دروسیی او منځنی اسیا له بیلابیلو سیمو راغلی و ټول ښځو په سخت جذبه لیکلی ؤ دخپلو میړونو ، زامنو ، ورونو او اوښو دحالاتو پوښتنه یی کړی وه دټولو پوځیانو عکسونه اوادرسونه یی هم رالیږلی و په اتو لیکونو کی د ۲۱۰

تنو دژوند او مرګ دمعلوملو غوښتنه
شوی وه بادشاه ګر دورکو پوځيانو
دمعلوملو په خاطر خپل منشی
راوغوښت اوليکونه يی هغه ته ورکړل
چی معلومات ورکړی چی بل ليك يی
پرانست منشی يی راننوت او ورته
ويی ويل دهغوی له جملی ۱۹۰
پوځيان وژل شوی او هرځای خبښ
شوی او۲۰ تنه معلوم نه دی ، هغه په
چورت کی ډوب شو او دتصور په
سترګو يی دمړو پوځيانو دوارثينو
حالت ليده چی دروسيی له مخالفينو
سره يی اړيکی ټينګی کړی ، څيری
يی غم ځپلی دی اوداحتجاج په حالت
کی ، هغه په تصور کی دهغوی
احتجاج محسوس کړ اوپوی سختی
انديښنی باندی اخته شو په همدی
حالت کی بل ليك پرانيست ليك يی
چی ولوست ژوندی يی په ګورننه
ايست داهم دهغه ديوه ملګری ليك و
چی له تاشکند يی ورته رالیږلی ؤ هغه
ليکلی ؤ کوم روسان چی له افغانستان
څخه بيرته راستانه شوی هغوی ښنی
غلا کړی اوبيرته راغلی هغوی له ځان
سره امريکايی جمپر ، ساعتونه ،
قالينی ، قيمتی ټيپ راوړی اوس
چی کوم پوځيان ددوی پرعوض ځی
، چور او غلا په فکر کی دی دوی
دروسی دعظمت خيال نه دی ساتلی
معلومه نه ده چی دوی به دلته څه ګل

وغوړوی .
اوکوم ازبك اوتاجك پوځيان چی بيرته
راګرځيدلی هغوی دځان سره
قرانکريمونه راوړی هغوی خپل
پخوانی مذهب راژوندی کړی ، دځان
پخوانی عزت ورپه ياد شوی ، عجيبه
فکرونه کوی داسی چی موږته پکی
خطر دی ... بادشاه ګر وارخطا شو
هغه وليدل چی څو نور ليکونه هم
پاتی دی اوس يی دخپلی سنجځی ليك
پر لوستلو پيل وکړ هغي ليکلی و نه
پوهيږم « ديمتری » څنګه راوغواړم
هغه ډيربی سره شوی ډير زيات
شراب څکی ، ټوله شپه له کور څخه
بهر وی ، معلومه نه ده چی دروسيی
دمخالفينو کتابونه له کومه راوړی څو
ځلی پوليسو دنشی په حالت کی کور
ته راوستی ، زده کړه يی بيخی
پريښودلی » شولوخوف داسی شو
لکه داور په منځ کی چی دريدلی وی
او ساه اخلی ورروستی ليك يی
پرانيست داله افغانستان څخه راغلی
ؤ دهغه سره څو عکسونه ، داخبارونو
کتنګونه اويو ليکل شوی کاغذ هم ؤ.
داعکسونه ديوه روسيی جنرال و يو
عکس کی هغه ژوندی و په بل کی مړ
په دوهم عکس کی بندی ؤ دهغه
لاسونه اوپښی تړل شوی وی
اودمجاهدينو منځ کی دريدلی ؤ په

اخباری کټنګونو کی دجنرال دنيونی
خبراودمجاهدينو په وړاندی دهغه
دمحکمی جريان ودجنرال خبری
اوداعدام خبر و دبل ليك فوتو اسټيټ
دجنرال له جوب څخه دپيداشوی ليك
و دا ليکنه په روسی ژبه و بادشاه ګر
هغه ولوسته رنګ يی تګ سور شو :
موږ دساده خو غيرت مندو پښتنو
دين ته په توهين سره کټلی او هغوی
مو دځان دښمنان کړی موږ به هغوی
هيڅکله مغلوب نه کړو هغوی دخپلی
ازادی لپاره په کلونو کلونو جنګيږی
څومره پيسی اوقوت چی موږ دلته
مصرف کړی په هغی دسايبريا يوه
برخه ښايسته جوړيده موږ زيات
ليونتوب وکړ زه اعتراف کوم چی
دماتی پر جنګ بوخت يوو .
داوروستی جمله دبادشاه ګر پر
اعصابو ورروستی حمله وه ، هغه غلی
شو ، داسی ښکاريده چی غردی پر
ولوورته ايښی ، بی دمه شوه حرکت
پکی نه وه نيم ساعت ورروسته چی
دهغه منشی راننوت ليدل يی چی
ديوه هوښيار شولوخوف پر ځای يو
وارخطا اوليونتوب په مخه کړی
شولوخوف ناست دی ، دهغه سترګی
تکی سری شوی اوپرله پسی وايی :
افغانستان پريږدی ... افغانستان
پريږدی ...

* دپکتیا تاریخی معرکی :

په ځاځیو کی د سرحدی ټټانو له منځه وړل

* عوض الدین صدیقی

دروکیانو ترپیښی وروسته د۱۳۵۸ کال دوری میاشتی په ۱٤ دځاځیو دلیونیو، اداخیلو ، علی خیلو ، هاشم خیلو،حسن خیلواواحمد خیلو مشران او کشران ترزیاتو ټماسونو وروسته راغونډ شول اوتصمیم یی ونیوه چی دعلی خیلو چونۍ به محاصره کوی که څه هم چی دقومونو تر منځ څه اختلاف و ځینو به ددښمن په پلوی خبری کولی اوځینو به ویل چی ددښمن سره مو هڅمات شوی باید له موقع نه استفاده وکړو اوپری ورودانګو .

دپریکړی په اساس هرقوم ته خپل ځای معلوم کړای شو هاشم خیلو ، حسن خیلو ، اداخیلو ، لیونیو اوعلی خیلو چونۍ دڅلورو خواو څخه محاصره کړه اواحمد خیلو مجاهدین دنری له غونډڅخه راتاوشول ، جګړه پیل شوه، ددوارو خواڅخه درندی اوسپکی وسلی چلیدی په همدی وخت کی ددښمن الوتکی راغلی اوپر مجاهدینو یی بمبارد پیل کړ خو کله چی دښمن وپوهید دمحاصری کړی ورځ په ورځ تنګیږی دګردیز څخه یی یوه قوه دنری غونډ اوچونۍ په لور راوخوځوله (تردی قوی دمخه یوه قوه نری کنډو ته راغلی وه چی همالته دمجاهدینو له خوامحاصره وه اوپرمختګ یی نشو کولی) کله چی قوا دهزاردرخت سیمی ته راورسیده دمجاهدینو تربرید لاندی راغله ، سخت جنګ ونښت قوه راایساره شوه مجاهدینو زیات شمیر پوځیان څه ووژل اوڅه یی ژوندی ونیول ددښمن څو ګاډی اوټانکونه وسوزیدل ، بالاخره الوتکی راغلی بمبارد یی پیل کړ قوه له محاصره خلاصه شوه اوماته ګوډه نری کنډو ته راورسیده په دی ترځ کی له مجاهدینو څلور تنه شهیدان شول ، قوی په نری کنډوکي دیوی ورځی ترتم کیدو وروسته دعلی خیلو چونۍ په لور حرکت وکړ ترڅو دچونۍ محاصره ماته کړی مجاهدین دموشکی په کلی کی ورته ناست ؤ کله چی قوه دی سیمی ته راورسیده مجاهدینو برید پری وکړ ، څو ساعته جګړه وشوه ، مجاهدینو سره دټانک ضد وسله نه وه ددښمن ټانکونه پرغره ورنیغ شول اوغوښتل یی دمجاهدینو مورچی له منځه یوسی مجاهدینو دغره له سرنه غټی تیږی پری راګیری کړی ددښمن څو بیردیم خراب شول بالاخره قوی پرمختګ وکړ اوچونۍ ته راورسیده په دی جګړی کی ددښمن څلور بیردیم له منځه لاړل او ۱۰ تنه پوځیان يي

ووژلی شول .

مجاهدینودا ځل تر زیاتو مشورو وروسته تصمیم ونیوه چی په سرکی بایدسرحدی تهانی له منځه یوسو بیادعلی خیلو چونی اودنری غونډ محاصره کړو دپریکړو له مخی مجاهدینودغبرګولی په لومړی نیته دشفتلو ځپری تهانه محاصره کړه مخکی تردی چی مجاهدین پر تهانی برید وکړی هغه موټر ته متوجه شول چی دتهانی پر لور را روان ؤ څو تنه مجاهدین مخکی ورغلل موټر یی ودراوه اوپوځیان یی تری راکوز کړل وروسته یی موټر په دی خاطر چی انتقالولی یی نشو وسوزاوه ، مجاهدینو پر تهانی برید وکړ په تهانه کی ددښمن پرتو پوځیانو څو ساعته مقاومت وکړ بالاخره مجاهدین پری ورننوتل اوتهانه یی فتحه کړه په دی جګړه کی ددښمن ۵ تنه ووژل شول اونور یی مجاهدینو دوسلو سره ژوندی ونیول دمجاهدینو له خوا هم دری تنه په شهادت‌ورسیدل.

مجاهدین پرمخ لاړل اودغبرګولی په ٦ یی دجنګلاتو تهانه محاصره کړه (دښمن دمنډه هیردانکشاف پروژی لپاره یوامنیتی ټولی اچولی ؤ) ساعت په ساعت مجاهدینو جنګ پری کاوه اودمحاصری کړی یی تنګوله ، که څه هم چی محاصره څوارلس پنځلس ورځی اوږده شوه خوبالاخره ددښمن پوځیانو تریوی خونړی جګړی وروسته مجاهدینو ته وسله په ځمکه کیښوده په دی جګړی کی ددښمن ۲۲ تنه ووژل شول اونور ټول مجاهدینو ته دوسلو سره تسلیم شول .

دچنګابښ میاشتی په څلورمه مجاهدینو دشهیدانو سرحدی تهانی باندی برید وکړ تهانه څو ورځی محاصره وه اوبه پری قطعه وی ، دمحاصری په پنځمه شپه مجاهدینو خپله حمله لاشدیده کړه بالاخره دښمن تسلیم شو، په دی تهانه کی ددښمن ۳ تنه شهیدان اونور مجاهدینو ژوندی ونیول دمجاهدینو له خوا دوه تنه شهیدان او څلور تنه ټپیان شول ، په دی ځای کی دسرحدی تهانو قوماندان هم ونیول شو هغه له مجاهدینو سره ژمنه وکړه چی نوری سرحدی تهانی به دمقاومت پرته تسلیموی د« ژاندارم سرحدی کنډك » اوګلزار تهانه دچنګابښ په ۲٤ دخبرو له لاری مجاهدینو ته تسلیم شوه اوددښمن ټول افراد دوسلو سره مجاهدینو ژوندی ونیول دپیواړسرحدی تهانی لږ څه مقاومت وکړ خو تر دوه ورځنی جګړی وروسته مجاهدینو فتحه کړه ، دسرحدی تهانو په له منځه وړلو سره مجاهدینو زیات شمیر سپکی اودرنی وسلی لاس ته راوړی خودریاست اوپروژی سامان حالات دبی تفاوتی له وجی یوی بلی خوا شول اوله منځه لاړل .

مجاهدین دوسلو تربرابرولو وروسته پرمخ لاړل ټولو قومونو په ګډه چونی (دسرحدی تهاڼو ترله منځه تلو وروسته یواځې دعلی خیلو چونی اونری کنډو غونډ کی ددښمن قواوی پاتی وی نوری سیمی ازادی وی) محاصره کړه ، هر قوم ته ځېل ځای وسپودل شو دجنوب له خواپری داحمد خیلو اوحسن خیلو دغرب له خوا پری دهاشم خیلو اودشمال شرق له خواپری دعلی خیلو ، لیونیو ، اداخیلو اوپټلو مجاهدینو برید وکړ مجاهدینو پر دښمن اوبه اودخوراکی موادو دراوړلو لاری بندی کړی وی اودښمن ټول اکمالات دالوتکو په ذریعه کول جګړه روانه وه او ورځ په ورځ پر دښمن دمحاصری کړی تنګیده دښمن چی وپوهید دعلی خیلو چونی هم دمجاهدینو په لاس دفتحه کیدو په حال کی ده دګردیز ښخه یی یوه قوه دمحاصری دماتولو په خاطر راولیږله کله چی قوه دکرکین سیمی ته راورسیده مجاهدینو برید پری وکړ څو ساعته سخته جګړه وشوه ددښمن څو ګاډی او ټانکونه وسوزیدل څو تنه پوځیان یی ووژلی شول خو قوه چی الوتکو مخکی له مخکی بمبارد ورته کاوه راتیره شوه خودحسن خیلو مجاهدینو دنورو مجاهدینو په ملاتړ دپښتی په سیمه کی غښتی غښتی ونی ورته را اره کړی وی اوسړك یی ورته بند کړی و کله چی قوه دی سیمی ته راورسیده مجاهدینو برید پری وکړ جګړی څو ساعته دوام وکړ مجاهدینو ددښمن څو ټانکونه له منځه یو وړل یو زرهپوش یی سره د ۳۰ تنو پوځیانو روغ رمټ ونیوه ، په دی جګړه کی ۹ تنه مجاهدین شهیدان شول ، قوه کله چی ماته ګوډه چونی ته راورسیده ، دلته څو ورځی پاتی شوه دچونی تر اکمال وروسته یی دګیوی په لور حرکت وکړ که څه هم چی منډه هیر کی مجاهدینو برید پری وکړ خو قوه تیره شوه ، قوه دپیواړ په سرحدی تهاڼه کی یوه شپه پاتی شوه سبا ماښام مجاهدینو برید پری وکړ پنځه زرهپوش اوڅو ګاډی تری وسوزول یو زرهپوش مجاهدینو ددوو تنو روسی مشاورینو سره ونیوه وروسته یی روسان ووژل اوزرهپوش یی له منځه یو وړ ، قوی چی دی سرحدی تهاڼو دبیرته فعالولو نیت یی درلود په تنګه شوه اوبیرته علی خیلو ته اوله هغه ځای څخه ګردیز ته ستنه شوه .

دعلی خیلو دچونی قوماندان وژل کیدل :

دعلی خیلو دچونی محاصری ماتولو په خاطر له ګردیز ښخه ددښمن څو مجهزی قوی راغلی اودمجاهدینو پر مورچو یی تعرضونه وکړل ، یو ځل یی د۱۳۵۹ کال دثور په میاشت کی دعلی خیلو دچونی تر اکمال وروسته دګیوی په لور تعرضونه وکړل اوغوښتل یی سرحدی تهاڼی بیرته فعالی کړی مجاهدینو ددوی دتعرض مقابله وکړه څلور ټانکونه مجاهدینو تری والوزول زیات ګاډی تری وسوزول اوقوه بیرته ستنه شوه بل ځل یی دغبرګولی په میاشت کی دګیوی اوسرای په لور تعرض وکړ که څه هم چی مجاهدینو مقابله ورسره وکړه خو دښمن سرای بیا ونیوه فعال یی کړ او مستحکمی پوستی واچولی ، تردی وروسته هم دسرای چونی او نری کنډو غونډ محاصری دوام درلود اوپه پرله پسی توګه به جنګونه پری کیدل او کله ناکله به له ګردیز ښخه دی سیمو ته

اکمالاتی قطارونه راتلل چی دمجاهدینو تر حملو وروسته به مات ګوډ بیرته ستنیدل خود ۱۳٦٠ کال دوری او ثور په میاشت کی چی کومی قواوی سیمی ته راغلی په کامله توګه له منځه لاړی ، دهغو جریان په دی توګه دی :

د ۱۳٦٠ کال دوری په ۲۲ نیټه له ګردیز څخه دعلی خیلو چونی ته یو اکمالاتی قوه راغله ، قوی تر اکمالاتو وروسته بیرته دګردیز په لور حرکت وکړ مجاهدینو دحسن خیلو په سیمه کی مخه ورته ونیوله سخته جګړه پیل شوه او ترڅو ساعته جګړی وروسته ددښمن څه ټانکونه ، موټر او افراد له منځه لاړل اوڅه یی چی پاتی و هغه مجاهدینو ژوندی ونیول اوپه دی توګه ټوله قوه له منځه لاړه .

ددی قوي ترله منځه تلو وروسته دثور په ٥ یوی بلی قوی دګردیز څخه دعلی خیلو دچونی په لوری حرکت راوکړ قوه کله چی دلږی علاقه داری ته راورسیده ، مجاهدینو حمله پری وکړه ، جګړی دوام وکړ اوقوه همدلته ایساره کړای شوه په څو ساعتونو کی ددښمن زیات ټانکونه ګاډی اوپوځیان له منځه لاړل ، نږدی وه چی قواٌ په کامله توګه ختمه کړای شی خو چی دعلی خیلو دچونی نه ورته دمرستی یوه قوه راورسیده اودبلی لوری پرمجاهدینو برید وکړ جګړی څو ساعته دوام وکړاو بالاخره دښمن بریالی شو چی دلږی علاقه داری څخه قوه راتیره کړی خو کله چی دحسن خیلو سیمی ته راورسیده مجاهدینو بیا برید پری وکړ ، په دی ځای کی هم سخته جګړه وشوه بالاخره مجاهدین بریالی شول دقوی څه ټانکونه ، ګاډی اوافراد له منځه لاړل اوڅه یی چی پاتی وه (دیوه موټر پرته چی یو روسی سلا کار په کی وه چونی ته ورسید اوبس) ټول مجاهدینو ونیول اودعلی خیلو دچونی قوماندان ووژل شو ، په دی سوبه کی زیات شمیر هاوان ، توپونه ، کلاشینکوفونه ، ګاډی او نور مهمات دمجاهدینو لاس ته ورغلل ، وروسته مجاهدینو ته جرګی راغلی اودقوماندان دجسد غوښتنه یی وکړه اومجاهدینو دهغه جسد وروسپاره تردی وروسته دوری په میاشت کی هم علی خیلو ته له ګردیز څخه یوه اکمالاتی قطار راغی چی دبیرته ستنیدو په وخت مجاهدینو دکرکین په سیمه کی برید پری وکړ اودوه ټانکونه ، یوولس ګاډی تری وسوځول .

دلړم په میاشت کی یوه بله قوه هم له ګردیز څخه دعلی خیلو چونی داکمال په خاطر راووتله ، چی دتنګ په سیمه کی مجاهدینو برید پری وکړ دوه ټانکه اویو موټر یی تری وسوزاوه ، ددی سربیره په همدی کال کی دوه ځلی ګوډاګی رژیم جرګی ځاځیو ته راولیږلی ترڅو له دی لاری دخلکو دپاڅون مخه ونیسی که څه هم چی ځنی ګوډاګیان یی دځان لپاره پیدا کړل خو ونه توانید چی مقاومت کمزوری کړی ، مقاومت ورځ په ورځ ریښی ځغلولی اوپیاوړی کیده .

ماخذونه :

۱- پکتیا دجهاد په څپو کی - ګل زرک ځدران

۲- ملتان دځاځیو دځدرانو کلی اوسیدونکی چی دځاځیو په لومړی پاڅونونو کی برخه درلوده

۳ - ګلاب جان دسپین غری داحمد خیلو کلی اوسیدونکی چی دځاځیو په لومړی پاڅونونو کی برخه درلوده

٤- جکتورن زرمیر خان دالحاج حقانی دژوری غونډ رئیس ارکان چی دځاځیو جګړو کې یی عمده نقش درلود .

ابدي ژوند

شهيد معلم محمد موسى

شهيد معلم محمد موسى دميرزى محمد عارف زوى دبغلان ولايت نهرين ولسوالى دسرينگ ځدرانو كلى كى زيږيدلى اوپه قوم ځدران ؤ نوموړى په افغانستان كى دثور كودتا درامنځته كيدو سره سم دهجرت لاره خپله كړى اودهجرت وروسته يى دكمونستانو په مقابل كى په وسله وال جهاد پيل كړى اودجهاد زياته موده يى دج ، ج محاذ په سنگرونو اوادارى چارو كى تيره كړى .

بالاخره دغه نوميالى مجاهد د ۱۳۷۰ په اواخرو كى دميرانشاه دماچسو كمپ سره نږدى په يوه ترافيكى پيښه كى دشهادت لوړمقام ته ورسيد .

انالله وانا اليه راجعون

شهيد سراج الدين

شهيد سراج الدين دجمعه الدين زوى دپكتيا ولايت نوزى ولسوالى دديخيلو دستكى په كلى كى زيږيدلى اوپه قوم ځدران و.

نوموړى دخپل وسله وال جهاد په نوران كى ددين اووطن دښمنانو ته زيات ځانى او مالى تاوانونه وراړولى.

بالاخره دغه زړور مجاهد په گرديز باندى دعملياتو په وخت كى په ۱۳۷۰/۷/۸ نيټه داغزنى په پوسته ددښمن سره په يوه مخامخ جگړه كى دشهادت لوړمقام ته ورسيد .

انالله وانا اليه راجعون

شهيد كتلى خان

شهيد كتلى خان دحاجى ذاكى خان زوى دپكتيا ولايت دوزى ولسوالى ددريخيلو دستكى په كلى كى زيږيدلى اوپه قوم ځدران ؤ .

نوموړى په افغانستان كى دثور كودتا سره جوخت دكمونستانو په مقابل كى په وسله وال جهاد پيل كړى اودجهاد په دوران كى ددين اووطن دښمنانو ته زيات ځانى او مالى تاوانونه وراړولى .

بالاخره دغه نوميالى مجاهد دگرديز په عملياتو په ۱۳۷۰/۷/۸ نيټه داغزنى په پوسته ددښمن سره په مخامخ جگړه كى دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

انالله وانا اليه راجعون

شهید نور الدین

شهید نور الدین دقوماندان گلاب کوچی زوی دلوگر ولایت په پل علم کی زیږیدلی ؤ .

نوموړی په ډیر کم سن کی دکمونستانو په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کی یی په ډیرو عملیاتو کی ددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی .

بالاخره دغه زړور مجاهد دگردیز عملیاتوکی د۱۲/۷/۱۳۷۰ نیټه دبنوزیو قرارگاه دفتحی وروسته دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانااليه راجعون

شهید گل مت خان

شهید گل مت خان دمجان زوی دپکتیا ولایت دخوست لویی ولسوالی دویلگی په کلی کی زیږیدلی ؤ .

نوموړی دغرغښت په لیسه کی خپلی زده کړی پای ته رسولی وی او۷ کاله دپکتیا ولایت مربوط ښوونځیو کی دسرکاتب په حیث وظیفه اجرا کړی اودثور دکرغیړنی کودتا په کیدو سره یی دمحلد دولت وظیفه ترک کړی اودکمونستانو په مقابل کی یی په وسله وال جهاد پیل کړی دجهاد په دوران کی کمونستانو ته دزیاتو ځانی او مالی تاوانونو وراړولو وروسته بالاخره په ۱۳۵۹ هـ ش کال کی دځاځیو په ولسوالی دعملیاتو په وخت کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا اليه راجعون

شهید شاه محمود

شهید شاه محمود دممیز زوی دبغلان ولایت دنهرین ولسوالی دکهنه قلعه په کلی کی زیږیدلی اوپه قوم ځدران و .

نوموړی په ۱۳۶۰ هـ ش کال دکمونستانو په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی اودخپل لس کلن جهاد په جریان کی یی ددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی .

دقوماندان الحاج خلیل الرحمن دزغره وال غونډ دغه تکړه او نومیالی مجاهد د ۱۳۷۰ هـ ش کال دخوست دفتحی په جگړه کی فارم باغ ته نږدی ددښمن سره په یوه مخامخ نښته کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا اليه راجعون

شهید قدیم

شهید قدیم دملك غونډي زوي دننگرهارولایت دخوگیانیوولسوالي دگرخیلوپه کلي کي زیږیدلي ؤ.

نوموړي دپکتیا ولایت مربوط دابوجندل په غونډ کي وسله وال جهاد کاوه او دجهاد په دوران کي يي ددين او وطن دښمنانو ته زيات ځاني او مالي تاوانونه وراړولي وو

بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ۱۳۷۰/۱/٤ هـ ش نيټه دخوست هوايي ډگر کي دکمونستانو سره په يوه مخامخ جگړه کي دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(انالله وانا اليه راجعون)

شهید عاصم گل

شهید طالب العلم عاصم گل دحاجي محمد زوي دپکتیا ولایت دسوروي کاني اوسيدونکي ؤ.

نوموړي دثور کرغيړني کودتا تربرياليتوب وروسته يي وسله وال جهاد پيل کړي دجهاد په دوران کي يي زيات افتخارات گټلي .

بالاخره دغه نوميالي مجاهد د(۱۳٦۸هـ ش) کال دجدي په (۱۵) نيټه دشيخ امير په پوستو کي دمخامخ نښتي په ترڅ کي په شهادت ورسيد .

(انالله وانا اليه راجعون)

شهید سید احمد

شهید سید احمد دسلطان محمد زوي دلوگر ولايت دبرکي برک ولسوالي کي زيږيدلي او په قوم کياني و .

نوموړي په افغانستان کي دثور کودتا دکيدو سره جوخت په وسله وال جهاد پيل کړي او په ۱۳٦۹/۲/۱۸هـ ش نيټه دحضرت عمر فاروق (رض) په غونډ کي شامل شوي ، دجهاد په دوران کي يي زيات افتخارات گټلي .

بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ۱۳۷۰/٦/۱هـ ش نيټه دزرمت په ولسوالي کي ددښمن دابوس توپ په مرمي ولگيد او دشهادت لوړمقام ته ورسيد .

(انالله وانا اليه راجعون)

شهيد ملنگ جان

شهيد ملنگ جان دملك تورخان زوي دننگرهار ولايت دکوټ ولسوالي دکوکي خيلو اوسيدونکي او په قوم خوگياني ؤ .

نوموړي په ۱۳٦۹/۱۱/۱۵هـ ش نيټه دابو جندل په غونډ کي په وسله وال جهاد پيل کړي او دجهاد په دوران کي يي ددين او وطن دښمنانو ته زيان ځاني او مالي تاوانونه واړولي .

بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ۱۳۷۰/۱/۵هـ ش نيټه دتپه دوازده پوسته باندي دعملياتو په وخت کي ددښمن دماين دچاوديدو له امله دشهادت لوړمقام ته ورسيد

.(اناالله وانا اليه راجعون)

شهيد طالب العلم محب الله جان

شهيد محب الله جان دعبدالجميل زوي په ۱۳۵۰ هـ ش کال دلوگر ولايت دمحمد اغه ولسوالي ددوستك په کلي کي زيږيدلي او په قوم حسين خيل ؤ .

نوموړي په ۱۳۵۹ هـ ش کال دخپلي کورني سره پاکستان ته مهاجر شوي او دهجرت وروسته يي ديني زده کړي پيل کړي او په بيلا بيلو مدرسو کي يي زده کړي کړي دي دځواني موسم ته رسيدو سره سم يي د ديني زده کړي ترڅنگ دکمونستانو په مقابل کي وسله وال جهاد هم کاوه او دجهادپه دوران کي يي ددين او وطن دښمنانو ته زيات ځاني اومالي تاوانونه واړولي .

بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ۱۳۷۰/۷/۱۵هـ ش نيټه دگرديز په عملياتو کي ددښمن دبمبارد له امله دشهادت لوړمقام ته ورسيد

.(اناالله وانا اليه راجعون)

شهيد مراد گل

شهيدمراد گل داماان گل زوي په ۱۳٤٥هـ ش کال دپکتيا ولايت دځاځيو قوم مربوط د لسنگي په کلي کي زيږيدلي ؤ .

نوموړي زړور مجاهد دابوجندل په غونډ کي وسله وال جهاد کاوه او په ډيرو عملياتو کي يي ددين او وطن دښمنانو ته زيات ځاني او مالي تاوانونه واړولي وو.

بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ۱۳٦۹/۲/۵هـ ش نيټه دمليزو په تاپوگانو کي دشهادت لوړمقام ته ورسيد .

(اناالله وانا اليه راجعون)



په خوست کي ديوه پوهنتون تاسيسدل

دخوست دبياودانولو دپروګرامونو په لړکي دالحاج مولوي جلال الدين حقاني دهڅو اوابتکار په نتيجه کي ديوه پوهنتون بنسټ کيښودل شو په نظر کي ده په دي پوهنتون کي چي دشرعياتو اوديني علومو دزده کړو سربيره دطب ، انجنيري ، اجتماعي علومو او ... پوهنځي شامل دي دافغانستان پرته دنورو اسلامي هيوادونو زده کوونکي برخه واخيستلي شي دپوهنتون داباد ولو کار پيل شوي او هيله ده چي ډير زر به سرته ورسيږي